# تسخیر د کائنات




رازونه دَ اجزا دَ کائنات راته موسکی دی

**امیر حمزه شنواری**

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جمله حقوق محفوظ

# تسخیر

# کائنات

چه مقدار زما په نوم وه

رازونه د اجزاء د کائنات راته مسکي دي

حمزه شنواري

قیمت شپږ روپۍ

(حمیدیه پریس پښاور)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# تړون

دَ ګران عزیز عبدالصادق کانسي مرحوم په نوم چه
دَ قام او ملت د پاره قربانی شو

حمزه شنواري

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ورومبئ باب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# (۱)

# کائینات

کائینات څۀ شئ دئ؟ داشئ چې د ټولو نه اوّل هم
د غور موضوع اوګرځېدو۔ کوم وخت چې مونږ په ژور
نظر د کائینات ظاهر ته کتل شو۔ زمونږ نظر په مختلفو
اضدادو پرېوزي۔ چې په ظاهر د یو بل مخالف دي
خو په حقیقت کښ دا ټول د یو بل مخالف نه بلکه د
عاشقانو او مینو په شان د یو بل تعاقب کوي۔ هغوي
د یو بل سره د شاملیدو نه پس د ژوند په ظاهر ولو
کښ ا هم ردل پیدا کوي۔ د دے حقیقت ثبوت دا ویره کائینات
دئ۔ چې هغه و شیرازي ي د اضدادو په بنیاد ایښے شوے
ده۔ او په آخر کښ د کائینات د ټولو نه زیات ترقي یافته
وجود د انسان وجود دئ۔ چې هغه هم د اضدادو مجموعه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دئ- خو دا اضداد یو عالم اَو کامل ذات څرګ په دا سے تناسب دَ یو بل سره ګډ کړی دی- چه دَ اختلاف اَو تصادم په ځائے یو تربله دَ اتحاد اَو تعمیر سبب شوی دی- اَوُ که دَ کائنات دا مختلف شیان دَ ترکیب او تضاد دَ دنیا نه بیخی آزاد په تصور کیږے راوستلی شی- نو بیدے کیږے هم شک نشته چه یوازی "قوت" یا "توانائی" به پاتے شی- اَوُ نن دَ سائنس علماءُ هم دے حقیقت ته غاړه ایښے دَه- چه ماده په اصل کښے دَ "قوت" اَوُ توانائی نه سوا هیڅ حقیقت نهٔ لری- دد ے حقیقت اظهار دَ مذهب دَ یو هانو له خوا په نورو الفاظو کښے پر له پسے شوی دیٔ- خو مادیینو دَ هغوئ دَ دا ئے اَوُ خیال همیشه مخالفت کړیدے- دَ مذهبی خلقو عقیده دا وه- چه کائنات دَ صفاتو دَ اجتماع نه سوا بل هیڅ څیز نه دے- کائنات دَ کوم مستقل ذات لرونکی وجود نوم نه دے- بلکه هم دَ دغو صفاتو مجموعه دَه- او دا خو ظاهره دَه چه هیڅ صفت دَ ذات نه بغیر قائم نشی پاتے کیدے- دے دپاره هغه ټول په یو ذات قائم دی- اَوُ هغه ذات دیٔ دَ لوئے خدائی ذات دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لیکن د دې په خلاف مادیینو کائنات اَو د هغه مادي علت
قدیم اَو غیر مخلوق منلو. خو آخر انسان دومره ذهني ترقي
اُوکړه. چه د مادے اَو د هغې حقیقت اَو اصلیت په حقله
د مذهب د نظریې سره متفق شو. که څه هم دے اتحاد تر تر
حقیقي اتحاد نه شو ویلې. چه وضاحت ئې د لته ضروري نه دے.
صرف دومره کافي ګڼو چه کائنات اَو د هغه دیوه د قوت
یا توانائۍ د لطیف حالت نه درجه په درجه ښکته راغلي دي.
اَو کثیف صورت ئې اختیار کړے دے. اَو د کائنات د دے
مسلسل اَو پرله پسې تغیّر نه صفا صفا معلومیږي چه ماده
د خپل لطافت په لور روانه ده. اَو هم د غه پرله پسې تغیّر
موږ ته دا شعور راکوي چه کائنات په خپله هم مستقل
وجود نه لري. هغه د یو کامل اَو عالم ذات په اراده ظاهر
شوے دے. بیا د کائنات په دے پرله پسې بدلیدو اَو متغیّر
کیدو کښ هم چه کوم اعتدال اَو توازن ظاهر ښکاري هغه
ثبوت دې د دے خبرے چه کائنات د څه مقصد اَو غایت
د لاندې د وجود په لباس کښ څرګند کړے شوے دے.

حکیم الامت علامه اقبال مرحوم لیکي چه "د عالم
فطرت د مشاهدے نه داسے معلومیږي. چه د فطرت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کائنات

په اعمالو او افعالو کښې کومه پېش بیني او د غرض او غایت او توافق او تطابق کوم آثار ښکاري نو مونږ پوه شو. چه د دې نه دیوې دانا او عالي هستۍ د وجود ثبوت پیدا کیږي. چه د علم او قدرت ئې هیڅ انتها نشته. (تشکیل جدید الٰهیات اسلامیه خطبه دوم) نو معلومه شوه چه دا تغیر دیو غایت د لاندې د نړۍ د شیانو د ترتیب تعمیر او تخریب عمل دے.

مونږ چه کائنات په کوم دول محسوس کوو. د هغې دوه قسمونه دي. یو ته زمان او بل ته مکان وایو. بیا په دې دواړو کښې چه کوم شیان زمونږ عملي او ذهني دنیا سره تعلق لري. هغه هم دوه دي. کوم چه د دې زمان او مکان مظاهر دي. چه یو ته شعور او دوېم ته ماده وایو. فلاسفه صوفیه او د سائنس پوهان همیشه د دې حقیقت معترف پاتې شوي دي چه څرنګه د کائنات آغاز دیوې نقطې نه شوے دے. د دې د پاره د کائنات آخري او بنیادي حقیقت هم اکی یو بکار دے. هغوئ د همیشه راسې دا کوشش کړیے او اوس هم په دې کوشش کښې بوخت دي. چه شعور او ماده دواړه یو شے ثابت کړي. ډیر فلاسفه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَو صوفیه دَدے خیال پہ تائید کښ دی۔ چه حقیقی څیز شعور،
ژوند یا روح دے۔ اَوْ ماده دَ دے شعور، ژوند یا
روح یَو بدل شوے خارجي او ظاهري صورت دے۔ لیکن
دَ سائینس اَوْ طبیعاتو دَ پوهانو رائے داده۔ چه حقیقی وجود
صرف ماده دَه۔ اَوْ شعور دَ مادے یَو ترقی یافته صورت دے۔
پہ سائینسی علماءُ کښ بائیل چه پہ سنه ۱۶۹۱ء کښ وفات شوی
دی۔ وائی چه "که چرے حرکت کوونکے ماده پہ خپل حال
آزاده پریښودې شي۔ نو دا به څرنګه ممکن وی۔ چه دَ
هغے نه دَ حیواناتو اَوْ انسانانو مکمل اجسام اَوْ حیرانوونکی
موجودات اَوْ دَ دے نه هم زیات حیرانوونکی شیان دَ
مادے اجزاء کوم چه دَ ژوند دَ حیواناتو دَ تخم حیثیت
لری پیدا شي۔"

نو هم دَ دے ذهني کش مکش نه دَ ځان خلاصولو
دپاره بائیل پہ قدرت کښ دَ یَو روح یا خالق دَ هستی وجود
تسلیمولو۔

دَ سائینس لوئے عالم لارډ کیلون چه پہ سنه ۱۹۰۷ء کښ
ئے وفات موندلے دے۔ پہ کائینات کښ دَ یَو تخلیقي رهنما
قوت قائل ده۔ نو هم دغه شان دَ اتلی دَوه فلاسفرن کوم چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جنتلے وائی۔ چہ" داپہ هیڅ ډول ممکنه نه ده۔ چہ انسان د کائینا
پہ راز پوهـ شی۔ ترڅو چہ هغه بنیادی څیز شعور اُونہ
گنی۔ کائینات د روح یا شعور نہ سِوا نور هیڅ څیز نه دے؛
ځکہ نو د نړه پہ دے موجوده دور کښ هم د غه فلسفه
صحیح گنڼلے کیږی۔ اَو څنگہ چہ موږ وَیلی دی۔ دَ دے
زمانے سائیسی تحقیق دَ مادے قدامت ہیخی باطل ثابت
کړے دے۔ اَو دا حقیقت ئی څرگند کړے دے چہ ماده مخلوق ده۔
ډاکټر جوډ لیکی۔ چہ" پہ نوی دور کښ تحقیق شوے
ماده یَو داسے بے حقیقته څیز دے چہ هیڅ رے لاس تہ
نشی داتلے۔ دا دَ "وخت" اَو "فاصلے" یَو مرکب تحدید دے۔
دَ برینښنا دَ چپے یَو چال یا دَ امکان یوه چپه ده۔ چہ پہ
یَوه لحظه کښ دَ انسان دَ سترگو نہ تیره شی۔ اَو فنا شی۔
څنے وخت هغه (ماده) دَ مادے پہ ځائے یَو خپور شوے
اَو وړ شوے شعور معلومیږی۔ نو کوم وخت چہ دَ
مادے فنا ثابته شوه۔ نو ادس سائینسی پوهان مجبور شول
چہ دَ کائینات بُنیاد پہ شعور تسلیم کړی؛
۱ ایډنگټن، جینز، وهایټ هیډ، آئین سټائین
سروډنگر اَو پینک، دا ټول پہ دے قائیل دی۔ چہ دَ

کائنات اصل اؤ بنیادی حقیقت شعور دے۔ په سنه۱۹۳۱ء کښې چینک په آبزرور اخبار کښې خپل خیال دا سے څرګند کړے ؤ۔ "زهٔ شعور یو بنیادی حقیقت ګڼم۔ اؤ ماده د شعور نتیجه ګڼم۔ مونږ د شعور نه وړاندے نهٔ شو تیریدے۔ مونږ چه د کوم څیز ذکر کوؤ۔ اؤ یا داچه کوم څیز موجود ګڼو د هغه هستی په شعور قایمه ده۔"

آئین سټائن وائی چه "په کائنات باندے د شعور حکومت دے۔ که څهٔ هم دا شعور د دا اضیاتو د کوم یو ماهر شعور اؤ ګنلی شی۔ اؤ یا د کوم شاعر اؤ مصوّر۔ هم دغه هغه حقیقت دے۔ چه هستی یو معنیٰ نه ډک څیز ثابتوی۔ زمونږ د هرے ورځے په ژوند کښې ښکلا او رونق پیدا کوی زمونږ امید ونه قایم ساتی اؤ زړه په کښې پیدا کوی۔ اؤ هر کله چه علم ناکام اؤ بے دسه ښکاری۔ نو هم دغه شعور څیز زمونږ د یقین سره مرستیال شی۔ او زمونږ په طاقت کښې تینګارا و پختګی پیدا کړی۔

د سر جیمز جینز استدلال دا دے چه "ماده په ټولو ریاضیاتی نسبتونو کښې ظاهر وے شی۔ د ریاضیاتو دخل چه څرنګه د مالے په ترکیب اؤ هیئت کښې ښکاره دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغه شان د فلکی اجرامو په نظام کښې هم موجود دے. د ریاضۍ اصول چه څرنګه په ټولو مادی اشیا نو حاوی دی بالکل هم دغه شان د کائینات په لوے لوے برخو هم حاوی دے. خو د ریاضۍ کوم علم چه دا وخت موږ څخه دے. نو دا د کائینات د مطالعے په نتیجه کښې نه بلکه موږ د خپل استدلال په نتیجه کښې دے"

د نوی دَور دانشورانو د دلیلونو معلومه شوه چه د کائینات حقیقت د شعور نه بغیر هیڅ نه دے. چه د دے دوئم وجدانی ثبوت دا هم دے چه په ویښه او ودهٔ په هر حال کښې زموږ شعور بیدار وی. او په هیڅ وخت کښې هم د خپل کار نه غافل نه وی. د هغه د پاسه چه د کائینات کوم عکس پریوزی په هغه کښې فکر کوی. او په خپله هم په څه نه څه فکر کښې همیشه مشغول وی. د دے نه نیوانے دا ثابتیږی چه د انسانی وجود اصل او حقیقت هم دغه شعور یا روح دے. بلکه د کارل مارکس د دے نظریئے تردید هم کیږی. چه ټول افکار او نظریات د اقتصادی حالاتو پیداوار دی. او د لطیفے مادے کوم عکس چه په کثیفه ماده پریوزی هم هغه د فکر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صورت پیدا کوی۔ اَؤ حال دا چه دَ مادیینو دَ عقیدے په موجب دَ مادے په اصل کښے شعور یا فکر هیڅ وجود نه لری۔ بلکه په ارتقا کښے بتدریج په خپله پیدا شی۔ گویا که په اصل کښې خو دَ یو څیز له سره وجود نشته خو په څو کښې پیدا شی!!

دَ دے نه علاوه چه تر اوسه دَ سائنس په تحقیقاتو کښې په مجموعی ډول دَ کومو عناصرو درک معلوم شوے دے دا ټول دَ یو خاص ترکیب دَ لاندے دَ انسانی وجود په بنیاد کښې شامل دی۔ اَؤ هم دغه عناصر دی۔ چه دَ هغوی دَ اتحاد نه کائنات څرګند شوے دے۔ دَ دے نه دا هم ثابتیږی چه کائنات دَ انسانی حقیقت نه علاوه نور هیڅ شی نه دے۔ اَؤ هم دے انسانی حقیقت یا دَ انسانیت خاصے چه مونږ ورته روح یا شعور وایو دَ کائنات په صورت کښې نزول کړے دے چه بیان ئے مخکښې راغے۔

دَ دے نزول مقصد دَ انسانی وجود اظهار دے۔ څکه نو ډیر اکثر درویش لیکی چه دَ انسان په جسم کښې یو داسے مقصد اَؤ مدعا کار کوی چه دَ هغه شکل اَؤ صورت متعین کوی۔ یعنی روح۔"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پروفیسر هالډین وائي: "د حیاتیاتو په ټولو ماهرانو کښې
یو هم د دې خبرې قایل نه دې. چه ژوند د مادې
د یو خاص ترکیب نوم دې"

دې دانشور د ډیرو تجربو نه پس دا حقیقت ثبوت ته
رسولے دے. او دا نظریه ئې په اینټي لیچي موسوم کړے
ده. چه مطلب ئې دا دې. چه دا ژوند د یو تمامکلي تجویز
د لاندې ظاهریږي. د دې مدعا دا ده چه ژوند یو
داسې شے دے. چه د مقصدیت حامل دے. او هر کله
چه په یو څیز کښ ظاهریږي نو د هغه څیز شکل او
صورت د خپلے مدعا سره سم متعین کوي"

اوس چه دا خبره صفا شوه. چه د کائینات حقیقت روح
شعور یا ژوند دے. نو هم دا وجه ده. چه موږ
په کائینات کښ هر چرې ته د قوانینو د عمل مشاهده
کوو. نو چه کوم وخت موږ د شعور د موجودیت په
حقله مطمئن شو. نو معلومه شوه چه په کائینات کښ
د قوانینو مظاهره کیږي هم د دې د پاره چه د هغو
بنیاد په شعور قایم دے. ځکه چه د یو غیر مشعر وجود
نه د څه قانون ظاهریدل هیڅ امکان نه لري. او دا

یوازے دغے دپاره چه قانون ارو مرو مقصد اؤ غایت لري اؤ د مقصد اؤ د غایت تعلق صرف د شعور اؤ یوازے د شعور سره کیدے شي۔

دا توانین هیچرے نشي بدلیدے۔ اؤ کچرے پهٔ هغو کښ د څهٔ تغیر اؤ تبدل وے۔ نو انسان به هیچرے د څهٔ مقصد یا غایت لټون اؤ تصور نشو کولے۔

اوس زمونږ د دے ټولو تصریحاتو خلاصه دا ده۔ چه کائنات د زمان اؤ مکان نه عبارت دے۔ بیا د زمان اؤ مکان په اجتماعیت کښ مونږ د دوؤ شیانو مشاهده کوؤ۔ چه هغو ته شعور او ماده وائي۔ اؤ هم د دغو نه څه توانین ظاهریږي چه په هغو کښ تغیر اؤ تبدل نهٔ راځي۔ ځکه چه دا توانین د شعور له خوا متعین کیږي۔ د یو عالم اؤ کامل ذات د ارادے مظاهر دي۔ چه په هغو کښ د هیڅ غلطۍ اؤ نسیان امکان نشته۔ گویا د کائنات مرکزي یا محوري نقطه هم هغه یو ذات دے۔ چه هغه ته "روند" "روح" یا شعور ویلې کیږي۔

د دے نه دا هم معلومه شوه چه د مادے اصل د قوت اؤ توانائۍ نه سوا نور هیڅ نه دے۔ کوم چه د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ذات روح یا شعور ته صفت منی۔

اوس دا سوال پیدا کیږی چه کوم وخت مادّه د ابعاد او کثافت نه مائله نه وه۔ نو هغه وخت د "مکان" هم څه وجود نه وو۔ او چه مکان وجود نه وو۔ نو د زمان وجود هم ممکن نشی کیدے۔ ځکه چه د زمان ادراک او تصور خو د کائنات د شیانو د پوره لپاره تغیر او حرکت نه کیږی او د دے نه صفا معلومیږی چه زمان یو اضافی شے دے۔ نو ځکه کوم وخت چه مکان نه وو۔ زمان هم نه وو۔

لیکن مونږ د دے خیال سره اتفاق نشو کولے ځکه چه د ترکیب د عالم او پس د حرکت د مشاهده کولو نه اګاهو هم باید چه څه نه څه موجود وی۔ سره د دے چه مادیین هغه د مادے د یو لطیف حالت نه عبارت ګڼی۔ خو دیر مادیین داسے هم شته چه دے څیز ته "فکر" "عین" یا روح وائی۔ لکه هیګل او د هغه ملګری لیکن زمونږ په رائے کښ چه کوم څیز د هر څه نه اګاهو موجود پکار دے۔ هغه ته وائے "ژوند" دے۔ خو د لته به دومره عرض کول ضروری وی چه ژوند د صفتی اصطلاح نه دیت اوګڼلی شی۔

یعنی هغه ذات چه عین ژوند دے. نو هم دغه "ژوند" چه کوم وخت دَ ذات په حیثیت اُوګڼلی شی. نو دِ یَو ژوندی ذات وجدان حاصل شی. علاّمه اقبال لیکی چه "زمونږ په نزد دَ بوګسان غلطی داده چه هغه زمان خالص دَ خودی (انا) نه آګاهو اَؤ متقدم اُوګڼلو. اَؤ حال داچه دَ زمانِ خالص اسناد دَ خودی یا نفس نه بغیر هیڅ وکیدَے نشی، ځکه چه که محضِ مکان وی. اَؤ که محضِ زمان په هغو کښ دا صلاحیت نشته چه اشیاءُ یا حوادثو کثرت ته اجازه ورکړی. دا یو ازے یو دایم اَؤ قایم "اَنا" په خپل ذات کښ دَ بصیرت عمل دے. کوم چه دَ استلام په کثرت یعنی دَ آناتِ لا متناهیه دا سلسله کومه چه په هغو آنات کښ مونږ تقسیم کړو په یَو نامی ترکیب کښ را ولی اَؤ بیا ئې دَ یَو کل په صورت کښ بدلوی. (خطبه دوم)

په آسانو الفاظو کښ دَ علامه مرحوم مطلب دادے چه ذات پرله پسے دَ خپل موجودیت احساس کوی. وَ دَ دے نه چه کومے لمحے یا آنات پیدا کیږی دَ دے

نه یو ه روانه سلسله پیدا کیږی اَؤ بیا دَ دے نه یو
کُل جوړ کړی. اَؤ دغه زمان دے.

نو کوم وخت چه انسان دَ هغه ژوندی ذات ادراک
اَؤ احساس اُوکړی. نو دَ دے سره هغه ته په هغه
ذات کښې دَ صفت دَ موجودګۍ وجدان اَؤ ادراک
هم حاصل شی. ځکه چه هیڅ ذات دَ صفت نه بغیر
نه وی. خو دَ دے دا مطلب نه دے چه دَ صفت نه
بغیر هډو دَ ذات وجود ناقص پاتے شی. اَؤ هم په
صفت باندے دَ ذات تکمیل منحصر دے. کهٔ چرے حقیقت
هم دا وی نو پکار وَه چه صفت دَ ذات نه اَګاهو
موجود وی. ځکه چه دَ معلول نه مخکښې دَ علت
وجود ضروری دے. لیکن دَ ذات په حقله دا خبره
ممکنه نه ده. حقیقت دا دے چه دَ صفت اظهار اَؤ
قیام دَ ذات په اراده موقوف دے. صفت دَ ذات نه
جُدا نه خو په تصور کښې راتلی شی اَؤ نه دَ هغه مستقل
وجود څه امکان شته. لکه څرنګه چه موږ دَ جسم نه بغیر
دَ حرکت هیڅ وجود نشو محسوس کولے.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حُکم نو په ذات اَوُصفت دواړوکښې ذات حقيقي
اَوُ صفت اضافي حيثيت لري. حُکه چه په لغت کښې
هم صفت غيرمستقل معنیٰ نه وائی. دَ هغه وجود اَوُ
عدم- ښود اَوُ فنا دَ ذات په وجود اَوُ اراده انحصار
لري. دے ديا ره بايد موږ غور اَوُکړو چه دَ کائنات
دَ ظهور نه اوّل صرف "حيات" يا مطلق ذات موجود وُو
نو بيا هلته دَ زمان او مکان کُوم حيثيت وُو؟ نو
معلومه دِی چه که موږ ذات مکان اَوُصفت زمان
فرض کړو. بيا هم دا دواړه جدا جدا په تصور کښې
نشي راتلي. اَوُ که دواړه دَ دے نه اپوته فرض کړو
نو بيا هم خبره هم هلته اُودسي اَوُ ختمه شي خو حقيقت
دا دَے. چه ذات دَ زمان اَوُصفت دَ مکان حيثيت
لري. اَوُ هم هغه زمان په دے مکان کښې منعکس
کيږي. هم دغه ذات دَ صفت په شکل
کښې څرګنديږي. مطلق حيات يا "لوئی ژوندے"
ذات دے. اَوُ کائنات دَ هغه صفت. حُکه چه هرکله
په عقلی دول دَيَو څيز دَ وجود اثبات کوؤ. نو دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے نه بغير بل هيڅ صورت نشته چه اول د هغه پاره
د نمود صفت ظاهر کړو. ځکه چه هيڅ داسے څيز
موجود نشی کېدلے کیدَے کوم چه نمودی صفت نه
لری. نو په قول د مولانا عبدالسلام رامپوری "حق د
اجمال په مرتبه کښ حق او په تفصيل کښ کائنات
دے." مولانا عبدالسلام صاحب رامپوری په خپله
مقاله "اقبال او برگسان" کښ هم دے حقيقت ته
اشاره کړے وه. او ليکلی ئی دی چه "فعليت مطلقه
صرف يو دے. او په کائنات کښ د "انا" نه سوا
نور هيڅ موجود نشته." زمان څه شے دے؟ د انائے
اکبر يا حياتِ اکبر هغه احساس کوم چه هغه د خپلے
هستئ په حقله لری. او کوم وخت چه دا احساس پرله
پسے او غير منقطع وی. نو هم دغه کيفيت د زمان د
هيئت تشکيل کوی. علامه اقبال ليکی چه "د کائنات
حقيقت به هله معلوم شی. چه موږ د دے ظاهری
کائنات نه علاوه د خپل دليل اکتفا په يو بل داسے
وجود اوکړو د کوم په وجه چه موږ ته د استدام

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په حقله بصیرت حاصل شي. نو اوس چه کوم شیان
مخامخ ویښو د هغوی ادراک برسیرن اَوْ خارجي دے.
خو دے په خلاف زموږ د خپل ذات ادراک داخلي
دے. شبه محکم. موږ په هره لحظه بدلیږو. نو ځکه
په دے پوره پسے تبدیلي کښے د زمانے اثبات ضروري
دے. دے دپاره پکار دي. چه د خپلو داخلي واردا تو
په مماثلت د خپل شاعره حیات قیاس د زمانے په
وجود اُوکړو؟ (خطبات)

علامّه مرحوم د زمانِ محض اَوْ مکاني زمان په بحث
کښ لیکي چه "ظاهره ده چه هر وخت تغیر یَوْ نقص دے
اَوْ که زموږ نظر د دے دول په تغیرا تو مرکوز وي
نو د حق د ذات د کمال سره سره د حق د کامل حیات
ثابت کول به مشکل شي. ابن حزم تر دے هم د غم کوانه
کشا له ورپیښه شوے وه. خو د دے کشالے د حل کولو
یَو صورت شته اَوْ هغه دا چه "مطلق انا" یَو کُلي
حقیقت دے. د هغه نوعیت داسے نه دے، چه کائینات
د هغه نه بهر اَوْ د هغه نه خه غیر خیز تصور کړے شي.

دَ دے دَ پاره دَ هغهٔ دَ ژوند ټوَل اړخونه به هم په هر
لحاظ دَ هغه دَ بطون سره متعلق تصوّر کیږی۔ دَ دے
نه ثابتیږی چه په دے معنو کښے دَ تغیّر امکان دَ یو
حرکت نوم دے۔ چه دَ یو دے ناقصے مرحلے نه نسبتًا دَ
کاملے مرحلے په لوری یا دَ هغے نه برعکس وِی دَ خدائے
په ژوند نشی کیدَے۔ خو دَ یو ور تر دَ ذکر شوَے دَ تغیّر
نوعیت دَ حیات صرف یَو صورت نه دَے۔ که چرے مونږ
خپله شعوری تجزیه په ژوَر نظر اُوگورو نو
معلومه به شی۔ چه دَ "مکانی زمان" دَ ظاهری تسلسل
په تل کښے حقیقی زمان (زمانِ محض) پټ پروت دَے۔
دغه حقیقی زمان دَے چه په هغه کښے ریا دَ هغه
سره) حقیقی "انا" موجود دئ۔ چرته چه دَ هغو ذکر شوو
تغیّراتو سلسله هدو وړکه شویده۔ چرته چه هغه پِپا
خپل صحیح یعنی دَ یَو دول دَ مسلسل تخلیق کوُلو په شکل
کښے موجود دِی۔ اَوُ چرته چه هغهٔ ته هیڅ ستومانی
اَوُ پریشانی یا خوب نهٔ ورځی (قرآنی تصوف اَوُ اقبال)
که مونږ دَ غور اَوُ فکر نه کار واخلو اَوُ په دے دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَخپل وجود احساس اَوُ تصوّر کوُو۔ نو صفا به معلومه شي۔ چه دَ زمان نه مراد څۀ دے۔ بیا دَ حیاتِ اکبر دَ خپل ذات یا خودی په احساس کښے چه کوم صفات څلا کوی۔ کوم چه دَ خپل ذات دَ احساس اَوُ وجدان سره ذات ته ځانګړے شي۔ هم دغه کائنات اَوُ دَ کائنات دَ شیانو دَ تخلیق نه عبادت دی۔ ځکه چه دَ ذات دَ علم فعل په اصل کښے دَ تخلیق فعل دے۔ مثلاً زید پرله پسے په دے تصوّر کښے محو دے۔ چه هغه موجود دے۔ هغۀ ته دَ خپل موجودیت احساس دے۔ خو دَ هغۀ په ذات کښے چه کوم صفات اَو کمالات مندرج دی۔ مثلاً هغه یَو بنۀ نجومی عالِم متصوف فلسفی ... یا فن کار یا دَ دے نه علاوه څه دَ نورو اوصافو حامِل دَے۔ نو دَ ذات دَ احساس سره سره به دَ هغه په تصوّر کښے هغه اوصاف هم پرله پسے راځی اَوُ چه هغه اَوصاف لحظه په لحظه دَ هغه په تصوّر کښے راځي۔ نو صفا به معلومه شي چه دَ ذات حیثیتِ حقیقي اَوُ دَ اوصافو اضافي دے۔ اَوُ هم دغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ علم فعل دَ ذات دَ پاره دَ تخلیق مترادف دے۔ دلته دَ
زمان حیثیت دَ ذات اَوُ دَ صفاتو حیثیت دَ مکان صفا
ظاهر شی۔ په دواړو کښے چه کوم غیریت ښکاری هغه
صرف معنوی دے۔ کنی په دواړو کښے هیڅ غیریت
نشته۔ صفت هم عین ذات دے۔ البته دَ اظهار
اَوُ فعلیت په وخت صفت دَ ذات نه مغایر ښکاری۔
لکه چه دَ طوفان په حالت کښے چپے دَ دریاب
نه مغایرے غوندے ښکاری۔ خو په حقیقت کښے هیڅ
غیریت نه وی۔ چیسے هم کہ موږ غور اُوکړو۔ نو
معلومه به شی چه صفت دَ ذات نه بغیر محض عدم
دے۔ اَوُ په هیڅ ډول هم په هغو کښے غیریت نشی
پیدا کیدَے۔ بیا موږ دَ علت اَوُ معلول دَ قانون دَ
لاندے دے مسئلے ته ځیر شو۔ نو هیڅ معلول دَ خپل
علت نه جُدا په تصوّر کښے نشی راتلے۔ علت اَوُ معلول
همیشه متحد اَوُ یو ځائے وی۔ اَوُ چه دا خبره صفا شوه
چه کائنات دَ ذات دَ صفاتو نه عبارت دے۔ اَوُ دَ کائنات
هر څیز یو انفرادیت لری۔ کوم ته چه موږ دَ هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څیز "انا" وایو. نو صفا ظاهر شول. چه دَ کائینات حقیقت هم دغه "انا" دے. اَوُ دَ "انا" نه بغیر بل هیڅ حقیقی څیز موجود نه دے. اَوُ بیا انسانی "انا" دَ ذات پاک انائے اکبر حقیقی عکس دے. ځکه چه دَ انسان په وجود کښے هم هغه انائے اکبر دَ انائے اصغر په حیثیت ظاهر شوے دے نو هم دغه انسانی "انا" دے. چه دَ کائینات بالقوه منتظم دے. اَوُ هم دغه انائے اصغر په باقاعدګئ توازن اَوُ تعادل کښے دَ کائینات دَ توازن اَوُ تعادل رانیټ دے. هم دے "انا" نزول کړے دے. اَوُ دا دَ کائینات په صورت کښے ظاهر شوے دے. اَوُ په هره مرتبه کښے ئے هم دَ خپل وجود ظهور کړے دے. هغه دَ نباتات، جمادات اَوُ انسان په هر قالب کښے هم دَ هغه قالب دَ حیثیت په مطابق ځان ښکاره کړے دے. لکه دَ تخم یو داسے چه دَ وُنے جوړیدو نه پس په آخر کښے بیا په اُونه کښے ظاهره شی. اَوُ بیا په هغے دانه کښے هم دَ اُونے یو مکمل وجود بالقوه موجود وی.

سوال پیدا کیدے شی چه ذات زمان اَوُ صفت

مکان اُومنلے شی. نوچه کوُم وخت دَ مکان خارجی وجود موجود نه وُو. اَوُ زمان اَوُ مکان کښے هم یَو وجود وُو. لیکن دَ هغو احساس اَوُ وجدان څرنګه ممکن وُو ؟

ځواب دا دے. چه څرنګه چه موږ دَ مکان پر له پسے تغیر اَوُ دَ کائنات دَ شیانو دَ حرکت کولو دَ عمل په وجه دَ وخت اندازه کوُو. اَوُ هم دَ دے نه دَ زمانے دَ تیریدلو اَوُ دَ وخت تعیّن کولے شو. په حقیقت کښے دا زموږ دَ خپل ذات رجحان، دَ احساس اَوُ وجدان هغه تفکر وی. کوُم چه موږ دَ مکان دَ مسلسل تغیّر اَوُ حرکت په وخت محسوس کوُو. دا تغیّر اَوُ مکانی حرکت زموږ په ذهن منعکس کیږی. ځکه چه دَ حیاتِ اکبر په علم کښے هم دَ خپل ذات دَ موجودګی احساس موجود دے. هغه ذات ته هم دَ خپل وجود یا "انا" احساس دے. اَوُ په دے احساس کښے دَ هغهٔ په وجود کښے دَ تنه هغه علمی نقشونه هم راپیدا کیږی کوم ته چه موږ اشیاء یا دَ کائنات اجزاء وایوُ. اَوُ دَ انائے اصغر په حیثیت هم دَ هغه انائے اکبر دَ خپل ذات دَ احساس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په مونږ هم پریوزی. چه د هغهٔ د اثر په وجه مونږ هم د خپل "انا" احساس اؤ ادراک لرو. د انائے اکبر (ذاتِ باری) په علم کښے د کائنات وجود صرف د علمی صورتونو حیثیت لری. خو زمونږ د "انا" په وجدان کښے هغه علمی صورتونه د کائنات په صورت کښے محسوس اؤ بدیهی صورت اختیار کړی. د کائنات هغه صورت کوم چه د انائے اکبر په علم کښے په مجرّد حیثیت موجود وی. زمونږ په انائے اصغر کښے په ترکیبی صورت ظاهر شی.

اوس غور پکار دے چه د زمانے محسوس کولو به څهٔ صورت وی. اے داسے خو به نهٔ وی. چه هغه به خپله په خپل ذات تیریږی؟ اؤ د هغهٔ تیریدل هم هغه د خپلے هستئ پړله پسے تصوّر اؤ ادراک وُو؟ اؤ هر کله چه دا ادراک اؤ احساس پړله پسے اؤ نهٔ شلیدونکے وی. د وخت اؤ زمانے احساس اؤ شعور ترِ پیدا کیږی. اؤ هم هغه په انسانی "انا" کښے هم منعکس کیږی. څهٔ چه تیریږی هغه زمونږ په باطن

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کېښې دَ ننه هم په موږ تیرېږی. په نورو الفاظو کښې په دااُ ودایُو چه انسانی "انا" په خپله په خپل ځان تیرېږی. که څوک اُوائی چه داخو هم هغه دَ "همه اوست" خبره شوه. اَوُ هر کله چه هرڅهٔ هغه په خپله دَے نو بیا دَ کائنات دا رنګارنګی اَوُ دَ کائناتَ دَ شیانو یَو له بله اختلاف اَوُ دَ هغو مختلفو مقاصدو په حقله به څه وئیلی شی؟ لکه چه دَ هندلوئے شاعر اسدالله خان غالبؔ وئیلی دی۔ ؎

جبکہ تجھ بن نہیں کوئی موجود
پھر یہ ہنگامہ اے خدا کیا ہے؟

هو کنه۔ چه ستانه بغیر نور هیڅ موجود نشته۔ نو دا یه داغوغا اَوُ هنګامه دَ څهٔ دَه؟ خو راشئ په دے حقله دَ حکیم الامت رائے هم واورو۔ نو مائی چه چه دا یله خبره ده۔ چه سمدستی چه موږ دَ اِرتقا یوکوم مرحله کښے یُو۔ دَ فکر اَوُ وجدان امتیاز ضروری دے۔ ځکه چه دَ انسان هر عمل دُوئی یا دُوه والئے غواړی۔ اَوُ هغه دا حقیقت چه ممکن ده دَ تحقیق نه پس اِکی یَو ثابت شی په دُوو برخو ویشی۔ یعنی یَوے دَ دے نه خواډاک کونکی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نفس کوم چه د یو څیز ادراک کوی. او بل خوا ته هغه
څیز چه ادراک ئې کیږی چه نفس سره غیریت لری.

(خطبات)

که څه هم د کائنات هر څیز هم د هغه یو وجود
عبارت دے. خو لوئے حقیقت چه هغه د وجود په کومه
مرتبه کښې ظاهر کړیدے. د دے سره ئې د هغه د وجودی
مرتبے سره سم مقاصد هم مقرر کړی دی. که مونږ د
دے لحاظ او نه ساتو نو مونږ به د یو عظیم بحران او بدبختے
پیښے سره مخامخ شو. او بیا داخو هم مونږ واضح کړیده.
چه انسانی "انا" د هغه انائے اکبر یوه پلوشه ده
کومه چه د دنیا منتظمه ده. په معنوی ډول هغه هم
د ذات حیثیت لری. او څرنګه چه کائنات د خدائے
د صفاتو مظهر دے. هم دغه شان کائنات په معنوی
ډول د انسانی انا مظهر دے. ځکه چه کائنات د یو دے
عجیبے خلکے په څیر په انسانی وجود کښې موجود دے.
کانټ ویلی دی چه "انسان د خپلے کوتاه نظرئ په
وجه د مکان او زمان لا محدودیت نه مرعوب شوے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے - کہ هغه د عقل اَو فکر نه صحیح کار وا خلی - اَو د عالِم معلوم اَو علم حقیقت اُولټوی - نو هغه به دے ؛ نتیجې ته اُورسی - چه زمان اَو مکان اَو عِلت اَو معلول په خپله د انسان د نظریئے اَو د اِدراک کُوکو آلے دی - په خارج کښې د هغو هیڅ مستقل حیثیت نشته -

(حکمتِ رُومی)

هستی که په اصل کښې هر څۀ وی - خو موجودات اَو حوادث چه مونږ ته په کوم ډول ښکاری - هغه د انسان د خپل نقطۀ نظر نتیجه وِی - د کائنات مرکز نه مرکز ده اَو د نمر شمسی نظام - د کائنات مرکز په خپله انسان دے - (حکمتِ رُومی)

اَو د حضرت علیؓ مشهور شعر دے - ؎

اتزعمَ انکَ جرمُ صغیر

و فیک انطوی عالم الاکبر

د دے حقیقت تائید کوی - په تیرو صفحو کښې چه مونږ د کومو عناصرو ذکر کړے دے - د کومو چه کائنات مرکب دے - اَو کوم چه ټول د یو خاص ترکیب لاندې

دَ انسان په وجود کښې شامل دي۔ دَ دې نه علاوه موږ دَ
تخم دَیَو دانې په مثال نه هم دَ دې وضاحت
کولې شو۔ دَ کوم نه چه اُو نه ظاهرېږي۔ اَوُ دَ تکمیل
نه پس هم هغه دَ تخم دانه په کثرت سره په هغې کښې
بیا څرګندَه شي۔ دَ "همه اوست" یا وحدة الوجود دا مطلب
هیچرې نشي کیدَے چه دَیَو وجود لرلو په وجه هر
څیز صرف دَیَو مقصد اَوُ غایت حامل دے۔ دَ دې
تردید خو په ډیره آسانتیا سره دلته هم کیدے شي۔
چه ماده خو یوازې دَیَو څیز سره تعلق لري۔ خو دَ
هغې مظاهر ټول دَیَو بل نه مختلف اَوُ ممتاز دي۔ کوم
چه دَ مختلفو مقاصدو ترجماني کوي۔ یعنې هم دغه شان
وجود هم اِکي یَو څیز دَے۔ کوم ته چه موږ "ژوند"
"روح" یا "شعور" وئیلې دي۔ خو دَ هغه مظاهر مختلف دي
اَوُ دَ هر مظهر حکم جُدا دے۔ ګر فرق مراتب نه کنې زندیقي۔ اَوُ
مطلق وجود چه صوفیه ورته "ثبوت" وائي۔ هغه
خو دَیو نه نیات په هیڅ بدل اَوُ هیڅ صورت نشي
کیدے۔ دَ دې وجداني ثبوت دا دے چه که چرې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وجود ونه ډیر وي. نو دوه صورتونه به لازم وو. اول دا چه یا خو به د هغو هیئت او تشخص یو شان وي. او په هغو کښې به هیڅ وجودي اختلاف نه وي. په دې حالت کښې به هغه دوه نه بلکه یو وجود ګڼلی کیدو. مونږ به هغو ته متعدد نشول ویلی. او یا به په یل صورت دلته وي چه هغه به د یو بل نه مختلف او ممتاز وي. په دې حالت کښې به د هر وجود صفات او تشخصات د یو بل نه جدا او مختلف وي او د هغو نه به چه کوم مظاهر او حوادث ظاهریږي د هغو تر مینځه به اختلاف او تصادم ارو مرو واقع کیدو. نتیجه به ئې دا وه چه متوازن او متعادل کائنات او د هغې نظام به هډو پیدا شوې نه وو. خو د کائنات دا متوازن او متعادل نظام دې خبرې روښن دلیل دې. چه وجود به د یو او اکي یو ډیر نه یو واحد حقیقت دې. متعدد ډیرې نشي کیدې. بیا دا ډیر نه او مطلق وجود په خپل ذات کښې ټول کمالات هم لري. او د هر کمال دپاره یو نوم او تعارف

دے۔ چہ ورتہ اسم وائی۔ بیا چہ دَ کوم اسم نہ دَ یَو فعلیت ظهور متوقع وی۔ هغې تہ صفت وائی۔ اَوْ دَ هغه صفت چہ کوم امتیازی حیثیت اَوْ انفرادیت وی۔ هغہ تہ "عین" وائی۔ اَوْ پہ خارج کښې دَ هغې "عین" دَ پارہ یَو مظهر وی۔ چہ موږ ورتہ "څیز" یا "شے" وایُو نو اوس بہ موږ دَ دے نہ پس پہ "صفت" "عین" اَوْ "څیز" غور کوُو۔

دَ ذات نہ چہ کله دَ صفت اظهار کیږی هغې تہ "روح کل" وائی۔ "عین" تہ "نفس کل" اَوْ "څیز" تہ "طبع کل" وائی۔ صوفیہ دے تہ دَ ذات بے کیفہ نزول اَوْ مادیین ارتقا وائی۔ ځکہ خو دَ افلاطون دا عقیدہ وہ چہ "دلتہ پہ طبع کل کښې چہ کوم څیز موجود دے۔ پہ نفس کل کښې دَ هغې دَ پارہ یَو مثالی قالب موجود دے۔ ذ غه شان دَ مثالی قالب دَ پارہ پہ روح کل کښې یَو عقلی قالب وجود لری۔"

دَ افلاطون خیال دُو چہ دَ مادی شیانو نہ علاوہ چہ دَ کومو معنویاتو وجود محسوس کیږی۔ لکہ ظلم، عدل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صداقت اَوُ دا سے نور۔ دَ هغو دَ پاره هم مثالی اَوُ عقلی
قالبونه موجود دی ؟

کوم خلق چه دَ مابعد الطبعیات نه منکر دی. که هغوی
فکر وکړی۔ نو دَ طبعیاتو بنیاد هم په مابعد الطبعیات دی. کُنی
کوم څیز ته چه اهل عقل یا مادیین عدل وائی۔ هغه دَ
انصاف دَ یو څو اعمالو په وجه متصوّر کوی۔ اَوُ یو معنوی څیز تهِ
جوړ دِی. کُنے هغه ظاهری اعمال کوم چه دَ عدل دَ تصوّر
اساس گڼلے کیږی۔ دَ عدل دَ صحیح معنوی اَوُ عقلی
وجود سره هیڅ تعلق نه لری۔ یو سړی ته دَ قتل سزا ورکول
اَوُ دَ یو سړي بے گناه قتل کول په ظاهر کښے یو فعل
دے۔ خو یو ته عدل اَوُ بل ته ظلم وَلے وائی ؟ دَ دے
دواړه نظریو اساس په مابعد الطبعیات قائم دَے۔
اَوُ بیا په دے اوسنی دَ دور کښے خو اکثر دَ دا سے
حقائقو اظهار شوے دے چه دَ هغوئی دَ افلاطون اَوُ ځنے
صوفیو دَ ځنے نظریاتو تصدیق کیږی۔ نو هم په دے حقله
کتل پکار دِی چه کوم وخت دَ ریډیو نه یوه مشاعره
نشر کیږی. اَوُ هغه ټول آوازونه په فضا کښے خواره شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یا یوازے دَیَو انسان آواز فضا ته اُورسولے شی. نو ظاهره
دَه. چه دا آواز یا آوازونه ټول په فضا کښے خوریږی.
اَؤ په دے کښے دَ شک اَؤ شبے هیڅ ځائے نشته. خو
هغه فنا کیږی نه. اَؤ دا آوازونه یقیناً مجرّد دِی.
اَؤ په فضا کښے دَیَو بل سره دَ شاملیدو په وجه یَو
وجود اختیار کړی. ځکه چه په یَو بل کښے دَ ګډون سره
هم هغوئ یَو وجود لری، ځکه چه دَ مجرداتو په خپلو کښے
دَ تصادم اَؤ دَ ټکرے وهلو هیڅ امکان نهٔ دِی. هغه ټول
آوازونه په فضا کښے یَو بسیط اَؤ مجرّد مثالی صورت
اختیار کړِی. خو سره دَ دے هم په فضا کښے دَ هر آواز
خپل انفرادیت قائم دِی. سره دَ دے چه هغه په تجریدی
صورت کښے صرف یَو آواز دی. لیکن کوم وخت چه
موږ دَ ریډیو نه مشاعره اَوردو نو دَ هر شاعر
آواز جُدا اَؤ په ممتاز ډول اَوردو اَؤ محسوس کړو. اَؤ
کوم وخت چه هغهٔ ته شاباشی یا داد ورکیږی نو دَ داد
ورکونکو آوازونه هم په ممتاز ډول سره دَ خپل انفرادیت
صفا صفا آوریدے شی. اَؤ حال دا چه کوم وخت

آوازونه فضا ته اوخیژی، نو تول په یو جز دصورت کښې تبدیل شی. داولې؟ دا تول آوازونه چه په فضا کښې د شاملیدو نه پس په یو بل کښې ننوزی اوُ یو ځینو ترجوړ شی. د هغوئ په خپلو کښې د دې اختلاط اوُ ګډون اثر د هغو په انفرادیت ولې نه پریوزی. وجه داده چه په نفس کل کښې د هر انسان د پاره یو مثالی قالب دی اوُ د هر انسان آواز حرکات اوُ سکنات چه کوم وخت فضا ته اوُرسی نو هغه هم د هغه مثالی قالب سره د یو ځائے کیدو تکل کوی. کوم چه په نفس کل کښې د هغه د پاره متعین دی. په دې مادی دُنیا کښې چه موږ د کومو اعمالو اِرتکاب کوُو. هغه په نفسِ کل کښې د یو خاص نظم اوُ ترتیب د لاندے جمع کیږی. اوُ د هغو نه د یو بل معنوی انسان تخلیق کیږی. اوُ د غه معنوی انسان (کوم چه لګیا وی جوړیږی) د خپل هغه قالب سره د یو ځائے کیدو تکل کوی. کوم چه په نفسِ کل کښې د اول نه د هغه د پاره متعین شوی وی. خوکه په مادی دنیا کښې د هغه د اعمالو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عمومی حیثیت دَ هغهٔ مثالی قالب دَ اجتماعی هیئت نه
خلاف دی۔ نو دا معنوی انسان دَ هغهٔ قالب سره
په یو ځائے کیدو کښے نشی کامیابیدے۔ اَوُ هم هغهٔ دَ هغهٔ
دَ پاره دوزخ دِی۔ تعجب دے چه دَ نن نه څو پیړی اګاهو
شیخ اکبر حضرت محی الدّین ابن العربی" په خپل کتاب
فتوحات مکیهٔ کښے لیکلی وُو چه زمونږ دَ خُلے نه وَتلے
یَو آواز هم نهٔ فنا کیږی۔ بلکه همیشه دَ کائنات په
فضا کښے موجود دِی۔ نن هم هغه حقیقت سائنس
په تجربه ثابت کړیدے۔ نو سوال پیدا کیږی چه
هغه کوم ذهنی آلت کیدے شی۔ چه دَ هغو په ذریعه
شیخ اکبر دَ دے حقیقت درک اُوموند۔ په کوم باندے
چه دَ نن مادییّن فخر کوی۔ دَ دے نه علاوه شیخ اکبر
لیکلی وُو۔ چه په کائنات کښے یَوه ذرّه هم ساکنه نشته
هر شے په حرکت کښے دے۔ مونږ دَ نورو شیانو حرکات
خو وینو۔ خو مزکه حرکت کوی اَوُ مونږ ئی نشو محسوس
کولے۔

بنه نو۔ دَ کائنات اساس هم په دے دریو شیانو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قایم دے۔ یعنی رُوح کلُ نفسِ کلُ اَوُ طبع کلُ اَوُ هم دغه
دَ مکان اَوُ زمان ترجمان دِی۔ اَوُ څرنګه چه دَ مکان مظاهر
درے دی۔ دغه شان دَ زمان مظاهر هم درے دِی۔
یعنی ماضی حال اَوُ مستقبل بیا هر اشان هم دَ دے
دریو اجزاء نه مرکب شکا دی۔ چه مونږ دَ هغهٔ په
صورت کښے دَ هغو مشاهده کولئ شو۔ دَ هغه په شکل
اَوُ کړه وړه کښے مونږ دَ هغهٔ دَ موړ اَوُ پلار نه علاوه
دَ هغه دَ خپل ذاتی صورت مشاهده کولئ شو۔ کُوم
چه دَ هغهٔ دَ خپل شخصیت اَوُ انفرادیت نمایندګی کوی۔
بیا دا دریواړه صورتونه څهٔ په داسے اندازه په خپلو
کښے متحدِ دی۔ چه دَ صرف یَو شکل اَوُ صورت تشکیل
کوی۔ دغه شان دَ مکان درے واړه عناصر هم دَ
انسانی وجود خاصه دِی۔ یعنی صفت عین اَوُ څیز۔
هغهٔ دَ رُوح۔ نفس اَوُ جسم مجموعه ده۔ اَوُ دا
درے واړه دَ رُوح کلُ نفسِ کلُ اَوُ طبعِ کلُ نه عبارت
دِی۔ بیا هم دَ دے دریو عناصرو دَ امتزاج نه په
انسانی وجود کښے دَ درے اوصاف پیدا کیږی۔ کومو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه چه موږ ملکیت (د فرشتو خوئ) حیوانیت اؤ انسانیت
دا یؤ. نو څرنګه چه دا عظیم کائنات د درج کُل نفسِ کُل
اؤ طبعِ کُل مجموعه ده. اؤ هغه د یو توازن اؤ تعادل په
بِنا قایم دے. ضروری ده چه د انسان وجودی عناصر هم
په خپلو کښې متوازن اؤ متعادل وی. ځکه چه انسانی وجود
هم په کائنات کښې یو وړوکے کائنات دے. اؤ ضروری
ده چه هغه د خپلو وجودی عناصرو د متوازن اؤ متعادل
کولو نه پس د دے لوئے اؤ عظیم کائنات د غایت اؤ
مقصدیت ترجمانی اؤکړی. د دے د پاره چه هغه په صحیح
معنو کښې د کائنات حاکم اؤ منتظم ثابت شی. چه
د هغه نظم اؤ ضبط هم د طبیعی نظام په څېر د نقص
اؤ فتور نه بیخی پاک شی. چه د دے په حقله به په
راتلونکو صفحو کښې په وضاحت سره څیړنه اؤشی. په
لوئے کائنات اؤ وړوکی کائنات کښې اتحاد د فطرت
غوښتنه ده.

هیڅ شک نشته. چه د انسان دا طبیعی نظام وخت
په وخت د بدلیدو سره مخ کیږی خو دا تبدیلی باید د مکان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَوُ زمان دَ غونډیتنو سره دغره اُونه وهی۔ تغیّرات اَوُ تبدیلی خو به کیږی۔ خو په بُنیادی دول به په نظام کښ دَ هیڅ خلل امکان نهٔ وی۔ مونږ محسوس کوُو چه دَ کائناتو په طبعی نظام کښ بے شماره پیښےاَوُ انقلابونه واقع کیږی۔ په فضا کښے ځنے اجرام هم په خپلو کښے کله کله جنګیږی۔ څهٔ اجرام فنا کیږی اَوُ څهٔ وړو، وړو وَدَه کوی۔ اَوُ دَ خپل وجود دَ تکمیل مرحلے غوځوی۔ خو دَدے نه دَ کائناتو په بُنیادی نظام کښ هیڅ فرق نه پیدا کیږی۔ طبیعی نظام همیشه دَ نقص اَوُ نقصان نه پاک ښکاری داځکه چه دَ طاقت مرکز اَوُ محور صرف یَو دے۔ خو چه کوم وخت خبره انسانی "انا" ته راوُرسی نو دلته دَ طاقت دَ پاره یَو معیّن مرکز پاتے نشی۔ انسانی "انا" چه دَ کائنات اصل حقیقت دَ سے په مادی قالب کښے دَ مادیت نه څهٔ داسے متأثره شی چه دَ هغه خود ارادیت اَوُ خپلواکی تردے تردے ختمه شی۔ لیکن انسانی اَنا چه دَ مادی فطرت دَ اصل نه نه دَه۔ نو ځکه هغه په فطرت باندے غلبه حاصله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړی. حُکم په هغه کښې دَ فطرت دَ حاکم اَوُ آمر جوړیدو صلاحیت دے. اَوُ کوم وخت چه هغه په مادی فطرت غالب شی هغه به په صحیح معنو کښې دَ دنیا حاکم اَوُ منتظم ثابت شی. اُوس چه دا خبره صفا شوه چه دَ کائنات مرکزی نقطه هم دغه انسانی آنا دَه. نو ضروری ده چه دَ هر څه نه آګاهو هم دَ دے انسانی آنا دَ تربیت اَوُ خپلواکۍ خیال اُساتلے شی. هم دَ دے تخم دَ دانے حفاظت ضروری دے چه هغه په آسانتیا اَوُ نښه ډول خپل ټول نظری صلاحیتونه بهرته راوباسی. اَوُ یَوه باد داده اُونه تړجوړه شی. اَوُ په دنیا کښې دَ امن اَوُ امان دَوره شی.

ګویا هم دغه انسانی آنا دَ کائنات حقیقت دَے.

اَوُ که مونږ په لږو الفاظو کښې دَ کائنات یو جامع تعریف غوره کړو نو بس دَ انسانی آنا یا دَ انسان وجود ته به اشاره کول کافی وی. څرنګه چه وئیلی شوی دی. امیرالمؤمنین حضرت علیؓ فرمائیلی دی. ؎

اتزعم انك جرم صغير
وفيك انطوی عالم الاکبر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یعنی اے تهٔ دا خیال کوٸے چه تهٔ یو ناخیزه چیښځ ئے اَوْ حال دا چه په تاکښې دا لوئے عالم پټ پروت دے اوس. دَ فکر اَوْ تدبّر نه کار اخستل پکار دی. چه زمان اَوْ مکان، شعور اَوْ ماده. اَوْ دَ شعور اَوْ مادے نه پیدا شوے دَ نه بدلیدونکو قوانینو مجموعه کوم چه دَ کائینات په اساسی تصوّد کښے ډیرا همیت لری. دَ دے ټولو حیثیت دَ انسانی آنا نه علاوه نور هیڅ نشته. اَوْ هم هغه انسانی حقیقت یا انسانی "آنا" دَ کائینات په صورت کښے دَ ظاهوید ونه پس په انسانی وجود کښے ظاهر شوید ے. علامه اقبال فرمائی چه" دا دنیا دَ خپلو ټولو تفصیلاتو سره ذَدے څیز دَ میکانکی (اضطراری) توت نه واخله کوم ته چه مونږ دَ مادے (ایټم (ذره)) وایُو دَ انسانی آنا دَ تصوّد دِ آزادانه حرکت پورے دَ "آنائے اعظم" دَ خپل ځان ظاهرَول اَوْ ظهور دَے. دا عالم څرنګه چه وئیلی شوی دِی. دَ خدائے دَ حریف (مقابل) په حیثیت موجود نه دَے. عالم یُو آزاد غیر (پردی) په حیثیت هله ظاهریدَے شی. چه مونږ دَ تخلیقی عمل دَ خدائے دَ ژوند په تاریخ کښے یو ۲ اهم اَوْ

متازه واقعه اُوګنړلو - دَیَو محیط "اَنا" دَ نظریئے نه هیڅ غیر نشته - په دے کښے تصوّر اَوُ دَیو هیدو عمل اَوُ تخلیق عمل ټول یَو حیثیت لری - (قرآنی تصوّف اَوُ اقبال) اَوُ علاّمه مرحوم وائی چه "په هرصورت زمایه را ئے کښے دَ مطلق حقیقت تصوّر دَیَو "اَنا" په ډول ګڼل پکار دی - اَوُ حُکه نو زمایه نزد دَ مطلق اَنا نه هم دَ انیتو نو یا اَناګانو صدوُر ممکن دے - یا بیا په نورو الفاظو کښے په دے اُو وایُو چه دَ مطلق اَنا دَ تخلیقی قدرت اظهار چه په هغه کښے "فکر" دَ عمل مرادف ګڼل پکار دی - دَ غو وحدتونو په شکل کښے کیږی - کوم نه چه مونږ "اَنا" وایُو - ګویا دَ کائینات هر عمل ردعمل تکوین اے که هغه تعلق دَ مادی جواهرو دَ میکانیاتی حرکت سره وی یا په انسان کښے دَ "فکر" دَ آزادانه کار کوُلو سره دَ ټولو حقیقت دَیَو لوئے اَوُ برتر "انا" دَخپل ذات دَ ظهورکنه ولو نه سوا نور هیڅ نه دے - دَ دے دَپاره یَو دَ الٰهی قدرت هر جوهر که څهٔ هم دَ هغه دَ هستی درجه ټیټه یا هسکه دی - په خپل ماهیت کښے یَو "اَنا" دَے -"

اَوْ پہ آخر کښے دَحکیم الامت دا ارشاد هم دَ آورید و قابل دے. چہ "دا بلہ خبرہ دہ چہ دَ دے "آنا" یا خودی دَ اظهار هم خپل خپل رنگ اَوْ موقع دِی. و ړوکے یا لوئے. سرہ دَ دے هم پہ نړۍ کښے هرے وړے تہ دَ خودی سندرہ لحظہ پہ لحظہ اُوچتیږی. اَوْ پہ انسانی ذات کښے دَ خپل معراج کمال تہ اُورسی"

گویا کائنات دَ انسان دَ حقیقت داجمال تفصیل دے. اَو هغہ حقیقت پہ آخر کښ پہ انسانی وجود کښے ظاهریږی. څرنگہ چہ موږ دَ تخم دَ دانے دَ مثال نہ دَ وضاحت کولو کوشش کړیدے. دَ "انا" پہ ابتدا ر کښ هم دَ یو نقطے نہ شروع کیږی. چہ مادیئین ورتہ "ارتقا" وائی. هغہ وخت هم کائنات هم پہ هغے یوہ نقطہ کښ پټ وُو. اَوْ دلتہ هم کائنات پہ دے وړہ غونډے دانہ (انسانی وجود) کښ پہ جمیل دول موجود دی. نو هم پہ دے حیثیت دَ انسانی "آنا" دَوہ حالتونہ دَ غور دَ پہ دی یو حالت ئې دَ نزول سرہ تعلق لری. کوم تہ چہ مادیئین ارتقا وائی. اَوْ هغہ نہ دَ کائنات تشکیل کیږی. اَوْ

دویم حالت ئے دَ صعود دے۔ په کوم کښے چه هغه کائنات په خپل تصرّف کښے راولی، اَؤ هم دغه دَ هغه حقیقی منصب دَے۔

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دوئم باب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دَکائناتِ حقیقی مَرکز

په فضا کښې چه موږ کوم اجرام په لامبو د هلو
بوخت وینو. په هغو کښې دَ هریَو دپاره یَو مخصوص
ماحول اَوُ محیط دَے. دَ هریَو دُنیا په څۀ داسے دول
جوړه شوے دَه چه په هغے کښے دَ بل ستوری یا سیارے
هیڅ مخلوق نشی داخلیدَے. اَوُ که چرے دا سے ممکن وَے
نو دَ کائینات دا انتظام به هډو موجود نۀ وُو. بلکه
په کائیات کښے به همیشه یَو طوفانی انقلاب وَهاوُ دَ
پرله پسے په خپلو کښے دَ ډغزے د هلو به یَو نۀ ختم
کیدونکے سلسله روانه وه. دَیَوے سیارے مخلوق
به دَ بلے سیارے په مخلوق حمله کوُله. اَوُ دغه شان
به کائینات همیشه دَ هنګامی حالاتو په وجه دَجنګ
میدان وُو. زموږ دَ زمکے په مخ اوسیدونکے مخلوق
هم دَ یَو شان فطرت خاوند نۀ دے. کیان په وَجه

اَؤ نور اکثر حیوانات په اُوبو کښې ژوندي نشي پاتې کیدَے. دغه شان په یخې اَؤ کرمې کرّمې هم ژوند دَ مثاؤ تر کوُلو نه یخیږیږي. ترڅو چې یو جُز دَ یخنۍ اَؤ کرمۍ دَ زغملو طاقت اُو نه لری - هغه دَ خپل ماحول نه بهر دَ خپل ژوند حفاظت هم نشي کولے کَه دَیَو سیارے مخلوق په بله سیاره کښې کَد اِنملیدو اراده اُوکړي. نو ضروري دَه - چې دَ هغې سیارے دَ ماحول اَؤ دَ هغې دَ مختلفو اثراتو سره دَ مقابله کوُلو دَ پاره دَ هغې فضا سره دَ مطابقت پیدا کوُلو انتظام دَ اول نه اُوکړي اَؤ ترڅو چې هغه دا اُو نکړے شي دَ هغه دَ پاره په هغه اجنبي اَؤ ناسازګاره فضا کښې ساه اخستل ناممکن دِي.

ادس دَ دے بے شماره اجرامو مثال دَ بجلۍ دَ هغو بلبونو (بلبونو) کښل پکار دِي. په کوم کښې چې دننا دَ بجلۍ کهر نه راځي. دَ دے ټولو اجرامو دَ پاره یَو مرکز دے. کوم ته چې مونږ حقیقي مرکز وایُو.

دَ حقیقي مرکز نه مراد څۀ دے؟ دَ ټولو نه اوّل باید هم په دے خله رښا واچولے شي.

پس تول دَ ارسطوکه موږ دَ حرکت دَپاره یوهٔ مبداء متعیّن نه کړو۔ یوه داسې مبداء چه هغې دَ پاره هیڅ مبداء نه وِی۔ نو موږ به په یو داسې نهٔ ختم کیدونکی تسلسل اَؤ دَور کښې مبتلا شو چه په نتیجه کښې به هیڅ مقصد ته اُونه رسیدلے شو۔ تسلسل اَؤ دَور عقلاً محال دے۔ ځکه چه که چرے دَ کائینات ابتداء دَ یو داسې نقطې نه اُونه ګڼلے شی۔ چه دَ هغې نه پس بله نقطه نه وِی ۰ اَؤ دَ کائینات دَ تاسیس انحصار په تسلسل اَؤ دَور اُو منلے شی۔ نو هډو کائینات به ظاهر شوے نه وُو۔ ځکه چه دَکائینات دَ تعمیر هره خښته به دَ یو بلې داسې خښتې مقتضی وَه۔ چه دَ هغې دَ پاره عِلت وَی۔ اَؤ دغه شان دَ هغې خښتې دَپاره به دَ یو بلې خښتې ضرورت وُه۔ اَؤ په دے شان به دَ هرې خښتې دَ پاره دَ بلې خښتې دَ ضرورت سوال پیدا کیدو ۰ اَؤ په دے سره به دَ کائینات هډو تخلیق ناممکن وُو۔ دا تسلسل په نښکاره توګه دَ عقل نه خلاف دے۔ اَؤ هم په دے وجه عقلمند انسان دَ محالاتو په بُنیاد دَ خپل استدلال عمارت نه

اُو د دړي.

علامہ اقبال مرحوم د ارسطو په دے خیال اعتراض کړی. چه که "چرے کائنات یو متناهي معلول وي. نو باید چه د هغه علت هم متناهي وي" د دے د پاره د اعتراض وجه دا ده چه علت اَوْ معلول همیشه سره ګډ اَوْ یو ځائی وي. که لږکے اَوْ میز خوځا هره ده چه ارسطو یا نورو دانشورانو چه خدائے په کوم معنو کښے علت العلل ګڼلے دے. هغه د تصور د ساده یا تو سره متعلق د علت اَوْ معلول د نحوونه یعنی جُدا نوعیت لری. د دے نه اَکا هو مونږ د علامه مرحوم خیال پیش کړے دے. په کوم کښے هغوئ کائنات نه د خدائے د ذات انکشاف اَوْ ظهور د ټیلی دی. یا دا چه کائنات لکے د خدائے د فکر نه د عمل نتیجه ګڼلے دے. الله تعالی چونکه خپل معلومات د مخلوق په صورت کښے ظاهر وي ځکه د پاره هغه هم په دے معنو کښے علت العلل دے. کښے د ټیلی کیدے شی. چه خدائے کائنات خوښ که پیدا کړو. که چرے د ویدک نقطه نظر سره سم جواب

پیدا

ددکړے شی. اَوُ هغه داچه دَ رُوح اَوُ مادے دَ ترکیب نه پیدا شوی دے. اَوُ رُوح اَوُ ماده غیر مخلوق اَو قدیم هم اُوګڼلے شی. نو بیا چه خدائے دَ رُوح اَوُ مادے خالق نه دے. نو دے دواړو ته دَ ترکیب ددګولو دَ پاره دَ خاص وخت ضرورت دے. دَ کوم نه چه دَ کائیناتَ ابتداء متصور شی. خو دَ دیدک دَ هوم په رَوئ سره دَ کائینات هیڅ ابتداء نشته. دَ هغه په نزد دَ اناد ی یا قدیم ذات افعال اَوُ اعمال هم قدیم دی. دے دَ پاره دَ کائینات دَ ابتداء هیڅ سوال نه پیدا کیږی. اَوُ که په اسلامی نقطه نظر دَ دے تعبیر اُوکړے شی. کوم چه یقیناً علامه مرحوم منشا وه. نو بیا به دا سوال پیدا شی. چه دَ رسول اللّٰہ دَ دے حدیث "کَانَ اللّٰہُ وَلَمْ یَکُنْ مَعَہٗ شَیْءٌ" ۲۲. په رَوئ سره چه کوم وخت دَ خدائے نه سِوا هیڅ ونور څۀ موجود نه وُو. نو خدائے کائینات څرنګه اَوُ دَ څۀ نه پیدا کړو. دَ دے ځواب به هم دغه ورکړے کیږی چه په خپل قدرت ئے پیدا کړو. نو اوس صفا ظاهره شوه. چه دَ الله تعالیٰ قدرت علت العلل ثابت شو.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اعتراض هم لرميخته اوُت کوم چه دَ ماديانو په سلسله
ښه دَ علت اَوُ معلول په حقله داپوره نه شوے وُو. که مونږ
څنے ماديينو په خيږ ماده دَ حرکت مبداء اُو منو
يا هم هيڅ امکان نهٔ لری چه مونږ دَ حقائقو په بابو سيده
لو کښے په سمه اَوُ نيغه لار روان شو. ځکه چه دَ موجوده
سائنسی تحقيق په رَدی سره داخوهډو ممکنه نه دَه چه
مادّه دَ حرکت بنيادی نقطه اُوګڼلے شی؟ تاسو به په تيرو
صفحو کښے دَ ډاکټر جوډ اَوُ نورو دانشورانو رائے لوستے
وی. او س دَ وِليم جيمزبيان واوُری. ليکی چه "دَ کائينات
مرکزی حقيقت دَ ژوند يَو لا محدود قوّت دے. چه هر
څيز ترِ ظاهر شوے دے. دَ ټولو موجوداتو دے باطنی
رُوح ته زهٔ خدائے وايم. که چرے انسان دَ مرکزی حقيقت
سره آشنا دِی. نو بيا دَ هغه دَ پاره دَ هغه خوښه
دَه. چه څرنګه اَوُ کومه اصطلاح متعيّن کوی. که
چرے هغه ته نورِ رحمانی اُوائی يا ئی په رب نامه
موسوم کړی. که ربوبّيت ورته اُوائی که روح کُل يا مطلق
قدرت. هم هغه ظاهر دے اَوُ هم هغه باطن دے. هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه اوّل دے اوُ هم هغه آخر دے۔ هر څیز له هغه دے اوُ د هغهٔ نه په خارج کښے هیڅ موجود نشته۔ هغه زمونږه د ځان ځان دے۔ مونږ هم د هغه په ژوند ژوندی یُو۔ مونږ اوُ هغه کښے فرق دا دے چه مونږ انفرادی۔۔ آروا حان یُو اوُ هغه یو لا محدود کلّی رُوح دے چه په هغه کښے مونږ اوُ باقی ټول اَرواحان اوُ موجودات هم داخل دی۔ خو د وجودی جوهر په لحاظ د انسان ژوند اوُ د خدائے تعالیٰ ژوند یو څیز دے۔ په دوی کښے د جوهر څه فرق نشته۔ د درجے اوُ کمیت فرق دے۔

د دے نه پس ولیم جیمز د توحید په خقله لیکی۔ هر کله چه توحید د کائینات د یو منظم فلسفے تعمیر کوی هغه د خدائے د همه اوست منلونه سِوا بل په هیڅ څیز نه راضی کیږی۔"

البته د یو څو څوانو فلاسفرو دا خیال دُو چه د هر څیز د پاره سرچینه اوُ مبدا هم دغه ماده ده اوُ د حرکت په حقله د هغوی خیال دا وُو۔ چه هغه په ماده کښے پخپله پیدا شوید ے۔ اوُ چه کوم وخت به په هغوی دا اعتراض

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُوکړے شو۔ چه په ظاهره موږ د مادے په یوه ذره کښے هم حرکت اَوْ ژوند نه وِینو۔ اَوْ دا بدیهی دَه۔ نو چه دَ مادے اجزا یا ذرات چه دَ ژوند اَوْ حرکت نه محروم دی۔ نو دَ مادے په اصل کښے دا څیز څرنګه ثابت کیدَے شی۔ نو هغوئی به دا خواب ورکولو چه موږ دَ مادے په ذرّاتو اَوْ اجزاءُ رشیانو) کښے په بدیهی ډول حرکت محسوس کړو نو عقل وائی چه دَ دغو په اصل کښے به هم ضرور حرکت موجود وی او کوم اجزاء چه متحرّک نه ښکاری، دا دَ نظر کوتاهی اَوْ کمزوری دَه۔ په حقیقت کښے دا ټول په حرکت کښے دِی۔ خو کوم وخت چه یو مادی وجود دَ نقص دَ مرحلو نه دَ کمال مرتبو ته اُورسی۔ نو هغه وخت په کښے حرکت په پوره ډول ظاهر شی۔

خو دَ موجوده زمانے سائینسی تحقیق دَ دے پوره نه ذکر شوے نظریئے پوره تردید کړیدے اَوْ ثابت نه کړے ئی دَه۔ چه ماده په حقیقت کښے دَ قوت اَوْ توانائی نوم دے۔ ځکه چه کوم وخت ماده دَ تحلیل اَوْ تجزیئے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

آخري حد ته اُورسولے شي. نو هغه په توانائۍ کښې بدل
شي. اَو دَ دے نه پښوا په چه کله مذهبي خلقو
مادییّن دے طرف ته متوجه کړل چه ماده هیڅ
مستقل وجود نۀ لري. نو هغو به ځواب ورکولو چه
که دَ مادے هر څومره تجزیه اُوکړې شي، فنا
کیدَے نشي. اَوُ دَ مادّے تعریف به ئے څۀ په داسے
ډول کولو چه" هغه ذي امتداد څیز چه یوَه ذرّه
ئې نۀ څوک فنا کولے شي اَوُ نۀ پیدا کولے شي". خو دَ مذهب
پوهانو به هغوئ ته داسے ځواب ورکولو چه موږ وینو
چه دَ مادے په اجزاؤ کښې دَ تقسیم قبلولو قابلیت
موجود دے. نو دَ هغے په اصل کښے به دا قابلیت وَلے
نۀ وي. اَوُ دَ کوم څیز اجواء چه حادث اَوُ مخلوق وي.
دَ هغے اصل به دَ لے حادث اَوُ مخلوق نۀ وي؟ خو
سد ستي موږ ځه داسے باریک آله نشته چه دَ مادے
ذرّه پرے غوڅه کړے شي. خو آخر سائینس دَ مذهب
په نظریه دَ توثیق مهر اُولګولو. اَوُ دَ هغو منکرانو
نظریه ئې غلط ثابته کړه.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوس چه دا خبره ثبوت ته اُورسیده. چه دَ مادے اصل توانائی دَه. نو دا سوال پیدا کیږی چه دَ توانائی نه مراد څهٔ دے. اَؤ قوّت څهٔ ته وائی؟ دَ نړۍ دَ پوهانو په نزد توانائی صفت دے اَؤ صفت غیرمستقل معنٰی ته وائی. ځکه چه صفت عرض دے اَؤ دِ هر عرض وجود په یَو جوهر قائم دِی. دَجو هر جسم یا موصوف نه بغیر عرض یا صفت هیڅ وجود نهٔ لری. مثلاً مونږ دَ یَو څیز دَ پاده اُوږده اَؤ ساده متعیّن کوُ. خو چه له سره څیز موجود نهٔ دِی. نو دَ اُوږدو اَو ساروِدَ وجود هډو سوال نشی پیدا کیدے. حرارت دَ اُور صفت دے. خو څوک دَ منلی شی. چه حرارت دَ اُور نه بغیر هم څهٔ وجود لرلے شی. دغه شان په نورو شیانو کښے چه کوم تاثرات محسوس کیږی هغه ټول عوارض دِی. اَو دَ جسم نه بغیر قائم نشی پاتے کیدے. دَ دا عراضو کوم انفعال چه مونږ محسوس کوُ. هغه په حقیقت کښے دَ هغو جواهرو انفعال دِی په کوم چه دا عوارض قائم دِی. په انسانی وجود کښے چه دَ ناطقے کوم صفت موندلے کیږی هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم په خپله فعال نه دي . هغه د انسان په اراده ....
ظاهرېږي. دغه شان د ټولو شیانو په حقله دا نظریه
د حقیقت ترجمانه ده -

اوس راځو د مادې د تحقیق مرحلې او د هغه صورت
دا دی- چه په موجوده دور کښې ایټمي تحقیق دا
خبره ثابته کړېده - چه د مادې اصلیت توانائي
ده - او دا خو ښکاره ده چه توانائي یو صفت دے او
صفت بغیر د موصوف نه قایم او فعال کېدے نشي-
نو صفا ثابته شوه - چه د کائینات ټول ستوري . نمر
سپوږمۍ او دا اسے نور کوم ته چه موږ مادي شیان
وایو - د قوت یا توانائي ظاهري صورتونه دي . یا دا یې
یو صفت ظاهري اشکال دي. چه په اضطراري ډول
په کار بوخت دي- او په خپله د هغو وجود هم د هغو
د اراده او علم نه بغیر ظاهر شوے دے . د هغو
مثال یعني د یو مشین د پرزو دے. کوم چه په اضطراري
ډول کار کوي . یا د بجلي کمره نه د روښانه شوو بلبو نو
دے- کوم چه اضطراراً رڼا ورکوي - دا ټول اجرام

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ توانائۍ دَ حالت نه په تدریج سره دَ انجماد حالت ته راغلي دي. اَوُ دَ هغوَ موصوف چه څرنګه خوښه دي. کار ترې اَخلي. دَ هر ستورې دَ پاره دَ حرکت يَوه ټاکلے لاره دَه. اَوُ دا بے شماره اجرام ټول په خپلو خپلو ټاکلو شوُو لارو حرکت کوي. اَوُ څرنګه چه اُوُ ئيل شول. دَ هر ستورې يَو خاص چاپيرچل اَوُ محيط دَے. چه دَ بل ستورې دَ چاپيرچل اَوُ محيط نه مختلف دَے. عقل دا غواړي چه په هر ستورې کښې دِ دَ هغه دَ ماحول اَوُ محيط په مطابق مخلوق هم وِي. کوم چه دَ خپل ماحول نه پردي ماحول ته نشي داخليدے. اَوُ که چرے دَ خپل ماحول نه پردي ماحول ته دَ ننه وتو تکل اُوکړي نو دَ هغه بل ماحول اثرات به ئے مانع شي. لکه څرنګه چه کَب دَ اوبو دَ ماحول پيږ بيبرشي. نو دَ اُوبو چه ماحول ئے ژوندے نه پريږدي. ځکه دَ اُوبو نه دَ بهرکيدو سره دَ خطرے اَو دَ ويرے احساس اُوکړي. اَوُ واپس اُوبو ته دَ دانګلو دَ پاره محشر کوي. دا کليه يوازے په حيوانا تو نه بلکه په نباتاتو اَوُ جمادا تو هم حاوي دَه. دِ دے دَ پاره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ څیز د خپل ماحول نه په بل ماحول کښې نه شي داخلیدے۔ ترڅو چه د هغه پردی ماحول د کیفیا تو او عوامِلو اثرا تو سره د مقابلې وصلاحیت او نه لري۔ هغه چه د خپل ماحول نه د باندې نو مجبور به شي۔ چه واپس خپل ماحول ته ځان اودر سوي۔ ځکه چه د پردی ماحول اثرات به ئې واپس تنبوي۔ تا سو خو به تیل لیدلي وي چه کرچرے هغه په اوبو کښې کړ و د کړے شي۔ او بیا او به په خپل حال پریښودے شي۔ نو هغه به د اوبو سرته را شي۔ هغه د اوبو سره نه یو ځائے کیږي۔

ن صبا چه کوم مصنوعي ستوري فضا ته پورته کولے شي۔ او د هغه د مزکې نه چار چاپیره گردش کوي نو دا څیز سائینس دانان د کِشش ثقل په حقله د یو بل ثبوت په ډول پیش کوي۔ او په دے زمانه کښې د دے نظریې سره اختلاف نِسکاره کوُنکي جاهل او نا پوهه گڼلے کیږي۔ حالانکه کشِش خولا پرېږده چه ادس د سائینس پوهانو د حرکت په وجود کښې هم شک نِسکاره کول شروع کړي۔ او د کشِش ثقل په حقله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم نورے تحقیق روان دے ۔

خو په دے کښے هیڅ شک نشته چه ترکومه دَ تجاذب دَ قوّت دَ وجود تعلق دے. هغه یقیناً موجود دے ۔ اَوُ مونږ په کائینات کښے دَ هغهٔ مشاهده کوُو. خو دَ دے قوّت اَوُ کشش مرکز کوم دے؟ مبدءی څهٔ دَه؟ اَوُ دَ هغه دَ تعلیّت صورت څهٔ دے؟ اختلاف صرف په دے کښے دے ۔ ځنے مادیّین چه دَ کائنات په حقله دَ هیڅ محرّک یا خالق قایل نهٔ دِی. اَوُ نه دَ کائنات دا لویه کارخانه دَ کوم خالق دَ ارادے مظهر گني ـ مجبور دِی چه دَ کائنات دَ دے متعادل اَوُ متوازن نظام دَ وجود دَ علت دَ پاره څه نه څه تعبیر پیدا کړی. نو دَ تجاذب قوّت خو هغه دِ یو ثابت حقیقت وُو. ځکه نو هغوی خپلو زړونو ته په دے تسله ورکړه چه دا ټول اجرام په خپلو کښے دَ یو بل په باکښنه اَوُ کشش قائم دِی. په هغو کښے توازن هم په خپله پیدا شو اَوُ اعتدال هم. خو کوم چه مونږ په پوره ته بیان کړے مقدمه څوک پوه شی. نو معلومه به شی. چه اجرام دَ خپلو وجود نو له

لحاظ خو دَ توانائی مظاهر دِی، اَو توانائی یَو غیر فعّال شیز دے - تر څو چه دَ یَو موصوف اراده نه دِی - دَ هغې نه دَ څۀ فعلیّت صدُور بیخی ناممکن دِی۔

هر کله چه توانائی په خپله یَو غیر فعّال شیز دَے - نو دَ هغې مظاهر څرنګه فعّال کیدَے شی؟ خو دَ هغو کومړنیا حرکت اَو حرارت چه محسوس کیږی - دا هر څۀ هم دَ هغه محرّک دَ ارادے نتیجه دَه - کوم چه دا ټول اعراض په حرکت کَولو مجبور دِی - مونږ که دَ نمر ګرمی اَو حرکت محسوس کړُو - نو دا ک هغه خپل وجودی صفات نه دِی - که دَ نمر دَ تجاذب قوّت مرکز په حرکت کَولو مجبوره کړے وی نو اَے دا قوّت دَ نمر دَ خپل وجود دے قوّت نه عبارت دِے؟ هیچرے نه - هم دغه خو هغه غلطی دَه کوم چه دَ دغو مادیّینو نه شوے ده - اَو دَ مادے په اصلیت اَو حقیقت دَ پوهیدو نه پس هم په تیرو کیږی او غرے خوری - آیا نمر هم دَ بل شمسی نظام ستورے نه دَے؟ یقیناً دے - کَی په خپله دَ تجاذب دَ قانون په مطابق دَ کائینات هیڅ ستوری حرکت نشی کَولے - بلکه دَ یَو نظام

دَ لامندے یہ حرکت کوی۔ اَو پہ دے کښے هیڅ شک نشتہ۔ چہ پہ کائنات کښے هیڅ ستوری هم ساکن نشتہ اوس نو کہ پہ قول دَ ارسطو دَ حرکت دا سلسلہ دَ برند برہ یو پلہ شی نو هلتہ بہ دَ یو مرکزی نقطے نہ سوا نور هیڅ موجود نہ وی۔ کوم چہ دَ کائنات مبدء دَہ۔ اَو هم هغہ دَ قوت اَو توانائی مرکز دے۔ دَ دے دَ پارہ دَ کائنات حقیقی مرکز هم هغہ یو ذات دَے چہ کہ څوک خدائے ورتہ وائی کہ ژوند روح یا شعور، څہ ئی چہ خوښہ وی

# درېم باب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۳)

# جاذبه قوّت او مادیّین

مادیّین کشش ثقل یَو حقیقت گڼي. اَوُ په دے سلسله کښے هغوئ ځنے ډیر دلائیل هم وړاندے کوی کوم چه زیاتره په قیاساتو اَړه لری. مثلاً هر درونډ څیز ځکه د پورته نه مزکے ته راځی. چه د مزکے زوت ئے ځان ته راکاږی. یا دا چه کوم وخت مونږ په بیچو می خیږو سترګی اَوُ ساه ساه شُو. نو دا ځکه چه مونږ د مزکے دَکشش په مخالفه دَده روان یُو. که هغوئ ته اُودُ بیلی شی. چه دَ یو درونډ څیز دَ پاس نه ښکته مزکے ته راتلل دَ هغه وزن په وجه وی کوم چه په څیز کښے موجود وی. نو دَ هغوئ ځواب دادِی. چه وزن په حقیقته کښے هیڅ وجود نه

نه لري. بلکه څومره چه د هغه څیز د مواد اندازه وي.
هم د هغې اندازې په مطابق ئې مزکه هم ځان ته
کشش کوي. کوم څيز چه د مزکې نه پیدا کيږي هغه
په اوږدو مړو مجبوراً مزکې ته واجمع کيږي. او حال دا
هغوئ د دې هم قائيل دي. چه مونږ د يو داسې
قوّت په ذريعه د مزکې د حدودو نه بهر وتلي شو. کوم
چه د مزکې د کشش په قوّت غالب دی. نو هم په دې
وجه هغوئ په خلاکښې خوځنه کوې د کائنات هر يو ستوری
نه رسيدل ممکن کنې. ګويا د هغوئ په خيال د کل
په يو جزو کښې هم دومره قوّت پيدا کيدې شي.
چه د خپل کل نه زيات وي. خو د عقل په تره هيڅ
جزو د خپل کل او د هغه د قوّت نه زيات نشي کيدې.
د هغوئ دا نظريه هم محل نظر ده. چه څومره د يو
جزو مراد وي. د مزکې نه به هم هغه هومره قوّت
د هغه د راښکلو د پاره پيدا کيږي. دا نظريه خو په دې
وجه هم صحيح نه ده. چه که مونږ يوه دوبه چه
يو تول وزن لري د مزکې نه پورته ګورزوو. نو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ هغوئ په خیال ضروری بلکہ لازمی دَه . چہ دَ هغې دَ دا تېکلو دپارہ دَ مزکے نہ صرف دَ دومرہ قوّت اظهار اُو شی . چہ دَ دے دُوپې دَ مقدار اَوُ جاذبہ قوّت سره سم وی . ځکہ چہ دَ هغوئ دَ خیال سره سم په دوپه کښے به هم جاذبہ قوّت موجود دی . اَوُ هغه به هم مقابل قوّت مدافعت کوی . په دے حالاتو کښے ضروری دَه چہ دَ دوپې اَوُ دَ مزکے دَ هغے برخے دَ جاذبہ قوّت دَ برابری په وجه دَ دے مقابلے اَوُ مې دا کښے نتیجہ دا دی . چہ کوم وخت مونږ دوپه دَ لاس نہ اُو غورزوُو چہ هغه په فضا کښے معلّق پاتے شی . ځکہ چہ دَ سلطان محمود غزنوی په حقلہ هغه دا قصہ بیا نیږی . چہ کوم وخت هغه سومنات دَ دمسال تہ ورننووت . نو دَ سومنات هغه مشهور بُت ئې په هوا کښے معلّق اُو لیدو . ځکہ چہ دَ دے درمسال با نبرا نو هغه دَ هرے وَ چے سره دَ مقناطیس په مساوی توت قائم کړے وو . اَوُ هم په دے به هغوئ دَ هندو قام جُهّال دَ سومنات دَ الُوهیّت قائیل کوُل . اَوُ که چرے سائینسدان دا وائی

چه د واړه اوډ لوئے څیز د جاذبه قوت نه د مزکے د هغے
برخے جاذبه قوت زیات وی ـ کوم چه هغه څیز ځان
ته راکاږی. نو هغوئ په خپله د دے نظریئے تردید
اوکړو. چه هغوئ وائی چه د مزکے یو دړکوټے جزو
هم د ډیر قوت لرلو په وجه د مزکے د گرفت نه وتے شی.
او د دے سره سره د دے نظریئے تردید هم کیږی
لکه چه هغوئ وائی چه د هر څیز د مواد او
وزن په مطابق د مزکے هم هغه هومره قوت کارکوی
اوس که هغوئ دا او منله چه د مزکے جاذبه قوت زیات
دے نو دلته صفا معلوم شوه چه هغوئ د مزکے مجموعی
قوت ته اشاره کړیده ـ او ثابته ئے کړه چه کوم څیز
د فضا نه مزکے ته راځی په هغه باندے د مزکے د مجموعی
قوت اثر پریوزی. او لا دا چه د مزکے هغه جزوی
قوت هم د هغه څیز د کلی قوت نه زیات وی.
کوم چه هغه ځان ته راکاږی. خو حقیقت دا دے چه
دا خیال هم همیشه صحیح نه ثابتیږی. دا ضروری نه
ده. چه د هر څیز د مجموعی طاقت نه د مزکے هغه جزوی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

طاقت زیات دِ ی۔ ځکہ چہا کوم دخت جٖبرہ دَ قوت شرہ.نو داضروری نہ دَہ چہ دَ مزکے پہ هرہ برخہ کینے دومرہ قوت دی چہ هر ځیز ځان تہ راکاږی۔ اَوُ کہ دا دریُم صورت اُو منلے شی۔ یعنی دَ مزکے کلی طاقت پہ هر هغہ ځیز مُوثرِ دی کوم چہ دَ فضا نہ مزکے تہ راځی۔ نو خبرہ صفا شی۔ ځکہ چہ هیڅ جزو دَ خپل کُل نہ زیات قوت نشی لیے۔ اَوُ کوم وخت چہ دَ هغوی نہ تپوس اوکړے شی چہ کہ مونږ دَ یو اوچت ځائے نہ یو دروند او بل سپک ځیز مزکے تہ گذار کړو۔ نو کوم ځیز بہ اول مزکے تہ اُورسی۔ نو دَ هغوی ځواب دادی چہ دروند ځیز بہ اول اُورسی۔ ځکہ چہ هغہ دَ سپک ځیز پہ نسبت ډیر مواد لری۔ اَوُ چہ مواد ډیر دی نو دَ مزکے جاذبہ قوت ئی هم پہ هغہ اندازہ ځان تہ راکاږی۔

دلتہ بیا هغوی اُومنل چہ کہ دَ یو ځیز مواد اَوُ وزن زیات دِ ی۔ نو دَ مزکے قوت هم پرے پہ هغہ اندازہ اثر غورزوِی۔ اَوُ حال دا چہا دَ هغہ ځیز جسامت دَ مزکے دَ هغے نوتہے سرہ مساوِی دِی کوم چہ هغہ ځان تہ

داکاږي. مثلاً موږ یَو فُټ مربع اُپینه دَ پورته نه ښکته دا کَښ اړوُو. اَوس چه هغه په څو مره وخت کښې مزکے ته اُورسي. هغه وخت په حافظه کښې ساتو. اَوُ بیا یَو فټ مربع تهین ښکته غورزَوُو. اَوُ وخت ئے څیر کوُو. اَوس ښکاره خبره ده. چه دَ اُوسپنے اَوُ تهین وخت به یَو شان نهٔ وي. دواړه به مزکے ته په مختلفو وختونو کښې رسیدلي وي. تهین به مزکے ته په رسیدو کښې زیات وخت اخستے وِي. نو اَوس سوال دادے چه دَ مزکے یَوے قوتے دَ اُوسپنے دَ راښکلو دپاره زیات قوّت استعمال کړو. ځکه خودَ اُوسپنه توټه په لږ وخت کښې مزکے ته اُورسیده. لیکن دَ مزکے هم هغے برخے کومے چه اُوسپنه راښکو دے وَه دَ تهین دَ راښکلو دپاره ډیر وخت واخست. اَوُ ځکه تهین دَ مزکے ته دَ رسیدو دپاره دَ اُوسپنے نه زیات وخت واخست. گویاَ مزکه خٔه شوه. یوه عالمه اَوُ عاقله پروفیسره شوه کومه چه دَ هر څیز په عِلم اَوُ اندازه پوهه دَه. له یوه اَوُ هوښیار خلق دا نظریه قبلولے شي؟ اے دادَ چا په عقل کښے راتلے

شی ۔ چه دَ مزکے یوَے ټکړے دَ دوؤ مختلفو شیانو دَ
دانیکلو دپاره چه دَ دوارو وزن هم دَیو بل نه مختلف
وَو ۔ خپل طاقت په مختلف ډول استعمال کړو۔ اَؤ حال
دا چه مزکے کښے څهٔ قوت لری نو دَ هغے به به په اضطراری
ډول دَ قوت اظهار کیږی۔ هغه کم اَؤ زیات څرنګه
کیدَے شی۔ که په دے سلسله کښے دَ هغو نه تپوس اُوشی
چه هم دغه شیان کوم چه مزکے ته راځی اَؤ پریوزی اَؤ
مزکے ته دَ دارسیدو وختونه ئے هم معین دِی۔ نو
اے که هغه دَ اوبو نه ډک په یَو تالاب کښے واچولے شی
نو هم په هغه هومره وخت کښے به دَ تالاب تل ته اُورسیږی؟
په اُوبو کښے دَ کشش ثقل عمومی کیفیت ولے
ید لیږی؟ نو دَ هغوئ ځواب دا دی چه اُوبه ئے
مدافعت کوی۔ اَؤ په آخره کښے قائیل شی چه تر اُوسه
دَ دے وجوهاتو انکشاف نهٔ دے شوے ۔ لیکن اے دا
حقیقت نهٔ دے چه مزکه اوبهٔ هم ځان ته راکاږی۔
که موږ یوه لپه اوبهٔ په هوا کښے پورته اُو غورزوونو
هغه به یقیناً مزکے ته راواپس شی ددے نه معلومه شوه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه اُوبهٔ دَ کشش ثقل دَ اثر دَ لاندے دِی۔ نیه نو موږ دَ لرګی یَوه تخته دَ اوبو دَ پاسه پرېږدو۔ ښکاره شوه چه هغه به ډوبېږی نهٔ۔ سائینسدانان دَ دے وجه دا ښئی۔ چه دَ لرګی وزن دَ اُوبو نه کم دے۔ نو ځکه په اُوبو کښے نه ډوبېږی۔

اُوموليدل ؟ دلته بیا دَ وزن اداېښاخلی۔ اَؤدا یئی هیر کړی۔ چه دَ هغوئ په خیال کښے دَ وزن هیڅ وجود نشته۔ بلکه څومره چه په یَو څیز کښے موادِ دی هم په هغه اندازه ئې مرکز هم ځان ته را کاږی۔ اَؤ هم دَ دے نه دَ یو څیز دَ وزن اندازه لګولے شی۔ اوس به موږ دَ هغوئ نه تپوس اُوکړو چه کوم وخت دَ مزکے جاذبه قوت اُوبهٔ ځان ته راښکلے دی نو ظاهره دَه چه دَ مزکے جاذبه قوت دَ اوبو په جاذبه قوت غالب شوے دے اَؤ په دے حالت کښے اُوبهٔ یعنی منفعلے دِی۔ اَؤ یَو څیز په یَو وخت منفعل او فعّال دواړه نشی کیدَ ے۔ نو اوس دَ مزکے دَ راښکلو قوت دَ هغه لرګی په تخته ولے پوره پوره نه پرېوزی۔ کوم چه دَ اوبو په مخ ګرزی۔ په دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وخت کښې چې اُوبه منفعلے دی. دَ هغوئی دَ مدافعت کولو څه
سوال پیدا کیږی. اَوُ بیا که موږ دَ دے لرګی په تختهٔ دَ
مختلف وزن دَ اُو سپینه توټے اچول شروع کړو. نو یَو
وخت به داسے راشی چه تخته به په اُوبو کښه ډوبه شی.
اَوُ دَ سائینس داماهران به دعوی اُوکړی چه دَ مزکے
قوت ځان ته راښکوَدَه. "ګویا" اوس بیا دَ هغوئی دَ
وزن وجود اُومنلو. ځکه چه تر کومه دَ لرګی وزن دَ اُوبو
نه زیات شوے نهٔ وُو. هغه په نسبهٔ شان دَ اُوبو دَ پاسه
ګرزیدهٔ. سوال داسے چه کوم وخت دَ مزکے دَ کشش
اثر هډو لرګی ته رسی نه. ځکه چه هغه برابر دَ اُوبو دَ
پاسه ګرځی راګرځی. نو اوس ډوب وَلے شو؟

دَ هغویو قیاس دا هم دے. که څهٔ هم هغوئه دلیل
هم اُووایو. چه که موږ دَ مزکے دَ کشش نه بهر اُوزو. نو
هلته به دَ هیڅ څیز وزن پاتے نشی. کوم څیزونه چه موږ
دلته په مزکه اُوتلو اَوُ وزن ئې معلوم کړو. هم هغه
شیان به دَ مزکے دَ اثر نه بهر هیڅ وزن نهٔ لری.
اَوُ که چرے هغه شیان په داسے فضا کښے دی. چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هلته دَ مزکے دَ کشش اثر کم وِی۔ نو هم په هغے اندازه
به دَ شیانو په وزن کښے هم کمی محسوس کیږی۔
گویا ۔ دَ هغوی دَ خیال په مطابق وزن هیڅ څیز نه
دے۔ بلکه څرنګه چه دویلی شول څومره چه دَ یو څیز مواد
وِی۔ هم په هغے اندازه به ئی مزکه هم ځان ته راکاږی۔
اَوُ هم دَ دے نه دَ څیزونو اندازه کولے شی۔ خو دَ
هغوی دا نظریه هم محلِ نظر دَه۔ موږ وایو چه کوم
وخت تاسو دا اُو منله چه وزن په خپله هیڅ څیز نهٔ
دے۔ بلکه دَ هغه مواد اندازه وِی کوم چه په هغه
څیز کښے موجود وِی۔ اَوُ دا اندازه دَ مزکے دَ کشش
په وجه کیږی۔ نو معلومه شوه چه دَ یو څیز مواد اَو وزن
لازم ملزوم دی۔ اَوُ که هر کله په دے دواړو کښے
یَو موجود نهٔ وی نو دَ بل وجود به هم نه منلے کیږی۔
یعنی چه مواد نهٔ وِی وزن به هم نهٔ وِی۔ لکه څرنګه چه
لوګے دَ کم مواد لرلو په وجه دَ مزکے دَ کشش نه آزاد
وِی۔ یا دا چه په هغه دَ مزکے دَ کشش ډیر کم اثر پریوزی
نو اوس چه په کوم نسبت دَ لوګی په مواد کښے کمی وِی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه شان به د هغه په وزن کښې هم کمی منلے کیږی.
اوس موږ د هغوی نه تپوس کوو چه د مزکے نه بهر چه
کوم وخت د شیانو وزن کیږی. نو په هغو شیانو کښے
مواد هم پاتے کیږی که نه. که د هغوی ځواب داوی
چه مواد خو موجود وی خو وزن ئې نه وی. نو دا
بیدا هتاً غلط دے - ځکه چه چرته چه مواد وی. هلته به
وزن هم په لازمی ډول موجود وی. ځکه چه په خپله د هغوی
د مسلمانو د کیله دا دواړه لازم ملزوم دی.

د دے نه د هغه روسی هوا باز خبره د قطعاً غلط
ثابتیږی. چه وئیلی ئے وو. چه سیارے کښې د هغه
تول شیان د بے وزنئ په وجه یو خوا بل خوا الوتل - خو
په هیڅ کښې دومره زړور نیا نه وه چه هغه نه ئې
دومره تپوس خو کړے وے. چه " ملګریه! په کوم
سیاره کښے چه ته په الوت روان وے. هغه خو هم یو
کلک وزندار څیز وو. د هغے وزن هم ختم شوے
وو که نه؟ ضروری بلکه لازمی وه چه د هغه، هغه
مصنوعی ستیاره هم د بے وزنئ ښکار شوے وے. او

کوم وخت چه دَ هغے هر وزن نه وی پاتے نو دَ دے سره به دَ هغے دَ مواد هم خاتمه شوے وے. اَؤ هغه به یقیناً په توانائی کښے بدل شوے وَه. ځکه چه دا یَو حقیقت دے چه دَ کوم څیز وزن پاتے نشی هغه به په توانائی یا لطافت کښے بدل شی. اَؤ چه حالت دا وی. نو بیا هغه دَ مزکے نه ګیر چاپیره چور لیدَے څرنګه شی؟ ځکه چه دَ یَو بے وزنه څیز نه دَ حرکت هډو ور ناممکن دے اَؤ نه چوے دَ حرکت اِدراک اَؤ مشاهده دَ یَو وزن دار څیز نه بغیر کیدَے شی. کله کله داسے هم کیږی چه دَ سائنس یَو طالب عِلم نه پتوس اُوشی. چه دَ کشش نه مراد څه دے؟ نو هیڅ دَ تسلی ور ځواب نشی کولے. کله خو هغه دَ تجاذب په نظریه کښے دَ قوت اَؤ توانائی اقرار کوی. خو چه اعتراض پرے وکړے شی نو هغه دَ کشش په حقله په دے ډول وضاحت شروع کړی. لکه چه یَو جنس طبعاً خپل جنس ته راغب وی. اَؤ دَ خپل جنس نه بیلتون غوره نه کړي. که دَ بیلتون دَ تجاذب دَ نظریئے ته اُوکتے شی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو کشش دَ قوّت نه بغیر په تصوّر کښې نه شی دا پتلے۔
هغه چه کوم دخت یوه منهٔ دَ اُونے نه دَ مزکے په لور
په پریوتو اُولیده. نو دَ هغهٔ ذهن ناخاپه دے طرفته
متنقل شو۔ چه دا منهٔ مزکے ځان ته راښکلے دَه۔ اُو دَ دے
نه صفا صفا ثابته شوه چه په مزکه کښې په مسلمه ډول
یو قوّت موجود دے۔ کوم چه څیزونه ځان ته راکاږی
دَ دے بل ثبوت سائینس دا هم ښئی۔ چه مزکه
نزدے نزدے دَ ډېرو لکو میلونه سپوږمۍ ځان ته
راکاږی۔ که څهٔ هم په دے راکښته کښې مزکه
سپوږمۍ په خپله ګوړه کښې جذب کولے نشی۔ خو
دومره کار خوئی اُوکړو چه سپوږمۍ ئی دَ خپل ځان
(مزکے نه) نهٔ په چورلیدو مجبوره کړه۔ نو اوس سپوږمی
باقاعده دَ مزکے نه ګېر چاپېره چورلی۔ اُو تعجب دا دے
چه دا خلق سپوږمۍ دَ مزکے یوه برخه ګڼی۔ چه دَ
کوم تصادم په وجه دَ مزکے نه جُدا شوے دَه۔ سوال
پیدا کیږی چه دَ جُدا کیدو په وخت کشش ثقل
والے دَ هغے نو ټپے په را حصارَ دو کښې کامیاب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نشو؟ نو ممکنه ده. چه هغوئ په حواب کښې دا اُو وائي چه
هغه د اجرامو د یو عظیم تصادم په موقع د مزکې نه
غوڅه شوې اؤ جُدا شوې ده.. خو دا بیخي قیاس دے
د دے مطلب هم دا شو کنه چه یو لوئې اؤ توی ستوری
چه کوم وخت د مزکې سره د غزه وو هله. نو د هغې نه
ئې دا توټه بېله کړه کوم نه چه مونږ سپوږمۍ وایو.
اؤ ادس د هغې توټې په ځائې بحرالکاهل په چپوړ دے.
خو د هغوئ دا قیاس هم په دوو وجهو صحیح نه دے.
وړومبئ دا چه کوم وخت یو داسې ستوری د مزکې
سره د غزه د هلو د پاره رادوان وو کوم چه
مزکه د خپلې لوئې توټې نه محرومه کړه. نو د هغوئ
دے نظریئې ته په څه وایو. چه هغوئ وائي چه فزکه
د نمر په تسلط کښې ده. نو هغه ستوری د نمر تسلط
نه څرنګه مزکې ته رااؤرسیدو. ضروری ده. چه
مزکې ته د رسیدو اؤ د هغې سره د غزې وهلو نه
اګاهو هغه د نمر طاقت ته ماتې ورکړې وې. کنی
لازمه ده چه کوم وخت هغه ستوری د نمر د کشش

کړنت اَوُ نیوټن ته رارسیدلي وَو. نو هغه به نمر خپل ځان ته رانسکلي وَه. اَوُ په خپله کُره کښې به ئې جذب کړې وَه. اَوُ یا به هغه په نمر غالب شوې وَې. اَوُ هغه وَ دَ نمر خاتمه به ئې کړې وَې. چه په دې سره به دَ سائنس پوهانو تجویز کړې شمسي نظام بیخي ختم شوې وُو. خو دا حقیقت دې چه کوم وخت دا خلق دَ یو څیز په حقله پوره نشي. نو ضرور دَ څڼ نه څڼ توجیه دَ لټولو تکل کوي.

دویم دا چه هر کله یوې سیّارې دَ سپوږمۍ سره دغه اُوو هله اَوُ یوه لویه ټوټه ئې ترې جُدا کړه اَوُ هغه ټوټه ترې لرې په فضا کښې په الوت سر وَه. نو مزکه هلته په خود شوه چه هغه ټوټه ترې تخمینًا درې لکه میله لرې وَتلې وَه. اَوُ بیا ئې راتینګه کړه. په پښتو کښې یو متل مشهور دَې. چه "هندو ئې چه اُشو کُولو نو منږه ئې کړه" خو لږ صبر اُوکړئ دَ دې تردید څخکښې هم راځي چه هغه به په بیل رنګ وي.

د غرشان د سائنس د پوهانو دا هم عقیده ده
چه مزکه نورو کورو میله لرے ده. خو سره د دے
د نورو د جاذبه قوت دا حال دے. چه مزکه ئی قابو
کړے ده. او هغه ئی د خپل ځان نه چاپیره بچور لیدو
مجبوره کړیده.

اوس د دے ټول بحث نه په ښه شان ثابته شوه
چه کشش بغیر د قوت نه هیڅ شیز نه دے یعنی
هغه د یو قوت نوم دے. چه په ماده او د هغے په
مظاهرو کښے موجود دے. نو چه د شیانو د جاذبیہ
قوت مدار هم په دے قوت دے. نو مونږ به د جاذبه
قوت د ثابتولو په دخت ضرور هم د غه قوت په
تصور کښے ماتو. او اوس به د دے اصول په رڼا
کښے اوګورو چه د کشش دا نظریه تر کومه حده
په واقعیت مبنی ده.

یوه د هغے دانه په یو نوی تار او تړی او دا تار
په یو لرګی پورے او تړی او منځ د مزکے په لوری
زوړند کړی. او اوس اووائی چه د مزکے جاذبه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قوت دا نوے تار و لے نه شلوی او مونږ ځان ته و لے نه
راکاږی. اے د دے نه دا نهٔ ثابتیږی چه د مزکے
د هغے ټکړے د جاذبه قوت د دے تار لړکی منځے او
بیا ستا د لاس د جاذبه قوت سره مساوی دے. کوم
چه دا شیان خپل ځان ته راکاږی. که ځواب په اثبات
کیږی دی نو معلوم شوه چه په دغو شیانو باندے
د مزکے قوت په متحده ډول یا د لسے په وه شئ. چه
په اجتماعی ډول نهٔ پریوزی. او مونږ د دے نه اګاهو
ثابته کړیده چه کچرے په مزکه کښے ذاتی کشش
موجود دی. یعنی مزکه منفعله نه بلکه فعاله وی. نو
د هغے اثر به په هرڅیز په متحده ډول پریوزی. او
که هغوئ نے مساوی او نه منی نو هغوئ به په خپله
د دے تار منځے لړکی او د لاس جاذبه قوت د مزکے
د جاذبه قوت نه زیات اومنی. او دا سرا سر د عقل خلاف
دی. کچرے دا هم او منلے شی چه د مزکے او د ذکر
شوو شیانو طاقت د یو بل سره برابر دے. نو او س
دِ د هغے منځے نه تار پرانستے شی او هغه دِ پریوزی چه

چینګه پرېوزي. مڼه به یقیناً په مزکه ښکته پرېوزي. خو
د پرېوتو سره به هغه په مزکه لیوه نشي. بلکه د
لویدو سره به یو ځای د ځمکې ته اوروځي. او دا حقیقت
به ثابت کړي چه په مزکه کښې هیڅ ذاتي کشش
موجود نه دے. کېنې دا چرته ممکن ده چه یو
شه زور پهلوان د لرې نه څوک په کمند کښې ګیر کړي
او ځان ته ئې راکاږي. او چه کوم وخت ئې په راښکلو
راښکلو ځان ته راورسوي نو هغه وخت کښې یو توپ
اوکړي او د هغه د پنجې نه آزاد شي. خیر دا به هم
پریږدو او اوبه کوو چه کوم نوکي د اوړه ته خارج
کیږي او پورته ځي هغه د مزکې کشش پورته کید وته
ولې پرېږدي. که د دې ځواب داوي چه په هغه
کښې مواد کم وي. او د موادو کمې یا د موادو نشت
په وجه په هغه د جاذبه قوت اثر نه پرېوزي نو د لته
هغوئ د موادو تسلیم کولو سره سره د وزن حقیقت
هم اومنلو. او تر څو چه مواد موجود وي وزن به هم
موجود کېنلې کیږي. که د غوما ديتيز خیال دے. چه

کوم شیز مدار ته اُود سیږی. هغه بغیر د څه مشین نه په خپله د مزکے نه ګیرچاپیره چور لیدل شروع کړی. او د هلته د هغوی د خیال سره سم د شیانو مواد هم ختم شی. کځه هم هغوی د مواد د ختم کیدو قائیل نهوی خو د هغوی د ذرې د پاره دا هم منو. چه مدار ته د رسید دنه پس د شیانو وزن ختم شی. او مواد ئه هم هغه شان موجود وی. ځکه چه دوه. نیمه نو. وزن خو هلته ځکه ختم شی. چه د مزکے کشش نه مؤثر کیږی. ځکه چه بغیر د څه سبب نه د وزن ورکیدل خو څه معنی نه لری. او د هغوی د اندازے سره سم په دوه درے سوه میله اوچته فضا کښے وزن ختم یا ډیر کم شی. او کۀ یو شیز دوه څلورنیم میله اوچت فضا ته اودرسولے شی او هلته په کلی ډول د وزن خاتمه کیږی. دا به ثبوت وی د دے خبرے چه هلته د مزکے د کشش هیڅ اثر نشته. نو چه تر هغه ځایه د مزکے د کشش اثر نه رسیږی نو هغه شیز د مزکے نه چاپیره د کوم قوت په ذریعه چورلی. سره د دے چه هغه وزن هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نلوی. اَؤ حال دا چه هغوئ دا منلي دي - چه مرکز تخمیناً دَ دريو لکو میلونو نه سپوږمئ ځان ته راکاږي. اَو دا سے دَ دے نه صفا نو معلومیږي چه سپوږمئ دَ مرکز دَ کشش په وجه نه بلکه دَ هغه مرکز په اراده روانه دَه چه ذکر يې موږ کړے دے. تعجب خو دا دے چه د لته خو هغوئ په دوه څلور سوه میله اُو چته فضا کښے دَ کشش نفي کوي. خو په لکونو کروړونو میلونو کښے دَ هغه اثبات کوي. اے دَ هغوئ په نظر یه کښے داروښ اَؤ ښکاره تضاد موجود نه دے،

یَو ځل راقم الحروف ته په دے مسئله دَ یَو صاحب سره دَ خبرو اترو موقع په گوتو راغله. اَؤ چه کوم وخت هغهٔ ځان دلائيل واوریدل نو اول خو ئې راقم ته دَ حیرانئ اَؤ ترحم په نظر اوکتل - چه لږ غوندے دَ حقارت ځلا هم پکښے ښکاریده - بیا ئے اُووئیل چه "ته خو ډیر روښن خیال انسان ښکاریږے - خو نن معلومه شوه چه ته هم په هغو دقیا نوسي خیالاتو پورے نښتے ئے - چه نن صبا ورته هیڅوک غوږ نه نیسي."

راکم په خندا خندا ورته اُوویل چه ګرانه! ستا نظریات
او دلائیل چه هر ډول وی. هغه دے غریب د نورو
سائنسدانانو نه هم اوریدلی دی. مهربانی اوکړئ ماد
انګریزئ مصطلحاتو نه معاف کړئ. ځکه چه زهٔ په انګریزی
نهٔ پوهیږم. او ته خو ماشاء الله ځوان دوے په یو خو
نامتو ادیبانو کښے شمارلے کیږے. نو ځکه دا به ښه وی
چه په صفا اودو ژبه کښے خبرے اوکړئ. او په دے سلسله
کښے به بهتره دا وی چه موږ د هرڅهٔ نه آګاهو دَماد
په حقیقت ځان پوه کړو. ځکه چه کائنات د مادے
نه ظاهر شوے دے او د کشش څهٔ وجود دی نو
هغه به هم د دے مادے د یو طاقت نوم وِی. د هرڅه اګاهو
تهٔ د مادے تعریف اوکړه؟

په دے سوال هغه څه او ترغوندے شو. او د خبرو
په دوران کښے هغهٔ څو څو کرته د مادے د تعریف په پیلولو
مجبور شو. ځکه چه په کوم وخت به هغه د مادے یو تعریف
بیان کړو نو راقم به پرے اعتراض وارد کړو. هغهٔ به په
بل رنګ کښے بیا یو تعریف وړاندے کړو. راقم به بیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پرې اعتراض اُوکړو- آخر راقم ورته دَ مجبورئ نه عرض
اُوکړو. چه ته مهربانی اُوکړه دَ موجوده سائینسی تحقیق
سره سم دَ مادے تعریف بیان کړه- اَوُ که ته ئې بیانول
غوړه نهٔ ګڼې نو بیا ماته دَ عرض کولو اجازه واکړه - اَوُ
هغه دا چه ماده دَ هغه څیز نوم دے- چه که چرے
دَ هغے تجزیه اوکړے شي- نو په توانائۍ کښے به بدله شي
اَوُ نن صبا هم دغه حقیقت منلے شوے دَے- اَوُ دَ
توانائۍ نه علاوه ماده هیڅ څیز نه دے "په دے خبره
هغۀ په ترنډه په اثبات کښے سر اوخوزولو- اَوُ بیا چه
ما وضاحت اُوکړو چه توانائۍ دَ یو صفت نوم دے-
اَوُ هغه په خپله بیخي یو غیر فعّال څیز دے. تر څو چه تر
موصوف کار وا تعلق دَ هغے نه دَ څۀ فعلیت صدور بیخي...
ناممکن دَے- نو اوس اُوایه چه یو غیر فعّال څیز دَ
کیفیت نه کمیت یا دَ لطافت نه انجماد ته په خپله څنګه
مائیل شو؟ خو هغۀ دَ دے تعریف دَ منلو نه هم انکار
اوکړو. اَوُ وے وئیل چه ماده یو مهمل غوندے څیز
دے- اَوُ بس ما ورته اُووئیل. چه که ماده یو مهمل غوندے

اثیر دے ۔ نو باید چه د هغه مظاهر هم قول مهمل وی۔ خو داده تر ماته مخاطح نا ست ئے ۔ او په سائنسی مسئلو تبصره کوے۔ او ستا په خبرو کښے څه اهمال هم نه معلومیږی۔"

د دے قول نقص علت او سبب هغه د کمترۍ احساس دے۔ په کوم کښے چه مونږ د ډیر وخت نه مبتلا یُو۔ د پیرنګیانو د پوله پسے غلامی اثراتو مونږ په ړانده تقلید آموخته کړی یُو۔ ایشیائی یا اسلامی علماء که د خپلو افکارو اظهار په آزادئ سره اُوکړی۔ نو زمونږ دا مغرب خپلئ صاحبان ورته د لیونی د اوتو بوتو نه زیات اهمیت نه ورکوی۔ او چه د مغربی علماء کوم قول داوری۔ نو بغیر د څه غور او فکر کولو نه په هغه ایمان راوړی۔ زمونږ ډیر ایشیائی ورونه داسے دی۔ چه په مذهب هیڅ عقیده نه لری۔ او د لوئے خدائ د وجود نه انکار کوی۔ نو چرته چه د یو داسے مغربی دانشور قول اُولولی چه د خدائے د ذات اثبات ئے کړے وی۔ نو هغوی که خدائے د هستئ د منلو د پاره لږ غونډے اماده شی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو هم د غه حال په سائینسی مسئلو کښے هم ورانده کیږی.
زمونږ دا یقین دے. که زر دی که پس تر د دُنیا سائینس
دانان به د کشش ثقل په معامله کښے د خپلے را ئے
اَؤ تحقیق په حقله په دویم نظر اچولو اَؤ غور کولو مجبور
شی- اَؤ هغوئ به وَ دے موجوده نظریئے د تغلیط
اعلان اُوکړی. لکه څنګه چه د ابتداء نه هم داسے
شوی دی- اَؤ د سائینس ډیرے نظریئے غلطے ثابتے
شوی دی. لکه د نمر په حقله د هغوئ نظریه دَه-
چه هغه ساکن دے- خواوس منی چه متحرک دے-اَؤ
کُوم وخت چه هغوئ د کشش په حقله د خپلے نظریئے
په بدلولو مجبور شی اَؤ د دے په حقله د نوی تحقیق
اعلان اُوکړی. نو د دے سره به زمونږ د مغرب خیلی
حضرات بغیر د څه غور اَؤ فکر نه په هغه ایمان راوړی
د دے خلقو د فکر اَؤ انتقاد قوت کوزنی شوے دے. دے
دپاره مونږ ه نی معذور ګڼو- اَؤ عرض کوُو- چه د
جاذب د نظریئے په حقله هم هغوئ په مثبت ډول
د فکر کولو نه قاصر دی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مونږ دَ سائینسی ترقئ دَ ټولو نه زیات ملګری یُو. اَوُ
عقیدهٔ لرو چه ځمونږ اسلاف په دے میدان کښے دَ
هیچا نه ردستو نه وُو. کوم چه په علوموا و فنونو کښے دَ
اکثر قامونو رهنما ثابت شوی وُو. اَوُ بیا په دے زمانه
کښے چه کوم قام دَ سائینسی ترقئ نه ورستو پاتے شی. دَ هغه
قامی اَوُ مِلی انفرادیت به بیخی ختم شی. دِے دپاره
ضروری دَه. چه مونږ په دے سلسله کښے دَ ډیرے نه
ډیره ترقی اُوکړو. اَوُ دا به هله کیږی چه مونږ خپل
ذهن دَ هر یردی او ناجائزه اثرنه پاک کړو. اَوُ مونږ
ته داسے موقعے حاصلے شی. چه مونږ دَ خپلو ټولو ذهنی
اَوُ فکری صلاحیتونو نه دَ کار اخستو قابل شو. په ړانده
تقلید مِلتونه تباه کیږی. حکیم الامت علامه اقبال مرحوم
دَ تقلید په خلاف چه څو نکه لیکونه کړی دی. هغه دَ
لوستو وړ دِی. ضروری دَه. چه مونږ دَ انسانیت نیم
بسیکړه اَوُ پر مخ تګ کښے دَ هیڅ قام نه وروستو پاتے
نه شو.

اوس کتل دادی چه په کائیناتُ کښے چه مونږ دَ کوم

جاذبه قوّت مشاهده کوؤ۔ دَ هغه اصلیت اَوْ حقیقت څهٔ دَے۔ نو په دے ترڅ کښے زموږ نظر په دا دَه۔ چه دَ قوّت اَوْ طاقت دَپاره صرف یَو مرکز دَے۔ اَوْ دا هیڅ امکان نهٔ لری۔ چه دَ هغهٔ دَپاره دَ یَو نه زیات مرکزونه وِی۔ کهٔ چرے دا ممکن وے نو دَ کائنات دا متوازن اَوْ متعادل نظام به هډو نه وُو ظاهره شوے۔ دَ کائنات طبعی نظام چه موږ ئے په خپله کورو دَ دے خبرے گواهی کوی چه دَ دے منتظم یَو اَوْ اِکی یَو دے۔ البته دَ انسان په دنیا کښے طبیعی اَوْ فطری رنګ نشته۔ دَ دے نه علاوه حیوانات دی که نباتات دَ هغوی په نظام کښے هیڅ فتور نه راځی۔ دَ دے سبب دا دے چه انسان دَ ټولو موجوداتو په مقابله کښے جامعیت لری۔ هغه طبیعت شعور اَوْ عقل درے واړه لری۔ اَوْ ترڅو چه دَ هغه په وجود کښے دا درے عناصر دَ توازن اَوْ اتحاد په غوړ ونډی نه وی تړلی۔ دِ هغه چرِ شوی نظام کښے هم توازن اَوْ تعادل پیدا کیدل ناممکن وِی دَ دے په حقله به په راتلونکو صفحو کښے رڼا واچولے شی۔ نو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوس مونږ دا دعوی اوکړه چه دَ قوّت دپاره صرف یو
مرکز دَے. لکه یو پاور هاؤس یا بجلی گهر چه دَ
خپلو متعلقه مقامونو دَپاره دَ رڼا اَو حرارت منبع وِی
نو په دے کښے به هیڅ شک پاتے نشی. چه هر چرته
چه به دَ شیانو په وجود کښے دَ قوّت مشاهده کیږی
هغه به دَ هغو شیانو خپل ذاتی قوّت نهٔ وِی. بلکه
دَ هغه مرکز نه به هغه ته را منتقل شوے وِی. کوم چه
هر خیز ته دَ خپل وجودی حیثیت اَوُ قابلیت سره
سم ورکیږی. گویا افراد به قول دَ هغه کُل نه متأثر
وِی. اَوْ هغه کُل به په ټولو کښے مؤثر وِی. په نورو
الفاظو کښے افراد به منفعل اَوْ کُل به فعّال وِی. اَوُ
دا یَو ښکاره حقیقت دے چه منفعل څیز په خپل ذات
کښے چرے فعّال نشی کیدَے تر څو چه هغه دَ انفعال
په حال کښے وِی. اَوْ که هغه په ظاهره فعال ښکاری
نو دا فعالیت به یقیناً دَ هغه ذاتی اَوْ وجودی نه وِی.
بلکه دَ هغهٔ په وجود کښے به دَ هغه کُل نه عارضَ
شوے حالت وِی. دَ دے مثال دا دے چه که چرے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُو سپنه په اُور کښې داچولۀ شي - اَوْ یا که یَو هیټر په بجلۍ
گرم کړے شي. نو څرنګه چه دَ بجلۍ یا دَ اُور دَ طاقت
نه حرارت پیدا کیدَه د غرشان به دَ دے اُو سپنې یا
هیټر نه هم حرارت پیدا کیږی. ځکه چه دا خو ظاهره
دَه - چه معلول هم دَ بل څیز دَ پاره عِلّت کیدَے شی
لکه څرنګه چه دَ دے مثال نه ظاهره شوه. اَوْ په دے حال
کښې به هغۀ سره دَ انفعالی حیثیت هم فعّال ښکاری.
خو هر څوک پوهیدَے شی. چه دَ هغه هیټر حرارت
دَ هغۀ خپل حرارت نۀ دِی. بلکه دَ بجلۍ ګهر نه ورته
عارضی شوے وِی. که په دے حال کښې یو ناجا پوهه
انسان هیټر ته اوګوری نو هم دا به ګنی چه حرارت
په خپله دَ هیټر نه پیدا کیږی. که څۀ هم هیټر
په ظاهر کښې منفعل بلکه فعال ښکاری. خو هر عقل مند
پوهیږی چه فعال په حقیقت کښې اُور یا هغه بجلی
وِی کوم چه په اُو سپنه یا هیټر کښې حرارت پیدا کوی
په دے سلسله کښې یوَه تجربه دپاره دے کولی شی
او ګوره چه دَ قوت دپاره یو مرکز لازمی دے که

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نمر ۴ دَ دے دِ پاره دَ اُوسپنې يَو څو ټوټې واخلئ. اَوُ
هغه دَ يوې دائرې په شکل کښې په مزکه واچوئ. بيا
دَ مقناطيس يَو څو ټکړے داسے واخلئ چه په هغو کښې
دَ مختلفې اندازې ټوټونه دِ ى. په څنې کښې کم په څنې کښې
زيات. اَوُ په څنې کښې دَ زيات نه زيات. بيا دَ مقناطيس
دا ټکړے دَ هغې دائرے په منيځ کښې واچوئ. مونږ
به اُوينو چه دَ اُوسپنې هغه ټوټے ټکړے به هم هغه دَ
مقناطيس ټکړه ځان ته راکاږى چه دَ ټولو نه زيات
جاذبه قوّت لرى. نو اوس غوږ پکار دے چه کرچرے
هغه دَ اوسپنې ټکړے دَ مزکے دَ کشش په وجه پيا
مزکه پرتے وے نو دَ مقناطيس دے وړے ټکړے
هغه خپل ځان ته ولے راښکو دے. دَ دے نه دومره
خو په هرحال کښې ثابتيږى چه دَ مقناطيس هغې
ټکړے دَ مزکے هغې برخې جاذبه قوت نه ماتے ورکړه
په کومه برخه چه دا ټکړے پرتے وے. اَوُ په مزکه
کښې دومره طاقت نه وُو چه دَ هغې وړے غونډے
مقناطيسى ټکړے دَ جاذبه قوّت په خلاف ئے دَ اُوسپنې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ټکړے په خپل ځائے ټینګے کړے وَے ۔

دَ دے نه دَ دوو خبرو ثبوت لاس ته راځی ۔ یو دا چه دَ قوت دَپاره طبعاً اَؤ فطرتاً یَو مرکز لازم دَے اَؤ مختلف واره واره طاقتو نه مجبور وی چه دَ ټولو نه دَ لوئے قوت تابع وِی ۔ اَؤ دَ هغه لوئے طاقت په مقابله کښے فعّال نهٔ وِی ۔ لکِن دَ دے په خلاف به نه دا کائینات وُو اَؤ نه په کائینات کښے دا متوازن اَؤ متعادل نظام ظاهر شوے وُے ۔ دویمه خبره چه ترے ثابتیږی دا ده چه په مرکز کښے خپل ذاتی کشش بیخی نشته ۔ که چرے وَے نو هغے به دَ مقناطیس دَ هغے ټکړے دَ جاذبه قوت مدافعت کړے وُو ۔ اَؤ دَ دے ردِّ عمل به اَوُ مرو څرګند شوے وُو ۔ دَ دے سره دا هم معلومه شوه چه کوم څیز دَ جاذبه قوت دَ حامل په حیثیت کوم څیز ځان ته را کاږی نو هغه دَ خپل تسلط نه بهر وتو نهٔ پریږدی ۔ خو مونږ بیخی دَ دے په خلاف دا ګورو چه په مرکز یَو کانړے یا بل دا سے څیز وُ غورزَوُلے شی ۔ نو هغه دَ غورزیدو سره یَو ټوپ وهی اَو په مرکه

پوره نښلی نه. چه ځواب ئې داکیږی. چه په شپاړ کښے لچک موجود دے.

او س به نو موږ دَ هغه حقیقی مرکز اطلاق په چا کوُو؟ دَ دے نه سوا بله لاره نشته. چه موږ مطلق وجود ته حقیقی مرکز اُووایُو. چه هغه نه روح ، ژوند ، شعور یا عین چه ځنې موخوښ وِی وئیلے شی . دَ مطلق وجود ادراک اَو وجدان هر هغه ذهن ته حاصلیدے شی چه څه قدر دَ عقل اَو فکر په نعمت نمانځلے وی . وجود ته په اُردو کښے "هونا" اَو فارسی کښے "بودن" وائی دَ وجود تعریف په دوه ډوله کیږی وړد مې تحقیق اَو حصول وائی . دا معنی مصدری اَو اعتباری اَو ذهنی هم وِی. دَ دغو شاسے په ثانیه معقولاتو کښے کیږی یعنی کوم وخت چه موږ یو څیز او وینو نو هغه ته "دے" وایُو . هغه موجود گنړو. ظاهره ده چه مصدری معنی په خارج کښے نه بلکه په ذهن کښے موجودے وی. البته دَ هغو منشاء په خارج کښے موجوده وی دویم ډول دی دَ موجود په معنی . دا معنی یعنی دَ مابه الموجودات یعنی

هغه شيز چه د هغه په وجود د ذکر شوُ معنو انتزاع کيدَے شي د دغو معنو وجه ظاهره دَه - چه وجود خارجي حقيقي شيز دے - ذهني نه دے
(اقبال اَوُ قرآني تصوّف)

ذدے وجدان داسے هم حاصليدے شي - چه که موږ په تصوّر کښے داتول فلکي اجرام نشت اُوګنړو، نو اے دَدے نه پس به هم وجدان دَ"عدم" يا "نيستي" قايل شي؟ اَوُ اے موږ په دے خبره قدرت لرو چه دَ "نشت" يا عدم تصوّر اوکړے شو. هيڅ رے نه - دا ټول نه سپوږمۍ ستورے نه که اَوُ نور محسوسات که موږ نشت هم تصوّر کړو بيا به زموږ وجدان اُودَ مرُو دا تقاضا کوي - چه دَ دے نه پس به هم څه نه څه اُرو مرُو موجود وي - اَوُ دَ عدم اَوُ نيستي به هيڅوک قايل نشي - دويم مثال دا خلي - يو انسان دَ نړۍ په فضا کښے په تصوّر زمان دے ايوزي - اَوُ په الوتو الوتو هغه دَ کائنات دَ ټولو محسوسو شيانو نه تير شي اَوُ يوے داسے

فضا ته اُوړسیږی. چرته چه هیڅ محسوس شیز نه وِی
خو سره دَدے به هم هغه ګیا وی الوزی. روان به
وِی. اے هغه به چرے دا محسوس کړی چه دَهغه پرلار
کښے چرته خنډ راغے. چه محکښے تګ بند شی. اے
هغه فضا یا خلا ختم کیدَے شی؟ په کومه کښے
چه هغه پرے الوت روان دے. هغه که ترقیامته هم
روان وِی نو هم دغه شان به روان وِی. دَ هغې
خلا یا فضا انتهاته به اُونه رسی.

اوس به نو دے ته څنګه اُوویل شی؟ اے دَدِے
نه علاوه دَدے سوال څواب کیدَے شی چه "هغه
په وجود کښے روان دے" هم دغه هغه وجود دے
چه ټول محسوس شیان پکښے پراته دی. پراته څرچه
هم دَدے وجود نه ظاهر شوی دی کوم څیزته
چه خِلا وائی. هغه په نه حقیقت کښے هیڅ وجود
نه لری. دا محض وجود اَوْ ټول وجود دے. هم دَدے
وجود نه توانائی پیدا کیږی. اَوْ هغه په "انو"
(یعنی وړه ذرّه) اَوْ پرمانو (ذرّه) کښے بدل شی کیسونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَوُ مختلف شیان هم دَ دے وجود نه پیدا کیږی۔ اَوُ بیا
دے محسوس شیا نو نه چه دَ وجود سرهٔ نسبت ورکیږی
نو صرف په دے وجه چه هغه متصف بالوجود دِی۔
یعنی وجود په هغو کښے منعکس دی۔ دا دَ وجود پیدا وار
دی لیکن سرهٔ دَ دے هم چه دَ کوم وجود موږ ذکر
اُوکړو هغه مطلق وجود نه دے بلکه دَ مطلق وجود
صفت یا عرض دَے۔ مطلق وجود ته دَ صوفیو په
اصطلاح کښے "ثبوت" وائی نو هم دے مطلق وجود ته
دَ انسانانو په مزهٔ کښے خدائے، بهګوان اَوُ ایشور
وغیره وغیره وائی۔ هم هغه حقیقی مرکز دے۔ هم
هغه په حقیقت کښے فعّال دے۔ اَوُ نور هر څیز منفعل

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# څلورم باب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۴)

# دَ حقيقي مرکز ترجمان انسان

کوم وخت چې دا خبره دا صحر شوه چې دَ کائنات دَ هر شيز دَ ژوندمرکز اَوُ مبدا هم هغه يَو ذات دے کوم تَه چې موږ مطلق وجود وئيلې دِي نو دَ دے نه پس به موږ خپله مزکه اَوُ دَ انسان وجود خيرے دَ لاندے راولو۔

که موږ دَ کائنات دَ تخليق په حقله دَ څه غايت قائل يُو اَوُ په دے مو يقين دی۔ چې دا عظيم کائنات هسے نهٔ دے پيدا شوے بلکه دَ يَو عالم مدبر اَوُ مطلق قادر په اراده ظاهر شويدے نو دا خو ناشونے غوندے خبره دَه۔ چې دَ هغه څهٔ غايت نهٔ وِی اَوُ دَ مقصديت نه خالی وِی۔ ځکه چې هيڅ حکيم عالم اَوُ مطلق قادر ذات

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا یے نشی کیدے چہ دَ هغهٔ افعال عبث اَوُ دَ افادیت نہ خالی وِی۔ اَو چہ دا یَو حقیقت دے چہ کائنات یَو غایت اَوُ مقصدیت لری۔ نو معلوم شوہ چہ دَ کائنات هر څیز یَو غایت اَوُ مقصدیت لری۔ اَوُ هم دَ دے لہ کبلہ هر څیز یو انفرادیت لری اَوُ دَ هر څیز د پارہ جدا حکم دے۔ ځکہ چہ څرنگہ چہ دروستو ویلی شوی دِی۔ هر یَو څیز یَو "انا" دیٔ هر یو څیز دَ بل په مقابلہ کښے دَ یَو څو جدا وجودی صفات لرلو په وجہ ممتاز دے ځکہ نو دَ حقیقی مرکز نہ پس دَ مخلوق د پارہ هم دَ یو مجازی مرکز ضرورت لازمی وو ځکہ چہ ترکومہ دَ طبیعی نظام تعلق دے۔ هغہ همیشہ پہ یَو شان روان دے۔ اَوُ دَ لوئے ښتن پہ ارادہ قایم دے۔ خو چرتہ چہ دَ عقلی اَوُ شعوری نظام سوال پیدا شی نو دَ هغہ د پارہ پہ خپلہ دَ یَو عقلی اَوُ شعوری مرکز ضرورت پیدا شی۔ اَوُ لازمہ دَہ چہ پہ دا سے نظام کښے مرکزی حیثیت دَ عقل اَوُ شعور وِی۔ کہ چرے دا سے اُونہ شی نو دَ حقیقی مرکز (قادرِ مطلق) هغہ منشا نشی پورہ کیدے کوم چہ دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کائینات دَ تخلیق په غایت کښې پټه پرته دَه - دَ دے دپاره دَ یَو داسے مرکز ضرورت وُو چه هغه دَ علیم اَوُ حکیم لوئ ځښتن صحیح نمایندګی اُوکړے شی۔ ځکه چه دَ دے نمایندګئ یا خلافت دَپاره ملائیک موزون نهٔ وُو۔ ځکه چه په هغوی کښې دَ ملکیت رعشق ) نه سِوا بل هیڅ صفت موجود نهٔ وُو۔ دا کار دَ نور و جیوانا تو دَ وس نه لرے وُو ځکه چه هغوئ څه یوازے طبیعت اَوُ شعور دے اَوُ دا کار یوازے دَ انسان وُو چه دَ طبیعت اَوُ شعور سره سره په علم اَوُ عقل هم نمانځلے شوے وَے اَوُ که موږ دَ ارتقا په مسئله غور اُوکړُو نو معلومه شی چه یوازے انسان وَ لے دَ خدائی دَ نیابت حقدار شو۔ راشئ چه یَوه لحظه په دے فکر اُوکړُو۔ اَوُ هغه دا چه دَ ارتقا مسئله یوازے دَ ډارون اَوُ دَ مغرب دَ نورو پوهانو پیدا وار نهٔ وُو۔ بلکه دَ ډاروَن نه څو پیړئ اَګاهو مولانا جلال الدین رُومی په خپله مثنوی کښې په دے مسئله دَ خپلو خیالا تو اظهار کړیدے۔ هغه فرمائی چه زهٔ دَ

جمادات نه نباتات شوم ۔ بیا دَ نباتات نه حیوان اَوُ دَ
حیوان نه انسان شوم ۔ دَ دے نه وړاندے چه ترقی
اُوکړم پو نبته به شم ۔ اَوُ دَ دے نه پس به په څنه
داسے حالت کښے بدل شم چه دَ عقل نه بهر دے ۔"

نو دَ ارتقا دَ مسئلے له رُویه هم دا خبره ظاهره
دَه ۔ چه علم اَوُ عقل نه په جمادات کښے څرګند شول
اَوُ نه په نباتات اَوُ حیوانات کښے ۔ بلکه یوازے
په انسانی وجود کښے ظاهر شول ۔ دَ دے وجه څه
دَه؟ وجه دا دَه چه دَ انسان نه علاوه بل
هیڅ کښے دا قابلیت نه وُو چه هغه دَ لوئے خښتن
دَ وجود یوه مجمله نمونے خاکه جوړه شی ۔ اَوُ دَ
هغه په وجود کښے دَ لوئے خدائے هغه ټول
اوصاف په مجمل ډول موجود دی ۔ چه دَ کائنات
دَ نظم اَوُ ضبط دَ کائنات دَ شیانو اَوُ دَ کائنات دَ
خالق دَ پیژندګلو دَ پاره ضروری دی ۔ دَ هغه
دپاره دَ لوئے خښتن پیژندګلو دَ هر څه نه زیاته
ځکه ضروری دَه ۔ چه دَ دے په ذریعه دَ خپلو هغو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صفاتو علم اَوْ پوهه هم حاصله کړي . کوم چه دَ لوئ
ذات له خوا هغه ته بخښلي شوي دي. ځکه چه ترڅو
یَو نایِب دَ خپل منیب دَ ذات اَوْ صفاتو نه خبر نه
وي . هغه دَ نیابت دَ ذمه واریو نه هم ځان نه شي
خلاصولے . ځکه ، نوضروري وَه چه دَ کائیناتو دَ نظم
اَوْ ضبط اَوْ توازن اَوْ تعادل دَ قائیم ساتلو دَ پاره
یَو داسے نائب موجود وِي چه نه یواځے دا چه
دَ خپل مینب په منشاء دَ پوهیدلو صلاحیت لري بلکه
دَ منیب له خوا دَ طاقت مرکز اَوْ محور هم ټاکلے شوے
وي. نو دَ دے حالاتو په وجه په یقین سره ویلے شي
چه دَ مزکے په مخ دَ انسان نه سوا یل هیڅ داسے وجود
نشته چه دَ لوئے څښتن دَ نمائیندګۍ کولو اهل وي.
اَو دَ دے ثبوت دا دے چه انساني وجود دَ مزکے خو
څخه کوے دَ ټول کائینات دَ اساسي عناصرو یَو ځان نه
متحده کالبوت دے. لکه څنګه چه مونږ په تیرو
صفحو کښے په انساني وجود کښے شامل دَ هغو مجموعي
عناصرو ذکر کړے دے . چه دَ یَو خاص ترکیب اَوْ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اندازے دَلاندے پہ انسانی وجود کښې شامل دِی۔
انسان پہ مرکز کیدو دَ ټول مخلوق نہ پس پیدا کړې
شوے دے۔ ځکہ چہ دَ ھغۂ دَ پیدا وخت نہ اَگاھو
دَ ھغہ شیانو پیدا کیدل ضروری دُو۔ کوم چہ دَ
ھغہ دَ ژوند دَ قایم ساتلو دَ پارہ لازم دُو۔ اَوبیا
ھیے ھم کہ چرے انسان دَ مختلفو مادی شیانو پہ
خپلہ یَوہ مجموعہ نۂ وَی۔ نو ھغہ دَ دے ھلو
قابل نہ دُو چہ دَ ھغو شیا دَ معرفت اَو پیژندلو
اھل ثابت شوئی وَی۔ اَوُ ترڅو چہ ھغہ دَ اشیاؤ دَ علم
نہ بے خبرہ دِی۔ ھغہ نہ یو آزے دا چہ دَ مزکے پہ مخ
دَ یَو حقیقی نظام پہ قایمولو کښې کامیابی نشی حاصلولے
بلکہ دَ کائینات دَ تسخیر پہ سلسلہ کښې ھم پہ مستقبل
کښې یَو دوینا نہ اقدام نشی کولے۔ ځکہ چہ ترڅو
ھغہ پہ مزکہ دَ یَو داسے نظام پہ جوړولو کښې کامیاب
نشی کوم چہ دَ لوئے خدائے لہ منشا سرہ سم وِی
دَ ھغۂ پہ علم اَوُ پوھہ کښې آفاقیت نشی
پیدا کیدے اَوُ ھم پہ دے وجہ ھغہ دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کائینات د تسخیر د کار د پاره خپل ذهن اوزگار دوی نشی نو ځکه تراوسه د انسان حالت داسې دے چه په یوه زمانه کښې هغه ډیر ترقی اوکړی. خو د هغے نه پس د تخریب یو داسې طوفان جوړ کړی. چه خپل ټول شوی کار په سیندلا هو کړی- او د نوع بشر سر بیا شل شی. دغه شان هغه ترقی کوی او بیا تیندک خوری. وجه ئے صفا ظاهره ده. چه انسان د نوع په حیثیت تراوسه ترقی نه ده کړے. د هغه د ژوند مرکز انسانیت نه بلکه حیوانیت پاتے شوے دے کوم چه د هیشه داسې په هغه غالب دے. او په کومه زمانه کښې چه هغه په صحیح معنو کښې کومه لږه ډیره ترقی کړے هم ده د هغه سبب دا دے چه په انسانانو کښې پیرزوئینه او امن وو. کوم چه هغه وخت پیدا شوے وو.

دا د امن حالات به څرنګ پیدا کیدل؟ او له کومه پیدا کیدل؟ که په غور سره اوکتے شی. نو معلومه شی چه د د غو حالاتو سرچینه د هغو پاکو او مقدسو انسانانو د تبلیغ او ایثار نه راوتلے وه. چه خلق ورته انبیاء رسل

منی وغیره وائی۔ دَ هغو سپیڅلو انسانانو دَ تبلیغ په نتیجه
کښې به دَ دنیا په یَوه برخه کښې دَ پیرزوینې اَوُ ورورولۍ
جذبه په چپو شوه۔ ځکه چه هغوئی به په حقیقت کښې
دَ انسانی وحدت مبلغان وُو. نو په لږه موده کښې
به دَ انسانانو دَ حیوانیت جذبه بیا باغی شوه اَوُ دَ ضبط
غړوندی به ئې اُو شلول۔ اَوُ دَ دنیا هغه برخه به بیا
دَ لوټ تالان، ظلم اَوُ استحصال میدان شو۔ اَوُ دَ
انسانیت په ډکو کښې به ئې چه څومره لا ډو هلې وَه۔ دَ هغې
به ئې هډو تسکل په بله داړولو۔ اَوُ بیا به ئې دَ ترقی په
ډکو کښې څه په داسې ډول تګ شروع کړو چه دَ مقصود
منزل به ئې حیوانیت وُو۔ نتیجه به ئې دا دا اُوتلو چه دَ
انسانی قدرونو خاتمه به اُوشوه۔ اَوُ څرنګه چه دا دَ هر
ژوندی شیز طبیعی اَوُ حیوانی فطرت دے چه نو ئے
راپاسی واړه اُوخوری۔ دا قتدارخاوندانو اَوُ زورآورو
به دَ کمزورو انسانانو په څټ دَ خپل اقتدار ترغ کیښودو
دَ هغوئی نربه ئې مړیونه جوړ کړل اَوُ دَ حیوانانو په
ښیر به ئې کار ترې اخست۔ نو دَ دے ډول په تمدن به زوال

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

داغه. او د تباهۍ په غار کښې به پریوت فنا به شو.

په دې کښې د شک کولو هډو ضرورت نشته. چې ترڅو پورې انسان د حقیقي مرکز یعنې د کائنات د خالق د منشاء سره سم نه دې ثابت شوی. او نه هغه د دې قابل دې چې د حقیقي مرکز د منشاء سره سم د کار کولو نه بغیر په خپلو وجودي عناصرو کښې اعتدال پیدا کړې شي. د هغه انسانیت یو خو ملکیت بل څه او حیوانیت څه بله غونډې غوښتنه کوي. بیا په دې دریو کښې غالب اکثر حیوانیت دې او د هغه د ترقۍ آخري مقصد او منزل مادیت او صرف مادیت دې. خو انسانیت او ملکیت هم نه فنا کیږي. سره د مغلوبیت هم د هغو وجودي اختلاف جاري دې. او حیوانیت د مشاهدې کولو نه بغیر نه پریږدي. او حیوانیت هم په آزادۍ سره خپل کار ته نه پریږدي هیڅ حیوان صفته انسان به داسې نه وي چې کله کله د لطیفې غوښتنې د ذات په تصور کښې نه محو کیږي او یا د خپل ظلم او ناجائز استعمال په وجه انفعالي کیفیت نه محسوسوي دا نتیجه وي څو د انساني او ملکي عناصرو د تاثیر کوم

چہ دَ هغہ سره دَ عُمر ملګری دی۔ اَؤ هم دغہ وجہ دَه
چہ دَ دنیا دَ لویو لویو پوهانو پہ خیال چہ ترڅو انسان دَ
نفس پہ ضابطہ قادر نشی هغہ پہ صحیح معنو کښے لو آفاقی
شخصیت نشی ثابت کیدَ ے۔ ولیم جیمزوائی چہ" دَ ژوند
دا تقاضا دَه۔ چہ انسان ځنے خواهشات ردّ اَؤ ځنے
قبول کړی۔ پہ دے ردّ اَؤ قبول کښے ضروری دَه۔ چہ
هرانسانی وجود یو توازن قائم کړی۔ دَ دے نہ پس
هغہ محسوس کړی چہ دَ هغہ دَ پاره هم دغہ نیغہ لاره
دَه۔ اَؤ دَ عمل کولو دپاره هم دغہ لاره بهتره دَه هغہ
دَ ژوند پہ مجاهده کښے اطمینان اُمومی۔ ځکہ چہ هغہ
پو هیږی چہ دَ دے مجاهدے نہ بغیر دَ روح تول
تو تونہ سلب شی۔"

دا ځکہ چہ حیوانیت دَ هغہ پہ تسلط کښے نہ دی اَؤ کہ
هغہ هرڅومره دَ منوّر اَؤ روښانہ ذهن اَؤ فطرت خاوندوی
دَ حقیقی علم مرغلره ئی لاس تہ نشی راتلے۔ هغہ بہ
یقیناً پہ اکثرو اُمورو کښے کمزورے وی۔ اَؤ دَ هغہ کمزوری
بہ پہ نورو هم اثر غوږزوی۔ دا شی چہ اوس دَ دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

موجوده دَور په مادی ترقۍ هم یَوا لوتونکی غوښتنه
تَل واچوؤ. ښکاره خبره ده. چه دیره مادی ترقی
شوی ده. اَوُ لا کیږی روانه دَه. خوځوک دِ دومره خو
اُو ښیٔ چه دَ روحانی اَوُ اخلاقی ترقۍ څۀ حال دے؟
بیا دَ دے تولو نه زیاته اخلاقی نیکی کومه چه مونږ
دَ انسانی ښیګړے اَوُ پیرزو ینے نه عبارت ګڼو چرته
ده؟ څوک شته چه پرانسانی نوع کښے ئې ثابته کړی؟
دا ایټم اَوُ هیډروجن بمونه دَ څۀ دپاره جوړولی
شی؟ دا داکټونه دَ سپوږمۍ دَ تسخیر کولو په بهانه
دَکوم کار دَ پاره ایجاد شوی دی؟ دا دَ آواز نه زیاتے
ګړندۍ طیارے اَوُ هوائی جهازونه دَکوم غایت
پیدا وار دی؟ اے دَ انسانی همدردۍ! بیچرے نه
دَ انسان دَ تباه کولو اَوُ دَ هغۀ په ځپ دَ غلامۍ ډوله
ایښودلو دپاره ایجاد شوی دی. اے دَ کائنات
دَ تسخیر دپاره؟ استغفر الله دَکائنات تسخیر خو دَکائنات
خالق دَ انسان په نصیب لیکلے دے نه دَ حیوان
په قسمت! اے یو هوښیار انسان تصوّر دے کولے

شي ـ چه دوې زمانې انسان په سپوږمۍ تر او د سپوږمۍ که څه هم امکان لري.
ترا د سه خو انسان په خپل حیواني عنصر تسلّط نه دَے
قایم کړے. دا کار خو دَ مکمل انسان دَے چه سپوږمۍ
اَوُ نور ستورو ته اُورسي. اَوُ که بیا دا ممکنه هم شي
چه حیوان دِ په دے عظیم کائیناتو مسلّط شي. نو دَ تعجب
نه سِوا نور څه وئیلې کیدَے شي. لیکن دا ایوه ناشونې
عونده خبره دَه. تر څو چه انسانیت دَ انسان په
وجود حاکم نه وِي. دَ کائیناتو تسخیر خو پریږدئ مونږ
هغه ته انسان هم په زړه ور نه یا سره نشو ویلے. اَوُ بیا
چه انسان تر څو دَ دے قابل نشي چه هغه دَ انسانیت
دَ مرکز نه دَ عقل په مطابق احکام جاري کړے شي.
اَوُ دَ هغه دَ عقل اَوُ انسانیت سره دَ عشق اَوُ ملکیت پیدا نه
نه دِي. هغه دَ هغه عظیم حقیقي مرکز دَ منشاء سره
متحد کیدَے څرنګه شي؟ اَے دا خبره به صحیح وي چه
یَوَ ماتحت حاکم دَ خپل لوئي حاکم یا بادشاه دَ
منشاء نه سِوا سرخلاف کوي اَوُ کامیابي ته اُورسیږي؟
بلکه هغه لوئي حاکم یا بادشاه به ئې یو دم دَ خپلے عهدے

لوے کړی - اَؤ معزول یې ئې کړی -

لکه چې نن دېنم دَ دے دَور په انسانانو یوه ویروونکې تباهي راځي - اَؤ دَ هغے نه پس مادي ترقي لکه چې بیا دَ ابتدا نه شروع کیږي - دَ دے مثال داسے کیدے شي - چې یو کاریګر یو شاګرد ته هدایت کوي - چې یو څیز په دے ډول جوړ کړه - اَؤ شاګرد هغه څیز دَ استاد دَ هدایت نه خلاف په بل ډول جوړ کړي - اَؤ استاد ته ئې وړاندے کړي - نو لازمه دَه چې استاد یې ئې رَدّ کړي - اَؤ هغه ته به بیا هدایت اُوکړي چې دا څیز په فلانکي ډول جوړ کړه - اَؤ دا حقیقت دے چې ترڅو هغه شاګرد هغه څیز دَ استاد دَ منشاء په مطابق جوړ نه کړي - استاد به ئې هیچرے منظور نه کړي اَؤ نه به دَ شاګرد په غلطۍ دَ خپل خوشحالۍ اظهار اُوکړي - بلکه هغه ته به سزا ورکول ضروري اُوګڼي - نو هم دغه شان دَ فطرت کارخانه چې دَ لوئے خښتن په اِرادہ روانه دَه - په هغے کښے انسان ته دَ دخل کُولو دپاره صلاحیتونه ورکړي شوي دي - هغه په فطرت کښے ا

په تصرّف کولو قادر دے۔ ځکه چه هغه د فطری عالم روح دے۔ خو که هغه انسانی ناوېه نظر اَوْ د انسانی تمدن د ونو د احیانه په څنګ په فطرت کښې تصرّف اُوکړی نو هغه د مطلق وجود یا روح اکبر سره په عزه دهی۔ بیا نو هم هغه فطرت د هغه تباه کولو ته دا پاڅی په کوم کښې چه هغهٔ تصرّف کړے شو۔ ظاهره ده چه په فطرت کښې تصرّف کول هم د فطرت په مطابق کامیاب ثابت کیدے شی۔ چرته چه دے د فطرت سره متصادم شو هم هلته ناکام اَوْ نامراد پاتے شو۔ ځکه چه موږ په ورومبی باب کښې ښودلی دی۔ کائینات د انسانی حقیقت یا خاصهٔ انسانیت تفصیل دے۔ اَوْ انسان د دے مجموعی کائیناتو یوه مجمله خاکه یا د تخم هغه دانه ده۔ چه په هغه کښې د ټول کائینات اُونه پټه پرته ده۔ ګویا هغه په خپله کائینات دے۔ اَو د کائیناتو د فطرت په خلاف عمل کول د هغه د خپلے هستئ په خلاف عمل کول دی۔ که د هغه ترقی د یوے اُونے د فطری ودے کولو په خلاف

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډِی۔ نو ظاهره دَه۔ چه اُو نه یه تکمیل ته نه رسی۔ او هغه به دَ تخم پېدا کولو نه پاتے راشی۔ اَوُ هم دغه نکته دَه چه صفاتِ ثابتیږی چه انسان دَ خپل فطرت نه خلاف دَ کائناتو په تسخیر کولو بوخت دے اَوُ که زد اُو شی که پسته خو هغه دَ کائنات په تباه کولو اَوُ رنګولو کښے بوخت دَے۔

تاسو دَ کا دیګر اَوُ دَ هغهٔ دَ شاګرد په حقله معولی عوندے مثال لوستیٔ ډِی۔ او س ښکاره خبره دَه۔ چه که د غه حقیقت موږ دَ دے مادی نړی په اکثرو انسانانو کښے ډِینو۔ نو دَ لوئے خښتن په حقله دَ دے منلو ته دَ دے نیار نهٔ یُو۔ که انسان په دے حقیقت غور اُو کړی۔ نو د نیا به په لږه موده کښے دَ جنت نمونه شی۔ اَوُ دَ دے ظلم، بے رحمی اَوُ یَو تر بله استحصال به بیخی خاتمه اُو شی۔ دَ ځنے خلقو خیال دے چه په انسانانو کښے دَ اَمن اَوُ اتحاد فضا هیچرے نشی پیدا کیدَے چه صفاتِ ظاهریږی چه دا خلق دَ انسانیت دَ غایت اَوُ آفادیت نه بیخی نا اُمیده شوی ډِی۔ ځکه چه هغوی تر۔ د اَرد و ن

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا سے فلسفہ ور کړیدہ۔ چہ د ژوند د جګړے د لاندے ضروری دہ چہ ژوند او د پیوند شی کمزوری فنا کړی۔ لکه څرنګه چه لوے کیان داړہ کیان نغوی۔ او داړہ مارغان د وړو مارغانو خوراک وی۔

هیڅ شک نشته چه تر کومه د حیوانیت تعلق دے دا فلسفه د حقیقت ترجمانه دہ۔ ځکه چه داروِن ټول عمر د طبیعاتو او حیواناتو په مطالعه کښے تیر کړی دے او هغه ته د انسانیت د مطالعه کولو هډو وخت په لاس نه دے ورغلے۔ لیکن زمونږ عقیده خو دا ده۔ چه کوم چرے ته هم انسان په حقیقی معنو کښے انسان شی۔ او هغه خپل حیوانیت د تسلط لاندے راولی او مغلوب ئے کړی۔ نو هډو صبا ته به په دنیا کښے د هیڅ جدل جګړه او اختلاف پاتے نشی ځکه چه انسانیت په ټولو انسانانو کښے د مشترک قدر حیثیت لری۔ هم دغه هغه عنصر دے۔ چه په ټولو انسانانو کښے په مساوی توګه موجود دے۔ او د ... لکی یو عنصر په منځ کښے تصادم او اختلاف عقلاً

ځال دے - داخو دَ امکان دَ دایرے نه بهر خبره دَه چه دا عنصر به په انسانی ژوند کښے محوری حیثیت ولری. اَوْ دَ دے سره بیا هم دَ انسانانو ترمینځه اختلاف اَوْ جګړه پیدا شی - دا ټولے جګړے دَ ظلم اَوْ استحصال دَ هرے ورځے واقعات خو صرف دَ دے نه پیدا کیږی چه دَ انسانی وجود حاکمیت دَ انسانیت په لاس کښے نه - بلکه دَ حیوانی عنصر په تسلّط کښے دَے - کوم چه دَ مطلق آمر حیثیت لری - اَوْ دا آمر سراسر دَ حرص اَوْ استحصال نه عبارت دے - هغه دَ میل چا دَ احساساتو هیڅ لحاظ نه کوی چه په هر ډول کیدَے شی - دَ خپلے خوشحالی عیش اَوْ آدام دپاره هر څه رواکښی - اوس چه دا خبره په ښه ډول واضحه شوه چه انسان دَ هغه حقیقی مرکز ترجمان یا نمائنده دَے - نو دَ دے مطلب دا شو چه لوئے څښتن خو دَ دنیا خالق اَوْ انسان ئے منتظم دے - خو هغه دَ دنیا نظام هله دَ خپل خالق دَ منشاء سره سم په چلولو کښے کامیابي حاصلولے شی چه په حقیقی معنو کښے انسان شی -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دلته دا اعتراض کیدَے شی. چه کوم وخت دَ دنیا نظام دَ انسان په مقدّر کښې لیکلے شوے دَو. نو هغه ترې څهٔ دَاړه ول فطرت وَلے نه ودګولو چه دَ هغه حیوانیت انسانیت ته مغلوب وے.

دِدے ځواب دادے چه هغهٔ ته ئې هم دغه شان فطرت ورکړیدے. چه هغه په حیوانیت غالب کیدَے شی. دَ دے اجمال تفصیل دادے. چه انسان دَ ټول مخلوق په مقابله کښې جامعیت لری. اَوُ ظاهره دَه. چه دَ هغه دَ پاره دَ یَو داسے وجود ضرورت وُو چه په هغه کښې دَ کائنات دَ هر څیز امتزاج موجود وِی دَ کائنات اَوُ دَ کائنات دَ شیانو اَوُ مظاهرو نه دَ واقف کید و اَوُ دَ هغو غایت ته دَ رسید و دَ پاره ضروری وَه چه په انسانی وجود کښې دَ حیوانیت امتزاج وِی. هیګل وائی چه "کوم څیز چه موجود دے. هغه معقول هم دے دَ ژوند اَوُ فکر په ارتقا کښې "شر" یَو ضروری اَوُ اهم حصه دَه. چه هغه نه بغیر حقیقی نظام تکمیل نشی موندے"

څرنګه چه مونږ په وړو مبی باب کښې ویلی دی ژوند

دَ اضداد و دَ تصادم اَوُ پسته دَ هغوَ د اتحاد نه ظاهریږی
دَ ژوند نه د لته مراد دَ ژوند مظاهر دِی۔ ژوند په خپله
هیڅ متحرک څیز نهٔ دے بلکه په شیانو کښه حرکت پیدا
کوی۔ دَ هیګل خیال دے چه اضداد دَ یوبل نه
جُدا کیدَے نشی۔ فکر ۔ دَ اضداد اَوُ تناقضات تو
په تحریک ژوندے دَے۔ نری دَ اضداد دَ وجود په
وجه موجوده دَه۔ څکه نو په هر ژوند کښے مرګ اَوُ
په هره خوشحالئ کښے غم پټ دِی۔ اَوُ بیا دَ دے ټولو
اصل اِکی یو دے۔ اِکی یو حالت دے۔ چه کوم وخت
ترِ مونږه خوشحالی تفریق کړو۔ نو غم پاتے شی۔

نو که چرے انسان ته دَ انسانیت سره سره حیوانیت
نه وے ورکړے شوے نو هغه ذهنی، روحانی، اَوُ اخلاقی
ترقی هډو کولے نشوه۔ دا دَ انسان فطرت دے چه هغه
دَ شیانو په ظاهر نه قانع کیږی۔ بلکه دَ هغو باطن
ته دَ کوزیدو اَوُ دَ هغوُ ته دَ معنی مرغلرے دَ راویستو
تکل کوی۔ دَ انسان کار دَ شیانو په ظاهر قانع کیدل
اَوُ یو لاس په بل ایښودل اَوُ بے کاره کیناستل نهٔ دِی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بلکه هغه دَ محسوساتو نه دَ معانی اَوُ دَ معانی نه دَ مجرّدا تو پهٔ لور تلل کوی. افلاطون وائی چهٔ " دَ کائنات دَ شیا نو توبنیځه چهٔ کومه مجادله اَوُ مناظره نیکاری. هغه حُکه دهٔ چهٔ دَ انسان ذهن دَ ابتدائی مفاهیمو نه اوچت شی اَوُ عالمی مفاهیمو ته اُورسی. اَوُ دَ محسوساتو نه اوچت شی. مجرّداتو ته اُورسی "

ن صبا دَ مغرب نه متأثر خلی وائی چهٔ دا خبرے دَ ما بعدالطبیعات سره تعلق لری. اَوُ دَ هغه دَ منلو وَر نهٔ دی. خو که فکر اُوکړی نو زموبږ دَ نړی دَ ټولو محسوساتو بنیادپهٔ مابعدالطبیعاتی مفروضو مبنی دَ ے. افلاطون چهٔ دَ ظلم، عدل، صداقت اَوُ دَ داسے نورو شیانو ځان ته وجود منی. اَوُ دَ عالم مثال سره دَ دے شیا نو تعلق بیانوی. نو که دا صحیح نه وی. نو څوک دِ سوبږ نهٔ اُوښیٔ. چهٔ دَ ظلم، عدل اَوُ صداقت چهٔ کوم اظهار دَ انسانانو نه کیږی. هغوته موبږ وے اَوُ پهٔ کوم دلیل ظلم، عدل اَوُ صداقت وایُو. چې هم یَو انسان دَ قتل پهٔ جُرم کښے وژنی اَوُ یَو بل سرے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم بے گناه قتل کوی۔ دَ دوا رو انغالو صورت تردے
نردے یو شان دَ ے۔ نو آخر یو نہ عدل اَو یل نہ
ظلم وَلے وائی ؟ کہ څوک فکر اُوکړی۔ نو دَ دے دواړو
حقیقتو نو اصلی وجود جُدا دے اَو دلته ئې چہ کوم
اظهار کیږی هغه ئې صرف تعبیر دے۔ نور هیڅ نہ۔ نو
هم دغه وجه دَه چہ باید انسان دَ محسوساتو نہ
مجرّداتو ته اُورسی۔ اَو هم دغه دَ انسان حقیقی منصب
هم دے۔ هم دغه شان دَ مادیاتو نہ سوا دَ معنویاتو
اَو مجرّداتو دَ پیژندګلو دَ پاره په انسانی وجود کښے دَ ملکیت
ضرورت وُو۔ اَو لوئے خښتن دَ معرفت دَ پاره دَ انسانیت
چہ دَ دے تهٔ لوحیا مع دے۔ اَو بیا چہ څومره انسان
خپل وجودی حقیقت ته رسیږی نو هومره به دَ
کائنات په حقیقت پو هیږی۔ اَو هغه ته چہ دَ کائنات
اَو دَ کائنات دَ شیانو دَ ماهیت چہ څومره علم اَو معرفت
حاصلیږی نو هغه هومره به په کائنات باندے متصرف
کیږی۔ ځکه چہ تصرف اَو تسلّط دَ علم نہ پس حاصلیږی
اَو دَ دے آفاقی یا کائناتی علم اَو معرفت په نتیجه به

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ هغه انسانیت ورو ورو دَ حاکم اَو مقتدر حیثیت حاصلوی۔

دَ دے سره سره یو بل حقیقت هم دَ نظر نه ویستل نه دی پکار۔ اَو هغه دا چه دَ دے اِرتقایه دوران کښے به دَ انسان خپل جسم هم بدلیږی دا بدلیږی۔ دا پرله پسے تبدیلی به دَ کثافت نه دَ لطافت په لوروی ځکه چه دا یَو حقیقت دے۔ چه ماده هره لحظه دَ کثافت نه دَ لطافت په لور روانه دَه۔ نو که په هره زمانه کښے دَ انسان په وجود کښے تبدیلی را نشی نو هغه به هغه وَدے قابل نشی چه هغه بتدریج دَ کائینات دَ تسخیر دَ پاره ضروری اِرتقا اَو علوم حاصل کړی شی۔

دَ هغه په وجود کښے دَ کائینات حقیقت اَو دَ شیانو پیژندل بالقوه موجود دی۔ هغه چه په کومه زمانه کښے دَ معرفت اَو کائینات دَ تسخیر کُولو کوم حد ته رسیدلے دَے دَ هغه دجودی حالت اَو کیفیت هم دَ هغے زمانے دَ فضا سره سم اَو منونکی اَو متحد پکار دَے۔ دا ځکه چه کوم وخت به ذهن کښے علوم پیدا شی هغه دَ جسم نه په ذهن هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اثر غور ډزوی - چه په دے وجه د انسانی جسم ماهیت
هم د هغو په څیر شی. د دوعامی او عالم جسم ته که په غور
سره اُوکتے شی - نو دا حقیقت به څرګند شی - چه د دوارو
په جسم کښے څومره ښکاره فرق موجود دے. بیا
د دے دوارو احساسات هم په غور سره ګنل او
پلټل پکار دی. د عالم انسان احساسات نازک اولطیف
دی - او د عامی احساسات د دے په خلاف.
اوس د دے نظریئے د لاندے د موجوده دور انسانانو
ته اُوګورئ او په هغو کښے فلاسفو - ادیبانو او شاعرانو
ته د غور په نظر اُوګورئ ځکه چه د هرے زمانے د ارتقاء
سنګِ میل د هغے زمانے منوّره طبقه وی. او هم د
هغوئ د ذهنیت نه د ارتقا صحیح اندازه کیدے شی.
تاسو به محسوس کړئ چه په دے زمانه کښے صرف ښځه
په انسانی اعصابو مسلطه ده - او دا خو ښکاره ده چه
د ښځے محبت او د هغے د خوشحال ساتلو احساس د هغه
د ډلی اوی ګول او نازدونه اُوچتول د کوم علّت پیدا وار
دی؟ صرف د جنسی لوږے کوم چه په ټولو مادی

هشانو کښې اهمه اَوْ محوری حیثیت لری. کوم چه دَ حیوانیت
وراَوْ سرچینه دَه.

اَوْ چرته چه حالات داسې وی. هلته به یقیناً دَ انسانی
ورورولی اَوْ پیرزوینه دیوه تله وی. اَوْ په دے
حالاتو کښې به دَ انسانی ذهن رجحان هم هغو علوموته
لاړ وی کوم چه دَ کائنات دَ تسخیر دپاره ضروری اَوْ بنیادی
حیثیت لری. چه سرچینه ئې دَ کائنات دَ خالق لوئې ذات
دے. کچرے انسان دَ دغو انبیاءُ اَوْ صالحینو پیروی
کولۍ نو کیدے شول چه تراوسه به کړ نهٔ دے نه وَے
دومره خو به شوی وو چه په خپلو کښې به ورورولی
اَوْ محبت پیدا شوے وُو. اَوْ بیا به نو نوعِ بشریه
متحده حیثیت دَ کائنات دَ تسخیر دَپاره مَلا تړلے
وَے. اَوْ په کښې به ئې دا مهم شروع کړې وُو.

په دے کښې شک نشته چه په دنیا کښې به تن صیا
داسې انسان اُو مونده شی چه په صحیح معنو کښې به
دَ انسانانو خواخوږی وی. چه دَ کائنات دَ تسخیر په
حقله به هم څهٔ نه څهٔ شعور لری. اَوْ په دے حقله به

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څنګه کوشش هم کوی- خو دَ دے دوَل انسانان به ټول دَ
یَو ملک اُوسیدونکی نه وِی . بلکه په مختلفو ملکونو کښے
به استوګن وِی- نو فرض کړئ چه د غه رنګ صحیح
اَوُ کامِل انسان په پاکستان کښے موجود دے- اَوُ هغه
دَ کائینات دَ تسخیر په سلسله کښے یَو کامیابه تجربه
هم اُوکړه خو که دَ دے نه بهارت خبر شو نو دَ هغه کوشش
به داوِی- چه نه یوازے دا چه دَ هغهٔ دا تجربه به وِناکامه
شی بلکه دَ هغه موُجود هستی به هم دَ دنیا دَ مخ نه لرے
کړے شی- اَوُ دا حال دَ ټولے دنیا په ملکونو کښے لیدَ ے
کیدَ ے شی.

کوم وخت چه په ابتداء کښے روس خپل راکټ فضا
ته الوزولٔ وو نو امریکے هم کوشش شروع کړو
اَوُ څو څو کرته دَ ناکامی سره هم هغے همت بائیلے نه لودو
خپل کوشش ئے جاری اُوساتلو اَن تر دے حدهٔ چه هغه
فضا ته یوازے خپل راکټ نه بلکه دَ روس په شان
ئے خپل سړے هم فضا ته اُورسولو- اَوُ زیاتی پرے لا دا
چه دَ سپوږمئی ډیر تصویرونه ئے هم حاصل کړل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ دے مشینی ترقۍ دَ تاریک مستقبل دَ نتائجو په حقله پروفیسر ټاینِ بی لیکی چه" موږ وایو چه دَ محنت اَو مشقت نه دَ خلاصیدو دَ پاره دَ دے مشینونو په ایجاد اَو ترقۍ کښے موږ بېخي کمزوری اَو زیات کاهل شوی دو. حکمرانو موږ ته ګران دی. خو څرنګه چه دَ دے ترقۍ نه دوه دوه نتیجې راوځی. هلته یوه نتیجه دا هم اُوته چه ښځو دَ هغو په ذمه دَ کارونو دومره بیره دَکه. چه دا سے پخوا نه وَه داغلے. نن ښځے غیر کاروونو کښے بو خو په کور کښے دننه دَ ښځے اَو مور په حیثیت دوئم بحر په کارخانه کښے دَ ملازمت په سلسله کښے دا رجحان اَو خواهش یقیناً اُمید افزا نه دے. په تاریخ کښے دَ پریشانۍ اَو ځان ځانۍ زمانه هم پاتے شوے دَه. په کومه کښے چه ښځو کورونه پرے ایښی دی. دَ ښځے صدی یونان ته دَ نړۍ په تاریخ کښے په معیاری زمانو کښے ډیر لوړ مقام حاصل دَے. په هغه زمانه کښے ښځے دَ خپلو کورونو ذمه دارے وَے. خو دَ سکندر دَ زمانے نه پس کوم وخت چه دَ بهری دریاستونو

شیرازه په خوریدو وه. د ښځو د آزادۍ تحریک ځمځ په دا سې زور او شور سره چلیدو لکه چې تن زمونږ په زمانه کښې چلیږي. بیا مونږ چه د معاشرتي رنځو نو او خرابیو دپاره کوم علاج تجویز کړو او کوم علاج د دا رنځ نه موخلاصې بیخې خارج کړو او حید وجهد مو شروع کړو. نو د دې نه لا ویرونکي او د غم نه ډک تکلیفونه نور را څرګند شول.

د دنیا د یو و پښتو تهذیبونو د ژورې مطالعې نه پس چه زه کومې نتیجې ته رسیدلې یم هغه دا ده. چه د عامو انسانانو په خپلو کښې محبت په اصل کښې د تاریخ د ټولو نه لوئې طاقت پاتې شوې دې۔

ظاهره ده چه امریکه د روس د راکټ د کامیابۍ په وجه ډیرې اخښتې ده. کوم وخت چه د روس راکټ سپوږمۍ ته رسیدلې شي نو امریکې ته رسیدل کوم لویه خبره ده.

نو نن صبا د انسانی ذهنیت دا حال دې؟ خو په دا تلونکې زمانه کښې به ئې دا حال نه وي. بلکه د نوو علومو

دَ حاصلولو په وجه به دَ هغوئ ذهنونه ډیر بدل شوی وی. اَؤ ورسره به هغوئ په جسمونو کښې هم حیرانوونکے تبدیلی راغلی وی. خو دا جسمانی تبدیلی دَ ډاروِن دَ فلسفے سره سمے تبدیلی په قیاس کښے مه راولئ. چه کوم چرے هغه مونږ په کامل ډول تسلیم کړو نو خود به د هر څیز انفرادیت پاتے کیدَے شی اَو نه غایت. دَ اِرتقا په مسئله کښے ډاروِن ځکه تیندک خوړلے دَے. چه هغه دَ کائنات دَ خالق قائل نه وُو. اَؤ هم دغه وجه دَه چه هغه کائنات اَؤ دَ کائنات دَ شیانو په حقله دَ څۀ مقصد یا غایت هیڅ تصوّر نشو کولے.

زمونږ په خیال کښے دَ کائنات دَ شیانو دَ پوله پیے تبدیلی اَؤ تغیرّ سبب دا دے. چه ترڅو شیان په ترقی کولو کولو سره هغے مرتبے ته اُونه رسی. کومے ته چه مونږ دَ شیانو غایت وایُو. نو تر هغے به هغو شیانو کښے تغیرّ اَؤ تبدّل جاری وِی. خو سره دَ دے هم اِرتقاء دَ هغه څیز دَ وجودی انفرادیت په بِنا وِی. دَ دے مطلب دا هیڅ‌رے نه دَے. چه دَ اِرتقاء په ابتداء کښے هغه څیز دَ

بَو بُنیادی غایت دَ لاندے نۂ وی . بلکہ دَ مکمل کیدونہ پس پہ ھغہ کښے خپل غایت څرگند شی . لکہ یَو دیوال چہ پہ یَو بُنیاد دِ دِ ھغے کیږی . یا دَ تخم دانہ چہ دَ تکمیل نہ اَگا ھو دَ دے قابلہ نۂ وی - چہ دَ ھغے نہ میوہ څرگندہ شی . دَ تخم دانہ دَ دا ہتو کیدونہ پس بیخی دَ تخم نہ مخالفہ وی . اَوْ ھیڅوک پہ ھغہ کښے دَ ھغے دا تے اثبات نشی کولے خو دَ وُنے دَ تکمیل نہ پس پہ خپلہ ښکارہ اَوْ معلومہ شی چہ اُونہ خپل غایت تہ اُورسیدہ . اَوْ پہ دے کښے ھم شک نشتہ چہ کہ پہ اِرتقاء تغیّر اَوْ تبدّل وی . نو پہ زوال کښے ھم وی . خو دَ تکمیل نہ پس دَ شیانو غایت پورہ پورہ ښکارہ شی .

دَ ډاروِن دَ نظریئے سرہ سمہ تبدیلی زمونږ دَ دے بیان کړے تبدیلہ بیخی ھیندے دے دَ ډاروِن دَ نظریئے دَ لاندے دا ممکنہ دَہ . چہ میږئ ورو ورو دَ فیل ھومرہ غټہ شی . اَوْ ھغہ دَ میږی توب حیثیت اَوْ غایت بیخی ختم کړی . اَوْ دَ دے پہ خلاف فیل ورو ورو دومرہ ورکو تے شی . چہ دَ میږی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هومره پاتے شي. دا هم ځنګه ناشونې نه دَه. چه جمادات دَ جمادات په حیثیت پاتے نشي. په یَو بل داسے شکل کښې بدل شي. کوم چه دَ جماداتو حِصّه وِی. دا ځکه چه په کوم حالت کښې دا ارتقاء دَیَو محرّک دَ وجود علم اَوُ ارادے نه بغیر په ځپله روانه دَه نو بیا نه خودَ شیا نو څۀ مقصد کیدَے شي. اَوُ نه شیان دَڅۀ مقصد تعاقب کوی. اے هونړ دا ضلے شو چه په نالونکے نمانه کښې به زمونږ دا غنم دَ ربشتیا دُ غنم وِی؟ کوم چه زمونږ غذا دَه. بلکه کیدَے شي چه دَ دے نه یَو بل داسے څیز جوړ شي چه دَ صحت بخښونکی په ځائے قاتل اَو وژونکیَ وِی. که هغوئ وائی چه دا خبره ممکنه نه دَه اَوُ هغوئ په کائینات کښې دَ څۀ نه یو لیدونکو قوانینو قائیل نه دِی. چه دَ غنمو غذا ئیت به په سمّیت کښې بدل شي. او لا دا ځواب راکړی چه دَ غنمو په ځائے به داسے بزار تقا اُوکړی چه دَ غنمو په بدلے کښې دَ غذا په دول استعمال کړے شي. نو په دواړو صورتونو کښې به هغوئ دَ کائینات په حقله دَیَو عالم اَوُ محرک ذات قائیل شي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بلکه دَ دے سره په دَ شیانو دَ غایت اَؤ مقصدیت هم اقرار اُوکړی۔ اے دَ کوم تاریخ نه دا ثابتولے شی۔ چه دَ نن نه سوؤ نو زرکونو کاله اَګاهو دَ ادیو دا موجوده صورت نهٔ وو۔ هیچرے نه۔ که چرے دَ اُدیو دا موجوده صورت دا سے نه وُو نو ظاهره دَه چه دَ ساه لرونکی دَ ژوند ضامن به څهٔ بل څیز وُو۔ اے هغوئ پیژود لے شی. چه هغه کوم څیز وُو۔ اَؤ اوس دَ اِرتقاء په وجه په کوم څیز کښے تبدیل شوے دَے؟ بیا عجیبه خبره خو دا دَه۔ چه اُوبهٔ چه دَ کوموکیسونو مرکب دی اَؤ هغه ترکیب هم یَوه خاص اندازه لری۔ مثلاً دَ اکسیجن دوه اَؤ دَ هیډروجن یَوه برخه۔ نو اُوس که دا کیسونه دَ دے ترکیب نه اپوټه مرکب کړے شی۔ نو دَ اُدیو به کوم صورت وی۔ اے هغه به دَ زهروبو قسم نهٔ وی؟ ضرور به وی۔ نو اے زرګونو لکونو کاله اَګاهو هم دَ ادیو ترکیبی اجزاء هم دغه کیسونه وُو؟ که نه وُو نو بیا دَ ځناور دَ ژوند دَ تحفظ دپاره کوم څیز دَ دے په بدل استعمالیدو؟ ظاهره دَه چه دَ اردن اَؤ دَ هغه

کړی دَ دے هیڅ پوره ځواب نشي ورکولے۔

اُمید دے چه تاسو به زمونږ دَ اجسامو دَ بدلیدو نظریئه ښه پوهه شوي یئ۔ نو که دَ مستقبل انسان زمونږ دَ زمانے انسان دَ عبرت نه ډک حال معلوم شي۔ اَؤ زمونږ دَ حرص اَؤ حسد اَؤ حیوانیت نه پیدا شوي جنګونه اَؤ تباهئ دَ هغوئ په نظر کېښے وِی۔ نو دا یقیني خبره ده چه هغوئ به دَ مادي اِرتقاء سلسله دَ اخلاق اَؤ روحاني قدرونو په رڼا کښے هم په وړاندے بیول غوره اُدګڼي۔ اَؤ که هغوئ داسے اُوکړی شي اَؤ په هغې قائم هم پاتے شي نو انساني وړودولي اَؤ پیرزوئینه به اُوځلیږی اَؤ دَ دے په نتیجه کښے به صحیح انساني علوم را څرګند شي۔ دَ مادي علومو سره به اخلاقي اَؤ روحاني علوم هم ترقي اوکړی۔ خو ښکاره دِ وِی چه روحاني اَؤ اخلاقي علوم دَ مادِی علوموضِد اَو دَ هغو مخالف شیان نهٔ دی۔ بلکه دَ هر نوی څیز دَ ایجاد اَؤ معرفت نه پس، به دا فیصله کول وِی۔ چه دَ هغهٔ دَ حقیقي مقصد اَؤ غایت درک اُولټولے شي۔

اَوْ دَخپل غایت دَ لاندې دَ هغه دَ استعمال کولو فیصله
اُوشي. که دَ شیانو معرفت دَ انسانانو دَ ښیګړې دپاره
وِی. نو ضروری دَه چه مونږ پوهه شو. چه دَ کومو څیزونو
استعمال کېښه دَ نوع بشر ښېګړه تر کومه حده پورې
دَه. دَ دې نه پس ضروری دَه. چه مونږ دَ عقل دَ انسانی
په معیار دَ هغه دَ استعمالولو حکم اُوکړو. اَوْ پوه شو چه
په دې کېښې دَ لوی څښتن رضا پټه دَه. په داسې حالاتو
کېښې به مونږ وئیلې شو. چه مونږ لوی څښتن دَ نیابت
حق ادا کړو. که مونږ دَ دې علم اَوْ پوهې سره سم هم یو
څیز دَ خپل ذاتی منفعت اَوْ ښېګړې دَپاره څۀ په داسې
ډول مخصوص کړو. چه په هغه کېښې دَ نورو انسانانو زیان
اَوْ نقصان وِی. نو ثابته شوه چه مونږ لا تراوسه حیوانان
یُو. او که مونږ په صحیح معنو کېښې انسانان شو. اَوْ دَ سړیتوب
معراج ته اُورسیږو نو مونږ به یقیناً دَ کائنات دَ تسخیر کولو
قابل شو. اَوْ هم دغه حقیقت په قرآن حکیم کېښې هم
موجود دې. ارشاد کوی "اے دَ پیریانو اَوْ انسانانو ډله
که چرې ستاسو داخواهش وِی چه تاسو دَ مزکې

اَوْ آسمانونو دَ حد نه بهر اُوزئ نو بغیر دَ "طاقت" (السلطان)
نه به اُوتے شئ۔"

په دے آیت کښے دا صراحت موجود دے۔ چه موږ دَ
ځمکې نړۍ اَو ماحول نه پردی ماحول ته منتقل کیدَ ے
خو شو۔ خو دَ یو خاص طاقت په ذریعه۔

اُوس سوال دا دے چه هغه خاص طاقت کوم دے؟
اے ایټمی طاقت؟ ایټمی طاقت خو دَ انسانی ذهن
اختراع دَه۔ اَوْ نیمه اختراع دَه۔ که په نیمه ډول
استعمال شی۔ موږ ئے دَ کائیناتِ دَ تسخیر په سلسله
کښے دَ یو جزو په حیثیت استعمالول غوره ګڼو۔ لیکن
دَ کائینات تسخیر یواځے په ایټمی طاقت ممکن نه دَے۔
ځکه چه دَ دے دپاره دَ یو داسے طاقت ضرورت دے۔
چه لوئ څښتن دَ لا محدوده طاقت نمائندګی کَوُنکی
وِی۔ اَو ځرنګه چه هغه لوئے ذات دَ ټولو علومو
اَوُ فنونو مېدٔ دے۔ هغه شان باید چه هغه طاقت
هم دَ علومو فنونو اَوْ توانائۀ مېدٔ وِی۔ او هغه دَ ے
"انسانیت" هم دَ هغه انسانیت هغه قوت اَوْ طاقت دے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه موږ ته د کائنات د هر ماحول د اثراتو د زغملو او د هغه د صحیح مدافعت کولو جوګه کوی - ځکه چه انسانیت د کائنات مرکزی قوت دے. او ټول کائنات د انسانی وجود یا د دے مرکزی قوت تفصیل دے. د دے نه علاوه بل هیڅ صحیح تحقیق ممکن نۀ دے- ځکه چه کائنات په حقیقت کښے د انسانی خاصه اِرتقاء او د اجمال نه تفصیل ته د راتلو دویم نوم دے. کوم ته چه موږ د انسانی حقیقت نزول وایو- کوم چه د ټول کائنات د تخلیق نه پس څرګند شوے دے, لکه د تخم یوه دانه چه په ابتداء کښے دانه وی خو د پالنے نه پس تر یوه کامله اُونه جوړه شی- او د دے نه پس پکښے هم هغه د تخم دانه څرګنده شی. د کومے نه چه د هغے تفصیلی وجود ظاهر شوے وُو.

اوس په دے کښے د شک کولو هیڅ ځائے نشته- چه د اُونے هغه ټول تفصیلی صورت هم د هغے تخم په دانه کښے پټ وی د غه شان انسانی ازل د هم د هغے تخم د دانو په څیر دی- چه د کائنات د تفصیل نه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ږي په کښې ظاهر شوي دي ۔ او بیا هم په دغو دانو کښې
کائنات د اُونې هغه مفصل وجود موجود دے کومه
د هغونه ظاهره شویده ۔ خو د تخم دا دانې د ابتداء
لا د حیوانیت د چیچو ښکار شویدی ۔ اَو هم دغه وجه
ده چه اول خو د هغونه کړوې وُنې د پیدا کیدو امکان
نه وی اوکه دي تو تکمیل ته نه رسی ۔ اوکه د رسیدو
قابله هم وی نو د رسیدو نه اګاهو غوخه کړې شی ۔
داخو ښکاره خبره ده چه کوم بوټی د مالی د پالنې
د لاندې وی ۔ هغه نه یوازې دا چه د تخم پیدا کولو
قابل وی ۔ بلکه میوه هم پیدا کوی ۔ که چرې انسان
د لوئې خدائی د منشاء سره سم ژوند کول غوره
اُوګنی ۔ اَو د هغه د هدایت په رڼا کښې د ارتقاء
مرحلې اُوهی نو هغه به اُرو مرو خپل حقیقت ته
اُورسیږی ۔ انسان د ژوند په غایت ورو ورو
بند ربح پوهیږی ۔ ځکه خو هغه ته د وحی ضرورت
دے ۔ اوکه هغه د وحی په اشاره تګ غوره اُونه ګنی
نو د خپل وجود حقیقت ته د سختو وغرو خوړلو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه بغیر نشی رسیدے ۔ اَو که هغهٔ دَ محض شعور په اسـ
تلل غوره کړی۔ نو ډیره ګرانه ده۔ چه هغه دَ انسا
غایت ته اُورسی۔ ځکه چه دَ هغهٔ دَ وجود سره سره
دَ هغو شعور هم اِرتقا کوی۔ او دَ اِرتقا کولو په حالتـ
کښے هیڅ څیز هم په هیڅ صورت کښے دَ ځان دپاره ــ
مستقبل په خقله یَو صحیح نصب العین نشی ټاکلے۔ د
مرتبه خودی "عین" یا شعورِ اکبر دَه ۔ چه دَ صحیح نصب العین
تعیّن اُوکړی ۔ اوکه څوک په اتفاق (که څهٔ هم اتفاق
دَ اهلِ عقل په نزد دَ هیڅ حقیقت نه لری) دَ شعور په
اشاره ترقی اُوکړی۔ نو بیا هم دَ لپکار دی چه دَ اِرتقاء
په دوران کښے به هغه دَ شعور دَ تکمیل مرتبے ته اول رسیدلی
وِی۔ اَو پسته به ئی ترقی کړے وِی ۔ اَو که دَ اِلٰهی وحی
هدایت په مطابق کوشش اُوکړے شی ۔ نو په دے به
نهٔ یوازے دَ هغه شعور کامِل شی بلکه په دے رنګ
کښے دَ هغه دَ صحیح غایت دَ ټاکلو هم قابل شی۔ دَ دے
په خلاف محض دَ شعور په اِرادہ منزل کُول به دَ هغه
شعور خو پوخ اَو کامل کړی۔ خو دا ضروری نه دَه۔ چه

هغه څښتان د پاره د یو داسې نصب العین تعین اُوکړي
شي. چه د انسانیت غایت نه ئې اُو رسولې شي. خو چه
هر کله خپل حقیقت اُوموني نو ورود ته معلومه به شي
چه ټول کائنات هم د هغه وجودي نمود دے
هغه د کائنات د هرے ګوټے نه واقف او د هرے ګوټے
د کیفیاتو او حالاتو عالم دے.

دا دے هغه مجازي مرکز کوم چه د مادي کائنات
د پاره ټاکلے شوېدے. خو هغه لا تر اوسه د بحراني
حالاتو د طوفان نه خلاص شوے نه دے. د هغه علم تر
اوسه څکه ناقص دے. چه هغه د پیدا کیدو سره
د کائنات په پرسیر دو نو ننداره کښې ډوب شي. کرخه
هم دا ضروري ده. چه هغه د کائنات په ننداره بوخت
شي. څکه هغه په کائنات باندے د حکومت کولو
د پاره پیدا شوے دے. خو د دے دا مطلب نه دے
چه هغه همیشه هم په دے ننداره کښې غرق پاتے شي.
په دے سره هغه د کائنات د عکسونو نه دومره متاثر شي
چه کائنات او د کائنات فطرت په هغه حکومت کول شروع

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړی۔ که انسان دَ ابتدا نه دَ انبیاءُ دَ هدایت سره سم
روان وَے۔ نو هغه به دَ هرڅهٔ نه اوّل دَ خپل وجود
علم حاصل کړے وُو۔ دَ هغې نه پس که هغه دَ کائینات
په متداره اَوُ تحقیق کښے بوخت شوی وئ۔ نو دَ
مادیت په چیچو کښے به نه بهیدو۔ څکه خو به سقراط۔
وئیل چه" دَ هر څهٔ نه اول خپل نفس اوپیژنه" نو
انسان که چرے خپل نفس اُوپیژندئ شی۔ نو هغه
به کائینات هم په خپل اصلی صورت کښے اُو پیژنی۔
څکه چه کائینات هم دئ دَ انسانی حقیقت تفصیل
خو کوم وخت چه هغه دَخپل نفس دَ پیژندلو نه
آګاه هو دَ کائیناتِ په معرفت کښے مصروف شی۔ اَو
تر څهٔ حده دَ معرفت حاصلولو نه پس خپل نفس ته
راستون شی۔ نو دَ هغهٔ هغه دَ کائینات حاصل کړی
علم دَ هیڅ کارنهٔ دِی هغه په تیرو کښے تیندکونه
وهی۔ دَ خارج علم خو په اصل کښے دَ داخل دپاره
حاصلولے شی۔ که دَ کائینات دَ حقائقو دَپیژندلو نه
زمونږ نفس ته څهٔ فائدهٔ نه رسی نو دَ هغو ضرورت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څهٔ دے؟

دَ شیانو دَ علم دَ پاره ضروری دَه. چه موږ دَ شیانو دَ ماهیت نه دَ واقف کیدو دَ پاره دَ هوښ نه اوّل دَ شیانو دَ میدو پیژندلو تکل اُوکړو. اَو چه کوم وخت دَ هغه په پیژندګلو کښے بریالی شو، نو دا شیاءُ اَوُ دَ اشیاءُ دَ استعمال په حقله علم به راته په آسانه حاصل شی. لکه څنګه چه دَ الفاظو دَ معنو دَ مُنا کلو دَ پاره په بنیادی توګه دَ الفاظو په مصادرو کښے غور کوُل ضروری وی. لیکن انسان دَ شیانو په پیژندلو کښے خو پوره پوره غرق دے. اَوُ دَ شیانو دَ میدُ نه بیخی غافل. ځکه خو هغه دَ شیانو حقیقی غایت اَوُ مقصدیت ته نه رسیږی. هغه دَ کائنات په ننداره کښے خو هم ځکه ډوبَ دی چه دَ هغهٔ په باطن کښے دَ کائیناتُ دَ تسخیر کوُلو تحریک موجود دے. خو هغه په دے زیار اَوُ لټون کښے دَ مادی غوښتنو څخه دا سے ښکار شوے دے چه دَ مادّیت یا دَ حیوانیّت په ولس کښے نږیوَ کو داکښی جوړ شوے دے. خو سره دَ دے هم هغه

تر او سه د خپل ځان نه بهر په سیل کولو اخته دے.
او کومو لږو کسانو چه خپل ځانونه پیژندلی دی. د
هغو دنیا ته هډو غوږ نه یږدی. هغه خپل ځان په
آئینه کښے ګوری. او د خپل عکس د دا ئیولو په رهاصله
تکل کښے مصروف دے. په دے تکل کښے که څه هم
هغه د خپل عکس څه نه څه علم حاصل کړی. خو لاس
ته هیڅ نه ورځی. او که هغه د خپل باطن دنیا ته کوزشی
او غوږ اوکړی نو ورته معلومه به شی. چه څرنګه د
کائینات خالق په حقیقت کښے د ژوند حرکت او کشش
مرکز دے. د غه شان انسان هم په کائینات کښے د ژوند
حرکت او کشش مرکز دے. د کشش سرچینه هم
د هغه ذات دے. نه د کائینات شیان. هغه دا دخت
په نیشه شان د خپل مخ تصوّر هم نشی کولے ځکه
چه د خپل وجود نه بهر دے.

په دے کښے شک نشته چه د یو څیز د پیژندګلو د پاره
د انسان او هغه څیز ترمینځه د لوړے والی او فاصلے
ضرورت وی. لیکن ولے؟ انسان ته دا معلومه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ه دَه. چه دَ هغه انسانی حقیقت (رُوح) اَو په مادی
جسم کښې یَوه عظیمه فاصله موجوده دَه په دے شرط
چه هغه اول دَ خارجی نړۍ تنداره پرېږدی. او خپل
حقیقی جهان ته راشی اَو بیا په غور اُوګوری. خو چه
واپس راتګ هم غوره ګڼړی کنه !! او که څوک ورته
ئې اُوګوری. اَو خپل کور ته دَ واپس راتلو بلنه ورکړی
نو په هغه باندے څۀ داسے وحشت راشی لکه چه
څوک ئې تیاره او تنګ تورزندان کښې دَ قید ولو
په تکل وِی. په دے سره دَ هغه په وحشت کښې لا
زیاتی اُوشی. اَو دَ خپل کور دَ تصوّر دَ راتلو سره هغه
دے خوانه لا خپله منډه تېزه کړی.

دَ کائنات اَو دَ هغه دَ شیانو دَ پېژندګلۍ دپاره
انسانی نوع دَ روحانی وجدان په څلئے دَ فلسفے په
پښو تګ خوښ کړیدے. خو دَ یَو دانشور دَ قول سره
سم دَ هغه مثال دَ هغه سپی دے. کوم چه دَ خپلے لکۍ
دَ رانیولو په تکل وِی. خو رانیولے ئې نشی.

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# پنځم باب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ۵

# اجتماعیت اَؤ انسان

کوم وخت چه دا معلومه شوه چه دَ لوئے ښَنَتن دَ منشاء سره سم دَ کائیناتَ دَ پاره مرکزی اَؤ محوری طاقت انسان مقرر شوے دے. اَؤ هغه دَ کائیناتَ دَ حقیقت یَو مجمل وجود دے نو لازمه دَه چه هغه دَ اجتماعیت شعور هم اُولری. ځکه چه دَ انسانیت اِرتقا اَؤ تکمیل په اجتماعیت اړه لری دَ افرادو دَ ترقیٔ اَؤ تکمیل مراحل صرف په اجتماعی ژوند کښے سرته رسیدے شی. اَؤ څرنګه چه په تیرو صفحو کښے لیکلی شوی دی. دَ خپلے کمی اَؤ خامی احساس صرف په اجتماعیت کښے ممکن دے ځکه چه هیڅ انسان ځان په انفرادی دول دَ خپلو

تو لو ذمه داریونه ځان نشي خلاصولے او نه د ژوند
څه معنے په پوهه کښې راتلے شي. که چرے دا ممکنه دِ
نو قدرت به انسان ته صرف یو لاس ورکړے وو.
د دوؤ لاسونو منشاء دا ده چه که د هغه یو لاس بې
هم شي. نو هغه به د هغه بل لاس په ذریعه د ژوند
کښتۍ تر څه حده بیوئ شي. دغه شان سترګے او
غوږونه داخلي. هغه هم دوه دوه دي. خو د هغو
د لیدو او اورېدلو حاصل یو دی. د دوه سترګې
څه په داسے ډول جوړے کړیدي. چه ځان ته
م هره یوه لیدل کولے شي. او که یوه سترګه پټه
کړے شي نو په دویمه سترګه هم هر څه لیدے کیدے
شي. او هر کله چه دواړه سترګے په متحده ډول یو شیز
ته اوګوري نو په باطني حاسه کښې د دواړو لیدلی
شوی شیز یو عکس پیدا کوی. بیا دا خبره هم
عجیبه او د اجتماعیت یو فطري دلیل دے. چه که چرے
یوه سترګه بوے ډړے ته واړولے شي. نو دویمه
سترګه هم هغے ډړے ته اوګرزي. دا هیچرے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نډه چه انسان په يوه سترګه يو او په بله سترګه
خيز په يو وخت ګڼي او ليدے شي. دا د قدرت
اده ده چه هغه د انسان نه وحدت او اجتماعيت
اري. او چه هر کله په انساني نوع کښې وحدت نه
ي. مرکزيت هم نه وي. او د مرکزيت د نشت
په وجه د طاقت د پاره هم يو محل موجود نه وي.
او کوم وخت چه د طاقت د پاره يو محل او مرکز نه وي
او طاقت په مختلفو ټکړو کښې تقسيم وي نو د انسانيت
دنيا خو لا څه کوے په يو قام او ملت کښې هم د
طاقت د پاره يو مرکز نه پاتے کيږي. او ملتونه د بل
قام يا ملت په غلامۍ کولو مجبور شي. او د دروستو
پاتے ذليلو خلقو ژوند تير وي.

هم دغه شان د دوو غوږونو هم دا حال دے چه
که څه هم جدا جدا او خان ته هم د اوريدو طاقت
لري. خو په باطني خاسه ئې آواز اِکي يو محسوس کيږي
او يو آهنګ او مفهوم ظاهر وي. دا نشي کيدائے
چه په يو غوږ يو او په بل غوږ بل آواز واوريدے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شي۔ ځ دے نه دا هم معلومه شوه۔ چه که یو غویږ یا یوه ستر ګه بے کاره شي نو ډیو نه هم کار اخستے شي۔ او د وحدت منشاء بیا هم پوره کیدے شي۔

انسان متمدن پیدا شوے دے۔ په دے کښے د قدرت دا منشاء وه۔ چه ترڅو هغه د خپل نوع سره په یو اجتماعیت کښے ژوند او نه کړي۔ نو نه خو هغه حقیقي ترقي کولے شي او نه انسانیت د حیوانیت نه آزادولے شي۔ دے د پاره ضروري ده۔ چه د فرد او اجتماع په حقله څه او لیکلے شي۔

ځنے پوهان فرد ته په اجتماع ترجیح ورکوي۔ او د ځنو په نزد اجتماع یو مستقل واقعیت دے۔ چه د فردي حقائقو سره هیڅ مشابهت نه لري۔ مثلاً آکسیجن او هیډروجن که د یو بل نه جدا وي۔ نو خپل مخصوص اوصاف نه لري۔ او چه سره یو ځائے شي نو اوبه به ترے جوړے شي۔ چه د دے اوبو خواص به نه د آکسیجن په شان وي او نه به هیډروجن ته ورته وي۔ ځکه نو فرانسوي دانشورد وړکهایم هم د دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نظريئے تائيد کړيدے. خو دَ دے مطلب دا هيڅرے نشي کيدَے چه په اُوبو کښے آکيجن اَو هيډروجن خپل انفراديت بيخي ختم کړي. که دا سے ممکنه وئ نو هغوی دَ اُوبو وجود به نه وو ظاهر شوے. بلکه اُوبه دَ دَ غونګيسو نو نه علاوه نور هيڅ څيزنه دَے بلکه دَ دواړو متحدّه صورت دے. اَو دا متحدّه وجود دَ دواړو ګيسونو نمائيندګی کوی. اُوبه بے رنګه څيز دے. خو چه هر کله ترے بدلئ يا واوره جوړه شی. نو رنګ ئ سپين شی. اے مونږ وئيلے شو چه سپين رنګ په طبعی دول په اوبو کښے موجود نه دو؟ که څه هم مونږ دا هم اُومنو چه دَ منجمد کيدو نه پس هغه دَ دنيا نه سپين رنګ اخلی. ليکن دا حقيقت نه دے. چه په اوبو کښے دَ سپين رنګ قبلولو استعداد موجود وو؟ بلکه په هغو کښے دَ هر دول رنګ قبلولو استعداد موجود دے. نوکه مونږ دا اُودَ اُوبو چه په هغو کښے هر رنګ موجود دے نو بے ځايه به نه وی. انسانی کُل يا اجتماع دَ افرادو نه تشکيل موی. اَو کوم وخت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه افرادو په خپله خوښه دَیوې اجتماع تشکیل کړی. هغه اجتماع دَ افرادو دَ مجموعی آرزوګانو اَؤ خواهشاتو یَو مجموعی شکل یا آئین دی. هغه چیرې دَ افرادو په خلاف خپل طبیعت نشی جوړولے. اَؤ که دا سے ممکن وَے. نو اجتماع به هډو په وجود کښې نه داتله. اَؤ هر کله چه کُل یا اجتماع دَ افرادو دَ آرزوګانو اَؤ دَ خواهشاتو نه خلاف په بله لار روانه شی. په خپلو کښې مخالفت اَؤ تصادم پیدا شی او په دے وجه اجتماع سالمه پاتے نشی. اجتماع صرف دَ افرادو دَ پاره دَ امن قائیمولو اَؤ ترقی کولو دَ فطری ضرورت دَ لاندے جوړولے شی. دَ هغه دَ پاره ضروری دَه. چه اجتماع هم دَ افرادو دَ فطری غوښتنو سره سم وی. کنی دَ اجتماع دَ نشت په حالت کښې هم فرد دَ خپل ژوند حفاظت کوی. که څۀ هم هغه دَ اجتماع نه بغیر دَ ذهنی اَؤ مادی ترقۍ نه وروستو پاتے کیږی. تا سو به کتلی وی چه دَ باغ دَ اونو په مقابله کښې دَ ځنګلی اُونو جوړښت ډیر مضبوط اَو اوږدے وی. دَ دے وجه دا دَه. چه دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ل خوراک اَوُ غذا دَ پاره زیار ایسل اَوُ لټون کَوُل
خپله دَ دے اُونو کار وِی. اَوُ هغه دَ اُوبو په لټون
پسے تر لوے لوے خورے شی. لیکن دَ یاغ دَ اُوبو
نو پالنه او څارنه کیږی ځکه نُو دَ هغو جرے دَ ځنګلی
اُونو په ځیر اُوږدے نهُ وِی. نو هم دغه وجه دَه
چه دَ نوانش دانشورانو دَ خپلے زمانے دَ اجتماعیت
نه خفه وُو. اَوُ ویل به ئی چه "اجتماع کهٔ هم په یَوه
زمانه کښے مفیده وَه. خو اوس دَ انفرادی ژوند دَ
پاره مضره شویده. اجتماع اوس یوے داسے مرحلے
ته رسیدلے دَه چه دَ فرد دَ بربادَولو نه سوا دَ هیڅ به
نهُ ده یاته. اجتماع لګیا ده افراد خرابوی دَ انسانی صفاتو
دَ تباه کَوُلو سره سره دَ فساد اَوُ بدبختی کرونده کوی"
خو دے سره هم دوشنو اخبره نه هیرَولو. چه انسان
اوس غاردونو اَوُ ځنګلونو ته واپس خو نشی تلے اَوُ
هغه دَ وحشت ژوند خو بیا نشی تیرولے. دَ پیړو
پیړو داسے په اجتماع کښے اوسیدو په وجه انسان
دا بد عادت اخستی دے چه اوس دَ اجتماع نه بغیر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ژوندے نشی پائیدے - نو اوس به د افرادو دَ بد بختی علاج څه وِی؟ ضروری دَه چه اوس دَ فرد او اجتماع په رابطه کښے تبدیلی پیدا کړے شی. باید چه اوس دَ فرد او اجتماع ترمینځه یَوه داسے توزانمه اوشی. چه دَ هغے په روئی سره دَ فرد دَ حقوقو تحفظ اوکړے شی او اجتماع دَ افرادو دَ ارادے نه تشکیل کړے شی.»

دَ فرد او اجتماع په حقله دَ څه مختصر غونډے لیکلو نه پس چه اوکتے شی نو صفا ظاهره دَه چه دَ انسانی اجتماعیت ابتدا دَ یَو سری اَو دَ یَو ے ښځے نه شویده. چه مونږ ورته ښځه خاوند وایُو. کوم چه دَ انسانی اجتماعیت بنیادی ګټه دَه. او هم دَ دے د پاسه دَ انسانی اجتماعیت دیوال وَ ولے شی. ضروری دَه چه دَ انسانی اجتماعیت دا بنیادی ګټه دَ حیوانیت نه بلکه دَ انسانیت په رنګ کښے کیښولے شی ځکه چه دَ تزویج تاریوازے په انسانانو کښے نه بلکه په حیواناتو او نباتاتو کښے هم موجود دے. خو دَ انسان دا تعلق دَ حیواناتو وغیره نه او چت پکار دے ځکه چه دَ انسان دَ نظر منتها یوازے اولاد پیدا

کوُل نه دِی . بلکه دَ نسل په ذریعه دَ انسان د فطری وظیفې تکمیل هم دے . اَوُ هغه دَی دَ دنیا نظام د علومو اَوُ فنونو حاصلول اَو په ټول دَ افلاطون خپل کمال اَو جمال ته رسیدل .

دَ سړی اَوُ ښځې دا دوړو کې اجتماعیت د دوی په درو خوږی لوبه، ځامن، لمسا او لمسی پیدا شی . اَو دَ دے نه یو خاندان یا ګورهم تشکیل اُو موی . دَ دے خاندان یو منتظم اَوُ حاکم وِی اَو دَ خاندان ټول عزی دَ هغه دَ هدایت سره سم ژوند تیروی . اَو هغه حاکم یا مورث اعلی هم دَ خپل خاندان دَ اټوا دوِ دَ آرام اَوُ خوشحالی خیال ساتی . که چرے دَ سړی اَوُ ښځې دا جوړه په ابتداء کښې دَ اخلاقو نمونه ثابته شی نو دَ هغوی بچی به هم دَ هغوی دَ اخلاقی قدرونو نه متأثر شی . اَوُ دا به یو داسے درو کې جمهوریت وِی چه په هغه کښې به دَ حاکم اَوُ محکوم منشاء یوه وِی . یعنی څه چه دَ حاکم منشاء وِی . هم هغه به دَ محکوم وی . اَوُ که دَ دے جمهوریت بنیادُونه په حیوانیت ایښې شوی وِی نو که نه وِی که

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پسته دَ رعایا به دَ خپل حاکم په خلاف دَ بغاوت جنډا اُوچته کړی. اَوُ دا جمهوریت به هم د ډیر ابتداء کېښے ساده وو کړی.

بیا چه دا خاندان کښ شی یَو کلے به تیر جوړ شی. اَوُ بیا به ورو ورو دَ یَو ے ښهرینه په شکل کښے بدل شی. خو دا یقینی خبره دَه. چه کُومه دَ نبیاد دَ کټه دَ سرې اَو ښځے دَ تعلق په ابتداء کښے ایښے شوی وی هم به هغه بُنیاد به دَ کلی اَو ښهر دیوالونه هم د هلته کیږی. که هغه دَ انسانیت په بُنیاد ایښے شوی وی نو کلے اَوُ ښهر به هم دَ انسانی قدرونو اَوُ اخلاقو ترجمان وی. کنی تسلط به دَ حیوانیت وی.

ارسطو هم دَ انسانی جمعیت په حقله دَ خپلو خبرو ابتداء هم دا سے کوی. اَو چه کوم وخت هغه دَ انسانی تمدن کا ډے ښهرینه ته راورسوی نو بیا دَ خپل سیاست وغیره نور بُنیاد هم په ښهر دی. اَوُ دَ ښهر اَو ښهر ولی په سلسله کښے دَ ډیر دَ مختلفو ډولونو وضاحت کوی. دا ځکه چه هغه وخت تمدن

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دومره خوراو هم ګیر نه ؤواو نه په دنیا کښې د انسانی
درور ولۍ اؤ پېرزوینې آفاقی تصور پیدا شوې ؤو۔
د یونان پوهانو چه یو پخېځ ارسطو هم دوؤ غلامانه
نظام منلو تیا کړې ده۔ او د یونان په یو ملک
کښې د ډول ډول طرزونو حکومتونه قایم ؤو۔ خو په
دې دور کښې چه مونږ د اجتماعی نظام تصور کوو نو
هغه د یو بین الانسانی یا بین الاقوامی نظام نه کم په
هیڅ ډول د دې زمانې د غوښتنو سره سم نشي کیدې
او که د دې په خلاف ئې تصور اوکړې شي نو دا به
د انسان په هغه ګیروا او آفاقی غوښتنو یو ظلم وي۔
نن پرون چه د یورپ د خاورې نه د قومیت کومه
نظریه راپیدا شوې ده دا هم د غلامانه نظام یو
ترقی یافته شکل دے۔ کوم چه بیخي د انساني قدرونو
ضد ده۔ د قومیت نظریه خو به په هرحال کښې وي
ځکه چه دا د انساني فطرت د ژوره نه پیدا کیږي
خو که د قومیت دا فطري جذبه که په خپل فطرت آزاده
پرېښودې شي نو هغه به بیخي د جهانیت ترجمانه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډی. او د دې اردون د نظرئیې سره د متفق کیدو په وجه
به د انسانی نوع د پاره د ډېر هروزنه کمه نه وي ضروري ده
چه د قومیت دا فطري نظرئیه د مذهب او انسانی
پېژندګلوئي د لارښئي ده اوکړي. چه د عمل بنا خونه ئې
د انسانیت د مرکزونه دا تو کیدل لې ډي.

نو کوم وخت چه موږ د انسانی اجتماعیت بنیادي
اُمورو ته متوجه شو نو ضروري ده چه موږ ابتدا او د
تصور نه اوکړو. چه لکه موږ د دنیا په ابتدا کښې ژوند
کوؤ. او د یو خاندان نه چل اجتماعي اجتماعیت شروع
کړو. او د دې اجتماعیت د تاسیس په وخت د دې حقیقت
نه غافل پاتې نشو. چه کچرې موږ د هغه بنیادونه په
حیوانیت کښې ول نو زموږ ټول تمدن به هم په دې
بنیاد و نو جوړیږي. خو ترڅو چه د یو داسې نظام او تمدن
بنیاد کښې نه ښودئ شي چه د هغه د لاندې ټولو
انسانی افرادو او قامونو ته د امن او ترقۍ ضمانت او
موقع حاصله وي. هغه به د لوئې ښتني د نمائنده کې
او نیابت حقدار نه وي. او هرچرته چه چا د حیوانیت

په بنیادونو د انسانی معاشرے تشکیل اوکړو۔ هغه نه خو په دے دنیا کښې د امن او د خوشحال ژوند سرته رسیدو شی۔ او نه د کائنات په تسخیر کښې کامیابی او عزت حاصلولے شی. ځکه چه په انفرادی ژوند صرف د ذاتی مفاد نه چاپیره چورلی۔ او په هیڅ قیمت هم ذاتی منفعت او خوشحالی نه قربانوی۔ هغه ورو ورو د وحشی او ځنګلی ژوند نه کلی وال او د کلی وال ژوند نه ښهروال ژوند ته رسی۔ هغه په ظاهر کښې د اجتماعیت په نقطه قائم ښکاری۔ خو په حقیقت کښې خورا او پریشان دی د هغه د ژوند په حلقه د طاقت یو مرکز نه دی هغه چه قوم وخت په مختلفو قامونو کښې تقسیم شی نو د هر یو قام نه یو انفرادیت جوړ شی۔ چه د نورو قامونو نه ممتاز او ځان ته تهذیب او تمدن لری۔ او هغه هم د نورو قامونو په څیر د حیوانیت په لمسه د نورو قامونو د محکومولو او مغلوب کولو د پاره هر وخت د موقع انتظار کوی۔ هغه ته د خپل حرص جذبه دا موقع نه ورکوی چه هغه په خپلو جغرافیائی حدودو او ملکی پیدا اوار

تا نۀ رسي. هغۀ خپل حدود او پیدا وار نور هم زیاتول غوره کړي. ګویا کېنې انسان دومره ترقي خو کړې ده چې هغۀ د ځنګلي ژوند نه ښهري ژوند ته اوړسېږي خو ولې هم د حیوانیت د جغ نه نۀ شي وتلې. د فرشا د یورپ هغه خلق چې انسان ته یو مهذب ځناور وائي نو هم تر څۀ حده صحیح دي ځکه چې هغه مهذب خو دي خو سره د دې هم ځناور دي. یعني حیوانیت پرې غالب دي. د هغۀ د عقل چراغ د حیوانیت په لاس کښې دي. د هغۀ ارتقا ټوله د حیوانیت د غوښتنو د لاندې جاري دي. د هغو علوم او فنون هم د حیواني غوښتنو پیدا وار دي. او څرنګه چې د نورو حیواناتو حالت دې. هم هغه د دوئ دي. بلکه د نورو حیواناتو په مقابله کښې د انسان حیوانیت زیات خطرناک دي. ځکه چې د انسان د حیواني غلبې نتیجه یقیناً جارحیت دي. چې یو تمام یکښې د بل تمام استحصال غوره کړي. البته د دنیا یو تمام که د دې حیواني غلبې نه مستثنیٰ هم دي او د هغۀ انسانیت په حیوانیت غالب هم دي. خو د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بنیا دَ نورو جارحو قامونو دَ مقابلې دَ پاره په مدافعتی نظاماتو کولو مجبوروی. اَوُ ځکه نو هغه هم په مدافعانه جنګو نو کښې بوخت وی.

دَ انسانی نوع دَ دے پریشانئ اَو ځان ځانئ په وجه دَ ریاست نظامونه هم دول دول اَو دَ یو بل نه مختلف وی. اَو هغه صرف دَ یو قام دَ افادیت ترجمان وی. چه په هغوکښې جارحانه اقداماتو امتزاج هم وی. په هغو کښې دَ نورو انسانی قامونو دَ پاره دَ استحصال نه سوا نور هیڅ نه وی. پکار خو دا دُو. چه یو انسانی نوع په بنیادی دول دَ لکی یو تهذیب اَوُ تمدن حامل وی. اَو دَ هر قام دَ ریاست مزاج هم دِ کم نه کم بین الانسانی وَے که څه هم دَ قامونو دَ بیلو بیلو روایاتو اَو مختلفو قامی غو ښتنو اَو دَ ژبے دَ جُدا والی نه انکار نشی کیدَے خو دا شیان په یو بین الانسانی نظام کښې دَ اختلاف اَوُ دُښمنئ سبب نشی جوړیدے. ځکه چه انسان دَ نوع په حیثیت په خپلو کښې هیڅ بنیادی اختلاف نه لوی. خو دَ حیوانیت دَ غلبے په وجه هغه نه یوازے دا چه دَ یو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بین الانسانی نظام په قایمولو کښې تر اوسه کامیاب نشو. بلکه د دنیا یو بل قام هم که د یو اجتماعی نظام په جوړولو کښې کامیاب شی. نو هغه هم د هغه قام د یو څو افرادو منفعت او ذاتی اقتدار ترجمان دی. انسان د خپل قام سره هم پوره پوره انصاف نه کوی. نو د عامو انسانانو سره خو د انصاف کولو خو هډو سوال نه پیدا کیږی. او دا ځکه چه په انسانانو کښې چه هډو یو بین الانسانی یا بین الاقوامی اجتماعیت شته دے نه. نو په قامونو کښې هم صحیح اجتماعیت او انسانی ورورولی مساوات او پیرزوینه موجوده نه ده. که چرے انسانی قامونه هر یو جدا انفرادیت لری خان خان ته هم یو داسے نظام جوړ کړی. چه په انسانی همدردی مبنی وی. نو د دے صالحو افرادو د اتحاد نه به یقیناً یو بین الانسانی اجتماعیت پیدا شی. خو چه افراد (قامونه) په صحیح معنو کښې صالح نه وی نو د صحیح او صالح اجتماعیت د قایمیدلو هډو سوال نه پیدا کیږی. البته په ځنی قامونو کښې چه تر څه حده خوشحالی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لیدلے کیږی. هغه د افرادو د بیدارۍ او د علم او فن
په زیور د ښایسته کیدو په وجه ځکه هلته هم صحیح
معنو کښې د اجتماعیت وجود نشته. د امریکې د جمهوریت
د هغه خانګه د بیدار مغزو عوامو هیڅ دی. ځکه
چه هلته اکثریت ویښ دی. او د چا همت نشته.
چه د هغو په فطری آزادۍ او انسانی حقوقو تیری
اوکړی شی. خو په هغو کښې هم د نورو انسانی تاسونو
دپاره د پیرزو یو جذبه نشته. د انګریزانو بادشهت
هم په حقیقت کښې د جمهوریت یو ښه نمونه ده. خو
ښکاره ده چه هغه د نورو قامونو دپاره سخته استعماری
جذبه لری. که روسی اشتراکیت ته اوکتے شی نو هلته
هم دغه حال دے. هغوی د ګیډے په ضرورتیانو
ترڅه حده خو قابو موندلے دے. خو د دے په بدل
کښې ئې د انسانی ضمیر او د روحانیت خاتمه کړے ده.
نو اوس د نړۍ لوئې طاقتونه هم دغه بیا نیږی. امریکه
او روس ظاهره ده. چه اوس هم په نړۍ کښې د
طاقت توازن صحیح نه دے. ځکه چه د طاقت دپاره یو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عمل او مرکز نشته۔ او چه ترڅو د طاقت د پاره یو مرکز نه وي. د دغې ویره هر وخت موجوده ده. او هیڅ امکان نه لري چه دا دغه واقع نشي چه د دې په حقله به په راتلونکو صفحو کښې هم لیکلي کیږي. ځکه چه فطرت د همیشه د پاره د مرکزیت نشت هیچرې نه زغمي. فطرت به یقیناً د مختلفو طاقتونو بې سرئ او خودارادیت ختم کړي. او هغوئ به په زور یو مرکز ته را اوګرزوي. خو بیا به هم د طاقت د پاره یو قوي مرکز موجود نه وي. ځکه چه د فطرت جبري قوانین خو به هغوئ یقیناً یو مرکز ته راولي. خو انساني "انا" به مطمئنه نه وي او هغه به هر وخت د دې مرکزیت په ماتولو کښې بوخته وي. دا ځکه چه د دې دغې او د طاقت په ظاهره کښې د مرکزیت جوړیدو نه پس به هم حیوانیت یقیناً ژوندے وي. او هغه به د دې مرکزیت د ماتولو د پاره هر ممکن کوشش کوي.

نن دا یو منلے شوے حقیقت دے چه د کائنات د طبیعي فطرت په مقابله کښې د انساني "انا" فطرت بیخي مختلف او جُدا حیثیت لري. لکه څرنګه چه د ساز تار او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو دو فلاسفو تحقیق دے. چه انسانی "انا" دَ مادی فطرت
جُز نه دے. بلکه په فطرت کښې یَوه اجنبی اضافه دَه. تو څو چه
په انسانی "انا" کښې دَ فکر وحدت نه وی څرګند شوے دَ
طاقت دَپاره یَو مرکز هم نه پیدا کیدَے شی. که څه
هم دَ رُوس اَو امریکې طاقتونه په خپلو کښې دغره اُوهی
اَد په نتیجه کښې یَو غالب اَو بل مغلوب هم شی خو دا مرکزیت
به هم څو ښکیچه اُوُنیل شول. دَ حیوانیت دَ لانده جوړ شوے
وی. اَد مغلوب طاقت هروخت چه موقع وی سرکشی اَو
بغاوت کولے شی. ځکه چه هغه مطمئن نه وی. اَد چه
دَ بری اُمید پیدا شی دَ بدل اخستو دَپاره بیا داپورته
کیږی. اَد دا حقیقت موږ دَ دنیا په تاریخ کښې صفا صفا
لیدَے شو. دَ دنیا دا دوه عظیم جنګونه خو هم و زموږ
په ژوندکښې شوی دی. ورومبی جنګ په سنه ۱۹۱۴ء
کښې شروع شو. کوم چه دَ جرمنی آسټریا اَو دَ ترکی په
ماتې پائے ته اُورسیدو. اَد دویم جنګ جرمنی
دَ بیا دَ طاقت حاصلو نه پس په سنه ۱۹۳۹ء کښې
شروع کړو. خو دا ځل ئے دَ اکثر نه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زیات وھل اُوخوړل. دَ ھغۀ ملک توټې ټوټې کړے شو. خوسره دَ دے ھم څوک وئیلے شی. چه دَ برلن دیوال به ھمیشه دوغے ولاړ وی. او جرمنی به صبا نه بیا دَ بدل اخستو دَ پاره سر په داؤ کېښے نه بږدی. او دَ جنګ دَ ګ نه به بااُونه دانګی. دغه شان که په رُوس او امریکه کښې ھم یو طاقت ماتے اُوخوری. نو تخم موده پس به بیا ھغه دیره موجوده وی.

دا نتیجه دَ ده دَ ھغه حیوانیت کوم چه دَ ھمیشه دَ لسے په انسان غالب دے او انسان دَ ھغۀ نه ځان خلاص نه کړے شو. تر څو چه انسانی نوع دَ حیوانیت دَ مغلوب کولو او دَ انسانیت دَ غالب کولو دَ پاره مجاھده اُونکړی ھغه به ھمیشه په دے ځان ځانه پریشانه او په خپلو کښې په جنګ جګړه بوخت وی. دَ ھغه علوم او فنون به ھم دَ انسانیت دَ ښیګړے جوګه نه وی ځکه چه ھغه به دَ حیوانیت دَ لاندے حاصل کړی شوی دی. ځکه چه حیوانیت انسان ته ھیچرے دَ داسے علومو او فنونو دَ حاصلولو اجازه نه ورکوی. چه دَ انسانیت یا طن بری

روښانه شي. ځکه دوداړو حقیقت دے. چه انسان تراوسه د نوع په حیثیت د انسانیت په مرکز په قایم کیدو کښې نه دے بریالیٰ شوے. هغه د همیشه دپاسه د حیوانیت د جبر د لاندے یا تے داخلې د ے هم دغه سبب دے چه هغه تراوسه د یو داسے نظام په قایمولو کښې نه دے کامیاب شوے چه مرکزی عقل او انسانیت وي. ځکه هغه ډول ډول د نظام طرزونه جوړ کړل. او بیا ئے په خپله وران کړل. ځکه چه د حیوانیت په اشاره د ژوند په هر نظام کښې ارو مرو څه اجزاء داسے هم را شي کوم چه د انسانیت ترجمان وي. او داځکه کنه څه هم انسانیت د حیوانیت نه مغلوب وي خو فنا کیږي نه. نو ځکه د یو نظام د تاسیس په وخت هغه هم پوره پوره څه غوښتنے کوي. او خپل یو څو اصول هم داسے پوره پسے وړاندے کوي چه په هغو کښې حیوانیت یو څو د مجبوری نه قبول کړي. خو چه څو مره وخت تیریږي حیوانیت ورو ورو د انسانیت د هغو لږو اجزاؤ د دیستلو د پاره هم کوشش کوي. ځکه چه په خپل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نظام کښې هغه اجزاء نشي ځغلي. ځکه چه هغه ورته
دخپلې خپلواکۍ په لار کښې اغوزې ښکارئ. او هغه دیو
بل نظام د جوړولو په تکل شي. خو دې داسې نظامونو
دمانیدو او ورانیدو یو بنیادي وجه دا هم ده
چه انسانیت همیشه د حیوانیت د قایم کړي نظام
مخالف وي. او په هیڅ حال کښې د حیوانیت سره نه
متفق کیږي. که څه هم هغه مغلوب وي خو د هغه
وجود دې غوښتنې طبعًا احتیاج کوي. او حیوانیت هر
وخت متاثر کوي. او دا ځکه چه انسانیت هډو د
ابتداء نه د ښکلا او تناسب په لټون دے د هغه
په هیڅ داسې نظام نه مطمئن کیږي چه د ښکلا او
تناسب نه خالي وي. او په خپله د هغه د انسانیت) د
مرکز نه دي جاري شوي. د غه شان د انسانیت
او حیوانیت ترمینځه د همیشه داسې دا کوږنه جګړه
روانه ده. نو ددے اختلاف په نتیجه کښې انساني نوع
او هغه د ژوند نظامونه همیشه د بحراني حالاتو
ښکار دي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که موږ د ابتدائي اشتراکي نظام نه تو او سه د ژوند
په ټولو نظامونو غور اوکړو. نو موږ ته به په هر انساني
نظام کښې یو څیز مشترک ښکاره شي. او هغه دے
"د شخصیت او اقتدار جذبه" که څه هم بعضوئ
اشتراکي نظام د وحشي او غیر مهذب ځنګلي انسان
نظام وُو. خو سره د دے هم په هغه کښې د نوع بشر
د اتحاد او ملګرتیا امتزاج موجود وُو. ځکه چه د
هغوئ ژوند د عقل په مقابله کښې شعور او طبیعت ته
زیات نزدے وُو. خو پس د انسان د اقتدار جذبے
طوفاني صورت اختیار کړو او د انسانانو یو ټولی
د خپلو هم جنسو انسانانو په څټ د غلامۍ ژغ
کیښودو. چه هغوئ ئے نه یوازے داچه خرڅولے
او خرید کولے شول بلکه قتل کولے هم شول.
د هغه نه پس جاګیر دارانه، سرمایه دارانه او بیا اشتراکي
نظام راغے. ډکټیټري راغله. او انسان د ژوند د نظام
د دل ودل تجربے اوکړے. خو دا خفیفت د دروښانه
ورځے غونډے ښکاره دے - چه په دنیا کښے دامن پچانے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بدامني. دَ خوشحالئ په ځائے غم. او دَ انساني ضمير او دَ آزادئ په ځائے قيد او بند او دَ غلامئ لعنت وخت په وخت ظاهريدل. کوم قامونه چه په مادي ترقي کښے دروستو پاتے دي هغوئ ته ترقي يافته قامونه يا دَ هغوئ پيښے کونکي خلق پيغور ورکوي چه دَ دنيا قامونه آسمان ته اورسيدل او تاسو هم دَ هغو دَ قيانوسي خيالونو په جال کښے راګير يئ. خو موږ به دَ دے ډول خلقو ته اُوايو چه موږ ستاسو او ستاسو دَ نورو ترقي پسند ملکو دَ ترقئ نه بے خبره نهٔ يُو. او نه ستاسو دا دَ تشے نامے ترقي زموږ نه پټه دَه. او نه دا چه کوندے ستاسو دَ تهذيب تمدّن او دا نشوري لوئے لوئے دعوے زموږ نه پټے دي. خو ستاسو په ذهنيت پانده ماديت خرُ دا سے خورشوے دیٔ چه تاسو حيواني ترقي حقيقي ترقي ګڼئ. موږ ته په دے افسوس ځکه راځي. چه زموږ دا انسانان ورونه په حيواني ترقئ دے دومره فخر او وياړ کوي. پکار خو دا دُو چه هغوئ دَ وروستو پاتے انسانانو په حالت په همدردئ سره

غوږ کړے وے. دَ هغوئ دَ ژوند معیار اُو چتولو کوشش ئې کړے وے. اَو دَ هغوئ دَ مادی اَو اخلاقی افلاس دَ لرے کولو انتظام ئې کړے وے. خو دَ دے په ځائے دَ هغو دِ ينه ښسپيل غوږه کنې. دَ هغوئ سره دَ حيواناتو غوندے سلوک کوی. اَو بیا دے ظلم ته مناسب اَو په ځائ هم وائی. خو هغوئ ته دِ معلومه دِی. چه کله څه هم دَمادی ترقئ نه ورو ستو پاتے انسانان دَ خپل حقیقی مقام نه بے خبره دِی خو دَ هغوئ دَ انسانیت نطری غوښتنے مړے شوے نهٔ دِی. هغوئ په غیر شعوری ډول دَ دغو استحصال کوونکو اَو دَ فاتحینو دَ ظلم اَوُ جبر په خلاف لګیا دی تیارئ کوی. اَوُ هغه ورځ لرے نه ده چه دا فاتحین به دَ هغو دَ لاسه تباه شی.

کوم دخت چه دا خبره صفا شوه چه تر څو انسان دَ حیوانیت ښکار دی. هغه به دَ انسانی نوع دَ پاره دَ یَو بین الاسلامی نظام په جوړولو کښے هیچرے کامیاب نشی. نو اوس دَ دے علاج صرف دا دے چه دَ حیوانیت دَ مغلوب کولو اَوُ دَ انسانی انا دَ خپلواکئ په ځائے کولو دَ

زیاد اُو بیتئ شی. دَ دے زیاد اَو کوشش ابتداء صرف دَ اسلامی مِلّت نه کیدَے شی. ځکه چه دَ اسلامی مِلّت نه سِوا بل هیڅ مِلّت دَ دے قابل نهٔ دے چه هغه دا اهمے ذمه داری په ښهٔ اَو کامیاب ډول پوره کړے شی. په دنیا کښے یوازے اسلامی اُصول دَ دے قابل دِی چه په هغو باندے دَ عمل کولو نه پس انسانی دنیا دَ خوشی اَو آزادی په حقله دَ اطمینان ساه اخستیٔ شی. اَو هم دغه هغه اُصول دِی چه په حقیقت کښے دَ انسانیت ترجمان دِی. کهٔ هیے خودَ ښ نه زدکونه کاله اَمکا هوا فلاطون هم دُنیا دَ حنپل جمهوریت سرهٔ اشنا کړے دَه. اَو دَ هغے ورځے نه تر ننه ورځے دَ انسانیت لوئے لوئے دَ عوے او ریدے کیږی خو نتیجه ئے ظاهره دَه. که په غور سره اُوکتے شی. نو دَ دے نغرو پُشتی اَو ملاتړ به هم دغه حیوانیت ثابت شی. دا هم منلے کیدَے شی. چه اسلام هم په کومه ورځ دَ انسانیت نغرهٔ اوچته کړے ده. اَو تربو وخته ئی په عملی ډول ثابته کړے هم دَه. هغه اوس په نقارخانه کښے دَ طوطی آواز ثابته شوے دَه. خو دَ دے وجه دا دَه که

مسلمانانو اسلامي اُصول ډېرې اَوُ ښيان طاقچې
کښې کېښودل اَو لږه موده پس حيوانيت بيا بغاوت
وکړو آزاد شو. اَو بيا په انسانانو مسلّط شو. وجه داده
چه اسلام دنيا ته دَ ژوند کومه ضابطه ورکړې ده
او کومه چه رسول کريمؐ په عملي ډول ږِ ښتني ثابته
کړې وه. دَ هغې مدّعا دا ظاهروُل وو. چه فطري
متوازن اَوُ متعادل هم دغه يَو اسلامي نظام دے.
چه په صحيح معنو کښې دَ انساني فطرت ترجمان اَوُ دَ
انسانيت داعي دے. دَ دے مطلب دا نه وُو چه دا دَ
ژوند ضابطه ئې دَ انساني فطرت سره داسې کلکه
اَو شامله کړه، چه اوس ئې هډو دَ فطرت جُز
وُشوه. دَ انسان هغه حيوانيت کوم چه دَ هغه سرَه
دَ ټول عمر ملګرے دے په ددغه لږه موده
کښې چرته په ګُلي ډول مغلوب کيدَے شو. اَوُ په
ددغه لږه موده کښې دَ انساني لا شعور اَو تحت الشعور
نه دَ کفر اَو شرک هغه نقشونه څرنګه لرے کيدَے
شول. چه دَ پېړو پېړو راسې دَ پلرونو نيکونو نه دَ

هغوئ په نسل کښې داغلی وُو۔ علامه اقبال لیکلی دی
چه دَ تکمیل دَ پاره دَ دے درجے دی۔ ایمان، فکر اَو
معرفت، دَ مسلمانیدو نه پس دَ اسلام په حقیقت
پوهیدل ممکن دی۔ هغه خلق چه اسلام دَ غلبے نه
متأثر کیدو په وجه مسلمانان شول۔ اَو بیا په دوئیم
خلافت کښې دَ فتوحاتو په سلسله کښې مصروف پاتے
شول۔ هغوئ ته هدو داوخت په کوته ورنه غلو چه
دَ اسلام په اُصولو کښې ئ غور اَو فکر کړے وے۔ بیا
په دوئیم خلافت کښې داخلق دَ سرمایه داری عام فروغ
دَ غور اَو فکر نه لرے هم پاتے کړل۔ او چه کوم وخت
دَ څلورم خلیفه زمانه راغله اَو هغوئ بیا دَ سر نه
دَ نبوت په منهاج دَ حکومت بُنیاد کیښودو۔ نو هم
دغو مسلمانانو دَ هغوئ دَ مخالفت کَولو دپاره ملا اُوتړله
چه مسلمانان شوی خو وُو۔ خو دَ اسلام دَ روح نه بیخی
ناخبره وُو۔ بیا په دے څلورم خلافت کښے دَ هغو
اصحابو هدو کثرت ژوندے نه وو پاتے۔ کوم چه
دَ رسول الله ؐ دَ زمانے اَو دَ هغوئ صحبت ئ موندلے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وُو۔ اَو کهٔ څهٔ لږ غوندے وُو هم نو د هغوئ دَ آوازځهٔ خاص اثر نه وُو پاتے شوے په دریم خلافت کښے دَ فتوحاتو سلسله هر ورل چه دَه۔ دَ هغوئ جنګونه مدافعانه وُو که جارحانه۔ په هر حال کښے دَ مسلمانانو اکثریت دَ اسلامی فلسفے دَ روح نه ناخبره دُو۔ اَو هغه وخت دَ هغوئ دَ نفسونو اصلاح ته څهٔ خاص توجه نهٔ وه شوے۔ اَو بیا چه په قول دَ علامه اقبال دَ بنی اُمیتو زمانه سلزو بادشاهانو دَ سرو سپینو ولے اُوبهیولے نو هرے دوے ته دَ دنیا دارئ جذبه په چپو شوه۔ نو په دے وجه مسلمانان دَ حیوانیت په چپو کښے لاهو شول۔ چه په دے کښے څنے لوئے لوئے مشهور اصحاب هم شامل وُو۔

مدعا صفا دَه چه کوم خلق فطرتاً دَ اسلامی اُصولو سره متفق اَو دَ اسلام په فلسفه پوه شوی وُو۔ هغه خو ثابت قدم پاتے شول۔ اَو چه کوم داسے نه وُو۔ هغوئ تیندک اُوا هـ اَو حیوانیت پرے بیا غلبه اُوموندهٔ۔ دَ دے نظام خو دا مطلب وُو۔ چه څو دره چه انسانیت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ترقي کوي. نو هو حره به هغه ته په اسلامي اُصولو کښې سعادت
اَوُ دَ خوشحالئ اسرار معلومیږي. اسلام دَ دنیا آخري دین
دے. اَوُ دا په هغه وخت نوع بشرته ورکړے شوے دے
کوم وخت چه هغه په حیواني حیثیت دَ ارتقا ټول منزل
ختم کړے وُو. او انساني ذهن دَ ځوانئ په میدان
کښې قدم ایښے وُو. اَو څرنګه چه دَ ځوانیدو نه پس انسان
ته خپله میراثه سپارلے کیږي دغه شان انساني نوع ته
هم دَ اسلام په صورت کښې دَ انسانیت اُصول دَ یو پوره
کامل ضابطے په شکل کښې ورکړے شول. چه ترقیامته
به دَ لارے مشالونه ثابتیږي. دَ دے ثبوت دا هم دے
چه دَ خلفائے راشدینو په لږه غوندے زمانه کښې چه
کوم دَ عالم دَ پاره نظام څرګند شوے وُو. هغه یوازے
دَ عرب قامونو دَ افادیت نه چاپیره نه چورلیدو. لکه
څرنګه چه نن صبا دَ مغربي طاقتونو حال دے. بلکه
په هغه کښې به دَ نړۍ هر انسان په برابر حیثیت شریک
ګڼلې کیدو. اسلام یو آفاقي انساني نظام دے چه په
هغه کښې دَ ادنی اَو اعلی اَو دَ تور اَوُ سپین هیڅ لحاظ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نشته. دَ هغه په نزد که یَو حَبشی هم دَ قام سردار اُوټاکلے
شی. نو په هر مسلمان دَ هغهٔ اطاعت کُول فرض شی. اَو
ځکه چه موږ په تیرو صفحو کښے وَیلی دی. چه انسان
چه وخت په کوم نظام مونږ جوړ کړیدی. په هغو
ټولو کښے دَ شخصیت اَو اقتدار جذبه مونډلے شویده
اَوُ هیڅ داسے نظام نهٔ دے جوړ شوے. چه دَ اختیار
واګے ئے صرف دَ یَو یا دَ یَو څو شخصیتو نو په لاس کښے
نه وی. ځکه نو اسلام هم دَ شخصیت لحاظ ساتلے دے
ځکه چه اسلام دینِ فطرت دے. اَو لوئے ځښتن چه
په کوم ډول انسان جوړ کړیدے. هغه شان ئے دَ
هغه رعایت هم محفوظ ساتلے دے. لوئ ځښتن دَ خپل
عِلم اَو حِکمت دَ لاندے دَ اقتدار اَو شخصیت حاصلولو
جذبه دَ هغهٔ په جبلت کښے ایښے دَه. ځکه چه هغه
انسان دَ کائینات حاکم کړلو. اَو حکومت دَ اقتدار دَ جذبے
نه بغیر کیدَے نشی. ځکه نو په انسانی نظام
کښے هم ورله یَو خاص مقام اُوټاکلو. خو هغه هم
په مشروط ډول اَو هغه داسے چه انسان ته ئے په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بُنیادی ډول دَ قانون دَ جوړولو اختیار ورنه کړو. بلکه دَ خپلې دَ ړے نه ئې آیئن ورکړو. البته په جزوی طورئې هغه ته هم اختیار ورکړو. چه هغه هم دَ دے اِلٰهی آیئن په رڼا کښې وخت په وخت دَ ضرورت سره سم قانون جوړ کړی. نو هم دغه هغه اهم نکته دَه چه دَ حیوانیت په ځپ کښې دَ ضابطے زنځیراچوی. انسان استعمال کوی هم دَ دے دَ پاره چه هغه حیوانیت تمامغلوب او مجبور دِی. او چه کوم وخت دَ هغهٔ حیوانیت غالب وِی. نو قانون هم داسے جوړ وِی. چه هغه دَ حیوانی غوښتنو دَ اطمینان سبب شی. خو کوم وخت چه دَ هغه نه دا اختیار واخلی چه بُنیادی اُصول نشی وضع کولے. نو گویا که دَ هغه حیوانیت اُوترلے شی. خو اسلام دَ حاکم دَ انتخاب دَ پاره هم یَو څو اُصول وضع کوی. چه په هغو کښې مصلحت تقوای علم او جسمانی قوّت بُنیادی حیثیت لری. او دَ هغه په انتخاب کولو کښې هم اسلام یَوه داسے نفسیاتی طریقه غوره کړیده. چه په هغے باندے عمل کولو سره دَ ښهٔ نه ښهٔ حاکم منتخب

کیدے شي۔ اپینوزا هم شایدچه د حاکم د انتخاب کولو کېنې په غیر شعوری ډول د اسلامی اصولو سره متفق ښکاری. هغه وائی "د ځوک د رائے شماری په ذریعه د یو ښه حاکم انتخاب یقیني کړي. نو د یو فضول بے خونده کار په تکمیل کېنې بوخت دے. تر اوسه ـ دې دې خبرے حل پاتے دے۔ چه د جمهوریت په سلسله کېنې د حاکم د انتخاب کولو کار څرنګه سرته رسول پکار دی."

او اسلام هم د عوامی انتخاب د طریقے منکرے نه دے. هغه عوام د دے قابل هم ګڼي نه چه ښه حاکمان منتخب کړے شي. او دا خو ظاهره ده. چه عوام هیچرے د صحیح انتخاب کولو اهلیت نه لری. دے دپاره اسلام د صحیح انتخاب دپاره د یو څو داسے نیکو او د رو ښانه ذهن خاوندانو فیصله صحیح او ګڼي چه په قام او ملت کېنې د ښیے ورځے د نر غونډے ښکاره شهرت خاوندان دی. او عوام طبعًا په هغوی اعتماد کوی. داسے خلق د عوامو نه پټ نه دی هغوی

په خپله د دسره پېژندګلو لری. اَوُ دَ هغوئ قیادت نیټه کنی. اَو هم دَ هغوئ ندَ اعلیٰ حاکم انتخاب غوره کني. په مے طریقه دَ جمهوری اُصولو حق په پوره توګه ادا شی. ځکه چه دَ عوامی احساساتو پوره پوره احترام اُوشی. اَو فطری اُصول هم په خپل ځائ پوره شی. اَوُ هغه دا سے چه دَ شخصی اقتدار لحاظ هم اُوساتلے شی. اَوُ دَ عوامو هم. اَو بیا چه ترکو مرُوختړ دا حاکمان دَ خدائے دَ قانون په مطابق دَ حکومت کار چلوی. دَ هغو اطاعت کول دَ هر انسان فریضه دِ ی. اَوُ که قام ته معلوم شی. چه هغه دَ خدائ قانون په خلاف روان شوی دِی. نو هغه معزول کړی. نو ځکه اسلام دَ هرڅه نه اَګاهو په انسانی تربیت زور ورکړے دے. اَو دِے ته ئ ټوله دیره اهمه فریضه وئیلی دِی. اَو دَ هغے په مقابله کښے ئ عیاداتو ته ثانوی حیثیت ورکړے دے. رسول کریمؐ دَ خپل بعث نه پس دَ هغو دَ نفسانی اَو روحانی امراضو دَ لرے کولو دَ پاره قدم پورته کړے وُو. چه دَ هغو په وجه نه یوازے عرب

بلکہ ټول انسانی دنیا په تېرو کښې سرګردانه ده. او دا
خبره خو طبعی او فطری ده. چه آنحضرتؐ به ابتداء
د خپل محیط نه ګوڼل. د دې دپاره چه کوم وخت په
عربو کښې د دې امراضو آزالہ اوشی. نو د هغه نه پس
به خلق عبادت او ریاضت ته متوجه کری. ځکه چه تر
څو چه د یو انسان کامل تربیت نه وی شوې. هغه
په دنیا کښې د انسان د ښېګړې دپاره د هیڅ کوٌلو قابل
نه وی. او د تربیت موندلو نه پس د انسان ذهن
صفا او روښانه شی. او د دې په وجه دنیا
کښې امن او امان قایم شی. نو د هغه نه پس د انسان
ذهن د حقیقی علومو او فنونو د حاصلولو دپاره تیار
او آماده شی. اوس نو هغه د انسانیت د غلبې په برکت
په منفی ډول د فکر کولو ښکار کیږی نه. بلکه هره معامله
د عقلی او انسانی اصولو په محک کوری. هغه د انسانانو
دپاره خو څه کوې د حیوانانو دپاره هم سراسر د رحم او
شفقت نه ډک شی. تاریخ مونږ ته دا ښئی چه تر کومه
وخته د انسانی نفسونو حاکم انسانیت وُو. نو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغوئ څخه د داسې علوموأو فنونو تحصیل جاري اُوساتلو.
او د انساني نوع د سعادت او افادیت د پاره ئې داسې
روښانه کارونه سرته اُورسول چه د یوروپ پسمانده خلقو
ته هم فائده و اخسته. ترڅو چه د مسلمانانو د بهمیت جذبه
د عقل او د انسانیت د ضبط او تسلط نه وته. هومره
د هغوئ په مینځ کښې هم اختلاف زیاتیدو. د دې ډیر
وجوهات وُو. چه په اجمالي ډول ئې ذکر شوې دې.
لکه چه علامه اقبال مرحوم لیکلي وُو چه "د تکمیل د پاره
درې مرحلې دي. ایمان، فکر او معرفت، کوم وخت
چه یو انسان ایمان راوړي مسلمان شي. نو د دې نه
پس د هغه د پاره ضروري کار دا دې چه هغه د اسلام
په هغه اُصولو کښې غور او فکر اُوکړي. کوم چه هغه قبول
کړي دي. د دې د پاره چه د هغو افادیت او په غایت
پوره شي. د دې فائده به دا وي. چه د اسلامي اُصولو
معرفت به ورته حاصل شي. خو اُوشول دا چه په
راشده خلافت کښې هغو مسلمانانو ته دا موقع په
لاس ور نه د غله. چه په هغو اُصولو کښې ئې غور و فکر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړے وُے کوم چه هغوئ قبول کړی وُو. په وړومبی خلافت کښے د ارتداد د فتنے لوے کول وُو. او په دوئیم خلافت کښے د مسلمانانو د فتوحاتو سلسله ډیره مخکښے لاړه. نو ادس د دے بحث نه څهٔ حاصل. چه د مسلمانانو هغه فتوحات د جادحانه رُوح د لاندے وُو که مدافعانه جنګونو د هغوئ نه فاتحان جوړ کړی وُو. هرڅهٔ چه وُو. خو هغه مسلمانان کوم چه د اسلامی اُصولو د فلسفے نه خبر نهٔ وُو. صرف ایمان ئے داوړے وُو هغوئ په اسلامی اُصولو کښے غور او فکر اُونه کړے شو. ځکه چه وخت په لاس ورنه د غلو. هغوئ د عربو نه پهر د یُونانی فلسفے او د نورو مذهبونو د اُصولو نه هم خبر شول. بیا داچه په دے مسلمانانو کښے دا سے عرب ... هم وُو. چه د خپل مذهب کړی ئې لا سره شوے نه وه. بیا د غنیمت ډیرو مالونو هغوئ د معاش له طرفه هم بے غمه کړی وُو. نو په عیش او عشرت کښے پریوتل. خو د دوئیم خلیفه د دهشت او د سیاست په وجه غلی وُو. د دوئیم خلیفه نرمئ یا کمزوری زړه ور کړل.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَو په ښکاره ئې کبرا هم شروع کړه - او چه خلورم خلیفه دَ اقتدار دواګې په لاس کښې واخستې نو حالات دومره خراب شوی وُو چه دَ سنبهالولو نهٔ وُو - دَ هغه وخت حالت په خپله دَ خلورم خلیفه نه واوریئ فرمائی چه "ماته په داسے وخت کښې دَ اِمامت واګې واکړے شوے دی - چه زما دَ ماحول حال داد ے - لکه څنګه چه دَ اسلام پیدا ښت دا کښې وُو - او دَ کومو حالاتو ساه چه رسول الله صلّی الله علیه وآله وسلم خاتم شوی وُو - دَ هم هغو حالاتو مره زهٔ هم خاتم یُم" یعنی اوس بیا دَ سرنه دَ اسلام دَ تبلیغ ضرورت دے - په نورو الفاظو کښې مسلمانان دَ نامے مسلمانان پاتے شوی دی -

هغوئ چه دَ عیش اَو عشرت کوم ژوند شروع کړے وُو - هغه رنګ راوړو - دَ هغوئ دَ صدق اخلاص اَو انسانی دردودلی اَوْ پیرزوینې ځائے حسد اَوْ فتنې واخستو - اَو په هغه زمانه کښې چه هغوئ خپل حیوانیت ورو په ورو سقوط اَو تباهی ته رَسوَل دَ یورپ خلقو ورځ په ورځ علمی اَو فنی ترقی کوله -

نو ځکه دَ یُورپ خلقو هم په دے وجه دَ دنیا په قامونو ځنې داسے غلبه حاصله کړه چه دَ مسلمانانو سره نورا نسانی قامونه هم دَ هغوئ دَ یرغل نه بچ پاتے نۀ شول. دَ مغرب خلقو په نورو قامونو کښے دَ خپل تهذیب تمدّن اَوډے کوونده شروع کړه. اَو تر مونږ کورو چه مونږ دَ یُورپ تهذیب تر دے حده خوښ کړو چه سره دَ مسلمانئ هم دَ عیسوی کال په نوی کیدو یَو بل ته مبارکی ورکوو. اَو ځنې نورسرسری عادتونه مو هم دَ پیرنګیانو نه زده کړل. خودا هرڅۀ پردئ لباس دے. کوم چه په مونږ سم نه وُو. ځکه چه هغه زمونږ دَ فطری ماحول اَو دَ هغو روایاتو سره مطابق نه دو. کوم چه دَ پیړو پیړو راسے زمونږ په لا شعور کښے موجود دی. دَ کومو نو چه زمونږ دَ مِلی شعور تعمیر کیږی. اَو اُوس حال دا دے چه نه خو مونږ پوره پوره دَ یُورپی تهذیب مصداق شو. اَو نه په خپل ایشیائی تهذیب عمل کولو کښے کامیابیدے شو.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# شپږم باب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۶)

# دَ انسانی اجتماعیّت صحیح محل

دَ ذکر شوی انسانی اجتماعیت قیام که ممکن اُوګڼلے شی. اَوْ دا هم اُومنلے شی چه هغه دَ اسلامی اُصولو دَ لاندے جوړ کړے شی. نو سوال دا پیدا کیږی چه دَ هغهٔ دَپاره به دَ عمل میدان کوم اَو چرته وی؟ نو ځواب ئې دا دے. چه دَ هغهٔ دَ عمل دَ لاندے دِ پاو ستنو دَپاره دَ ټولو نه ښهٔ محل مملکتِ پاکستان اَو په تیره دَ پښتون اکثریت علاقے دِی. په دے شرط چه هلته دَ اسلامی نظام بنیادی کښته ایښودل ممکن شی اَوْ په دے خفلهٔ موږ دَ دلائلو له خوا هم پاتے نشو راتلی خو دَ دے نه آګاهو چه موږ خپل دلائیل وړاندے کړو. ضروری دَه چه په دے خبره رڼا اُو غوڅ دووچه

دَ دے نظام اکوبکر دِ طبیعی رنګ اُولری. دا دَ دے دَ
پاره چه دَ هغه دَ سقوط اَو فنا کیدو دویره پاتے نشی
بله خبره دا چه هغه دَ دنیا دَ هر انسان دَ فطری غوښتنو
سره سم دِی. ځکه نو باید چه هغه عقلی دِی دریمه
دا چه هغه دِ دَ فطری جمهوری طرز اجتماعیت دِی چه
په تیرو صفحو کښے ئې ځنګړ تذکره هم شوے دے۔

اوس کتل دادی چه دَ دے نظام دَ فطری رنګ
نه مراد څه دے. نو په دے سلسله کښے به مونږ لوستونکو
ته بلنه ورکړو. چه هغوئ دَ کائنات فطری اَو طبیعی
نظام ته په ژور نظر اُوګوری. چه دَ یو بے نامعلومے
زمانے دا سے روان دے. اَو تر ننه ورځے پورے په
هغه کښے دَ هیڅ دول دَ فتور مشاهده اُونه کړے
شوه. په لا محدوده فضا کښے به هروخت اجرام هم
په خپلو کښے سره جنګیږی. اَو دَ مادے نه به نوی اجرام
هم جوړه موی. اَو په اُفق به رانښکاره کیږی. خو دَ
قدرت په دے طبعی نظام کښے په بنیادی دول هیڅ
فتور را نغیځی. تو آن هم انسانانو ته بلنه ورکوی اَو بار بار

ئې ورکوی. چه هغوئ دِ سترګے اُوغړوِی. اَو څو څوکرته دِ په غور اُوګوری. هغوئ ته څۀ فتور نښکاریدے شی! هیڅرے نه.

دَ ټولو نه ضروری سوال دادے چه په طبیعی نظام کښے دَ فتور نه پیدا کیدو سبب څۀ دے؟ دَ دے سوال ځواب دادے چه دَ طاقت دَ پاره محل اَو مرکز صرف یَو دے. اَو دا طاقت مطلق خپلواکئ اَوُ عالِم هم دے. کۀ چرے دَ ځنے مادیینو په قول دا نظام په خپله په اتفاق جوړ شوے وے نو موږ به په هغه کښے توازن اَوُ تعادل اَو دَ دے نه هم زیات دَ مقصد ځلا څرنګه لیدلے وَه. ضروری بلکه لازمی وَه چه دَ کائناتو اجزاءُ یا دَ کائنات افرادو کله کله دَ خپلو فطری دظیفو اَو وجودی اَدمنافو په خلاف هم عمل کولئ. اَو هغوَه بکونو کوروونو کالو دا سے دَ څۀ مضوصوو اعمالو اَو افعالو اَو تاثیراتو اظهار داسے په یو دول نښوئ کولے. طبیعت په خپله یو مستقل طاقت نۀ دے. ځکه چه یو صفت یا عرض دے. اَو دَ یو موضوع

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د ارادے نه بغیر د هغه نه د څهٔ فعل صادریدل هیڅ امکان نه لری۔ هغه په مرکه او بے روحه ماده کښے د طبیعت اظهار مونږ ته دا شعور داکوی۔ چه هغه د یو محرک او عالم او حکیم ذات په اراده قایمه دی۔ ځکه چه صفت یا عرض همیشه د جوهر یا د یو موصوف د وجود محتاج وی۔ په خپله د عرض یا صفت عدم او وجود برابر وی۔ طبیعت د ژوند یو ابتدائی ظاهری صورت دے۔ او هم په دغه نه د عالم د ارتقاء سلسله شروع شوې ده۔ ژوند چه کوم وخت د طبیعت په صورت کښے ظاهریږی۔ نو یوازے په داسے مادی شیانو کښے ظاهریږی د کوم د نظام سلسله چه د ابدالاباد پورے ضروری د ه۔ او هم په دے طبیعی نظام د نورو مختلفو نظامونو مدار دے۔ ژوند ته به په جمادا تو کښے مصوره وائی۔ خو چه کوم وخت له مخکښے تیر شی نو په نباتاتو کښے نامیه شی۔ په حیوانا تو کښے شعوری او په انسانی وجود کښے د عاقله صورت اختیار کړی۔ "ژوند" دائی یو حقیقت نوم دے۔ خو څرنګه چه اُوئیل شول۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په هر عمل او هر لو بنی کښې جُدا جُدا رنګ لری. په نباتاتو او حیواناتو کښې هم ژوند زیاتره طبیعی او شعوری رنګ لری. که څۀ هم شعور تره جُدا کیږی نه. خو دا شعور دَ هغو حیواناتو دَ ژوند دَ ساتلو او دَ خپل خوراک دَ لټون او پیژندلو ند زیات هیڅ کار نشی کوُلے لکه څرنګه چه ځنے ښاردی ځنے بوټی نه خوری. ګویا کښې قدرت دَ هغو دَ ژوند دَ حفاظت دَ پاره دَ هغو په طبیعت او شعور کښې داسے احساس پیدا کړے وی. چه کوم وخت هغه زهرناک بوټی بوئین کړی نو یَو دم تړِ په شا لا پرشی چه به هغۀ کښې دَ هغو دَ پاره هلاکت پټ وِی. نو ادس ښاردی دَ دے په عِلّت هیچرے نه دِی پوه چه هغوئی ځنے بوټی ولے نه خوری. خو دَ کائینات خالق دَ هغو په طبیعت کښې هغوی دَ ځنے بوټو نه دَ ځان ساتلو او دَ نه هغې خولو شعور ایښے دے او دا دَ دے دَ پاره چه ښاردی او نور حیوانات دَ انسانی ارتقا په منزل کښې دَ انسانانو دَ پاره ډیر مفید وِی. تاسو به دَ ښاردی بچی لتیدلی وی چه دَ پیدا کیدو

سره د خپلو مېندو د تی پېژنی. او د هغو په ښبنلو او
پیو رودلو شروع اوکړی. ځکه چه ښاروی د انسانانو
په شیر عقل نه لری. یوه نبځه خو خپل بچی را واخلی.
او د سینې ته ئی واچوی. او د پئی ورکړی. خو د حیوانانو
په بچو کښې که چرې دا شعور موجود نه وے نو د هغو
مېندو به چرې هغوئ لشول نا پوره نه کولی. او د
تیانو شوده ئی نه شول ورکولے. او بچی به ئے ضائع
کیدل. او بیا دا نوی پیدا شوی بچی چه په کوم دول
د مېندو د تیان په خله کښې نیسی او دا کاږی راکاږی ئے
او په دے دول ترخپله غذا را اوباسی. هغه هم
ظاهره خبره ده. او د تولو نه عجیبه خبره د هغه مطلق
حکیم په حکمتونو کښې دا لیدلی کیږی. چه کوم بچی چه
د څاروو نه پیدا کیږی د هغوئ ناف په خپله غوڅ
وی. او د مېندو د رحم سره شامل نه وی. دا د دے
د پاره چه انسانان خو د عقل په وجه د خپلو بچو نوموند
(ناف) غوڅ کړی. خو د څاروو د پاره دا ممکنه نه ده.
او هم دا وجه ده. چه هغه لوئی حکیم هغوئ د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے مکالفے نه خلاص کړی دی. که څه هم د الحیاة ماهرین
دا خیال دی چه په دے شمار ده کښے د ځنو پر ته د ځان
ساتل او د مور تیونه پیژندل یا ناف خوښ پیدا
کیدل او دا سے نور اوصاف طبعی رجحانات دی. او
په نسل کښے پرله پسے دا منتقل کیږی. نوموړے به تر یو
حده دسره متفق شو. خو دومره عرض به ضرور کوو
چه د دے ټولو حیواناتو یوه وجودی ابتداء به هم
لازمه وی. که د ډاروِن د نظریئے په رڼا کښے په
دے مسئله غور اوکړو. او اُو منو چه د دنیا د ټولو
ژوندو شیانو د پیداوښت ابتداء د چینجو په
شکل کښے شوے ده. او بیا ورو ورو په ترقئ کولو سره
د چینجو نه د ښادوو او انسانانو صورت ته رسیدلی
دی. نو بیا هم دا سوال پیدا شی چه کوم وخت
"ژوند" د جمادات، نباتات او مائع نه دا تیر
شو. حیوان ته اُورسیدو نو د چینجو په شکل
کښے د حیواناتو ډیر اقسام پیدا شول. هغه وخت
هغه حیواناتو نسلی شعور د چانه اخستے دو؟ ځکه چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د هغوئ نه اول دا سے حيوانات بيخي موجود نه وُو. چه د هغو مورثِ اعلیٰ اُوګڼلی شی. ځکه چه د جمادات نه تر نباتات او بيا د دے نه تر حيوانات رسيدل خو د منلو خبره ده. ليکن اوس چه په حيواناتو کښے کوم طبعی او فطری اوصاف دی. نو ا ے دا اوصاف په هغو کښے د جماداتو نه را منتقل شوی وُو! دا خبره په هيڅ عقل کښے نه راځی. هغه فطری اوصاف کوم چه په نسل کښے راځی ضروری بلکه لازمی ده چه د هغو ابتداء د يو ے نقطے نه او منلے شی. او دلته د کو ے بنيادی نقطے تعيّن هيڅ امکان نه لری. نو اوس هم هغه سوال پيدا شو. چه په حيواناتو کښے د ځنے بوټونه د ځان ساتلو شعور او هغه نور اوصاف له کومه راغلل؟ که اُوائی چه دا اوصاف په بنيادی ډول په هغو کښے موجود نه وُو ليکن ورو ورو په ترقی کولو سره په هغو کښے په خپله پيدا شول. نو موږ به اُدايو چه دا توجيه په کامل ډول د عقل او هدايت نه خلاف ده. يو وصف چه تر څو د يو څيز په اصل کښے موجود نه وی هغه

ئي په جزو کښې څرنګه راتلے شي ؟ که چرے په رښتيا خبره هم داسے وي نو دا ټول حيوانات به د ژوند په ابتداء کښې هلاک شوي وُو. ځکه چه په هغو کښې به د ځان د تحفظ د پاره هيڅ شعوري تحريک موجود نه وُو. بيا وروو په ورو ترقي کړې اَو په هغو کښې د دے دل شعور په خپله پيدا کيدل هم د بحث نه خارج دي. اَو اُوس د دے نه صفاصفا ظاهره شوه چه هم هغه "ژوند" چه په جمادات کښې د طبيعت په حيثيت ظاهر شوے دے. هم هغه په نباتات اَو حيوانات کښې د شعور په حيث څرګند شو. اَو دا ځکه چه د جمادات جدا او د نباتات د پاره بيل قالبونه اَو جسمونه دي. اَو هم په دے مناسبت په هغو کښې ژوند ظاهريږي. اَو دا خو ښکاره ده چه لوئ ذات "عين ژوند" دے اَو د دے نه علاوه چه څومره صفات دي که هغه د علم اَو قدرت وي يا طبيعت يا شعور. د هم هغه "لوئے ژوند" نه په شيانو کښې راغلي دي. دا هم د هغه ذات بخښنه ده چه موږ ورته الله او حتی خلق ورته پرماتما يا کاډ وائي. د دے نه معلومه شوه چه

"ژوند" چرکوم قالب سره تعلق پیدا کړیدے۔ نو د
هغه د وجود نه هغه قالب ته هم د هغه قالب سره مطا
د ضرورډیاتو پوره پوره شعور هم ورغلی دے۔ چرچرته
خو طبیعت دے۔ چرته شعور او چرته عقل۔ د دے وضاحت
مد عادا دا چه موږ لوستونکو ته دا بښیو چه طبیعی نظام
د فتور نه څکه هم پاک پکار دُو۔ چه د هغه په موجودګی
باندے د انسانی وجود ظاهریدل او بقا اړه لرله۔ که
چرے طبیعی نظام هم د انسانی نظام په څیر هروخت
د بحرانی حالاتو سره مخامخ وے۔ نو بیا به هیڅ و د
انسانی وجود پیدا کیدل ناممکن دُو۔ او نه به د ارتقا د
سلسلے د شروع کیدو څه سوال پیدا کیدے شو۔ نن چه
د سائینس پوهان انسانی وجود ته د ارتقا د سلسلے
آخری کړی وائی نو دا ثبوت دے د دے خبرے چه
د کائینات طبیعی نظام د فتور نه پاک په یو ه دا سے لار روان
کړے شوی دے۔ چه خپل غایت یعنی د انسان وجود
څوکند ولو ته رسید لے دے۔ او د انسانی وجود په
پیدا ښت کښے چه د لوے ښتن کومه منشا وه هغه

ظاهره دَه. موږ گورو چه دَ کائیناتِ په نظم اَوْ ضبط کښے انسان بالقوه دَ څو مره روښ استعداد خاوند دَے. که خدائ دَ کائیناتِ خالق دے نو انسان ئې منتظم دَے. خو تراوسه چه هغه (انسان) دَ بین الانسانی نظام په قیام کښے کامیاب شوے نه دے. دَ دے وجه دا دَه چه هغه تراوسه دَ خپلو وجودی صفاتو تر مینځه په توازن اَو تعادل قائمولو کښے نهٔ دی کامیاب شوئ. ظاهره دَه چه انسان دَ دریو عناصرو دَ ترکیب نوم دَے. چه موږ ورته ملکیت، انسانیت اَو حیوانیت وایُو. هم دَ دغو عناصرو نه عشق عقل اُو شعور اَو طبیعت پیدا کیږی. دَ انسان په وجود کښے عشق عقل اَو شعور درے واړه موجود دی. ځکه چه هغه په مخلوق کښے آخری ترقی یافته مخلوق دے. هغه دَ تفصیلِ کائیناتِ یو اجمالی وجود دے. هغه دَ انسانِ کبیر (کائینات) په مقابله کښے کائیناتِ صغیر خو په حقیقت کښے هم دغه انسانِ صغیر کائیناتِ کبیر دے. هم دغه وړوکے انسان لوئ انسان اَو دا مجمل کائینات

مفصل کائينات دے۔ او کائينات کوم چه د انانه انسان تفصيل دے۔ په حقيقت کښے د انسان په مقابله کښے ورو که او مجمل دے۔ څونګه چه وئيلي شوي دي کائينات د تخم د دانے په شان د يوے نقطے نه ظاهر شوے دے او څونګه چه يوه اونه د تکميل نه پس هم هغه د تخم دانه د زرګونو په صورت کښے ظاهر وي۔ هم دغه حقيقت د انسان هم دے۔ بالکل هم دغه شان د کائينات د تکميل نه پس انسان هم د بے شماره دانو په شکل کښے څرګند شوے دے۔ او لا به ظاهريږي۔ ګويا کښے د ټول کائينات تفصيل هم په دے ورو کے دانه کښے موجود دے۔ که چرے هم دغه انسان د کائينات حقيقت او ميده نه دے۔ نو نه خو به هغه د دے موجوده علومو او فنونو په حاصلولو کښے کامياب شوئ وے او نه به د هغه شعور د دے قابل وے۔ چه هغه نه د کائينات د مسخرولو نغوته اوکړي۔ د انساني وجود په مادي قالب کښے هغه "ژوند" ظاهر شو۔ کوم چه پړ جمادات، نباتات او حيوانات کښے په مختلفو صورتونو

ظاهر شوے وَه. دَ انسان په وجود کښې په کُلی ډول ظاهر
شو. اَو هم دے ته "اَنا" وائی. هم دغه انسان اَو دَ هستی
حقیقت دے. هم دغه روح دَ روح اکبر پلوشه دَه.
کوم چه دَ دے مادی قالب سره یوځائے شوے ده.
هغه دَ دے وړوکی کائنات دَ نظام دَ پاره راستولے
شوے ده. چه دَ دے وړوکی کائنات دَ نظم اَو ضبط
تجربه اُوکړی. اَو په دے کښې دَ کامیابیدو نه پس دَ
لوئی کائنات دَ تسخیر کُولو اَو په هغو باندے دَ مسلط
کیدو ابتداء اُوکړی. خو هغه په ابتدا کښې دَ حیوانیت
نه مغلوب وی. اَو دَ حیوانیت نه دَ خلاصیدو دَ پاره
دَ تربیّت اَو مجاهدے محتاج وی. چه په دے حقله
مونږ په خپل کتاب "انسان اَو ژوند" کښې په تفصیل
سره لیکلی دی. انسانی "انا" دَ حیاتِ اکبر پلوشه دی.
کوم چه دَ مادی قالب سره متعلق شوے دی.
اَو همیشه په علم حاصلولو کښې بوخته دی. دَ هغې مثال
دَ هغه مسافر کُنډل پکار دی کوم چه پردی وطن ته
لاړ شی. اَو هلته ورته دَ یو رهبر ضرورت وی هغه په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ابتداء کښې پوره پوره دَ رهبر په ویناعمل کوی. ځکه چه کَه دے نه بغیر دَ هغه دَ واقف کیدو هیڅ لار نه وِی ځکه نو هغه تر کومے موده یعنی دَ حیوانیت اَو مادیت دَ اثر لاندے وِی. دَ هغه په خپل وجود باندے گویا کښې دَ مادیت اَو حیوانیت لیو اُوشی. خو هر کله چه هغه دَ مادیت په اوږده ساره ترخږ حده پوره شی نو بیا دَ هغه توجه تول دَ خپل ذات سالمیت اَو تحفظ ته اُوگرزی. هغه محسوس کړی چه هغه دَ مادیت نه تر دے حده متأثر شویدے. چه دَ هغه خپل فطری اوصاف هم ساعت په ساعت له کاره اُوزی. اَو دا خو ښکاره خبره دَه. چه هیڅ څیز خپل انفرادیت ختم کیدو ته نهٔ پریږدی. اَو کوم وخت چه انسانی انا دا محسوس کړی. چه دا مرکب (سورلی) اپو ته دَ هغه دَ پاسه سپور شوے دے. اَو حال دا چه باید انسان سپور اَو هغهٔ سپرلی وئ. چه مادیت مرکب او انسان ئې راکب وَے. ځکه چه هغه پو هیږی چه هغه دَ دے مرکب دَ یادار حیثیت

لړی۔ اَو که چرے په هغه غالب نه شی۔ نو د حقیقی علومو
حاصلول به بیخی ناممکن شی۔ ځکه چه هغه به خپل فطری
استعداد او صلاحیتونه بهرته نشی راوبیتی اَو نهٔ
بر د هغو نه کار اخستلٔ شی۔ نو هم د دے احساس سره
هغه د حیوانیت سره مجادله اَو جگړه شروع کړی۔ خو
په دے موقع د هغې د پاره د یو مرستیال ضرورت
وِی۔ ځکه چه هغه تر اوسه د حیوانیت نه مغلوب وِی
اَو د یو سے قوی یدرگے نه بغیر په خپل مقصد کښے
نشی کامیابیدے۔ نو په دے اهم اَو نازکه موقع د هغه
حقیقی معاون صرف یو کیدَے شی۔ اَو هغه دیٔ
مذهب چه د ملکیت ترجمان دے۔ ځکه چه د مذهب
نه بغیر بله داسے لار نه ښکاری۔ چه د انسانیت
د پاره د غلبے اَو بری لار اوٌ نیا کلے شی۔ هیڅ شک
نشته چه انسانی عقل هم هدایت کوونکے اَوٌ لار
ښوونکے کیدَے شی۔ خو هغه به کوم عقل وِی۔
چه د هغه استدلال په خپله عقل نهٔ وی رد کړے؟
په قول د علامه اقبال داد لارے چراغ خو کیدَے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شي. ليکن رهبر نشي کيدے. عقل يو چراغ دے که
دَ انسان په لاس کښې وی اَو که دَ حيوان په قبضه کښې
هغه په هر حال کښې رڼا ورکوی. سری ته لار ښئي. خو
تک دَ انسان يا دَ حيوان خپله خوښه ده. عقل ئې په
لاس روانولے نشي.

خو دَ حيوانيت غلبے ته ماتے ورکول هم آسان کار
نه دے. اَو په دے ځا هدوه اَو مقابله کښے دَ ډير زيار
اَو کړاؤ نه پس حيوانيت په دے رضا شي چه دَ انساني
آنا يو څو غوښتنے اُومنی. اَو دا سلسله هم داسے روانه
وی. اَو که انساني اَنا دَ ځا هدے په دے سلسله کښے
چرته دَ غفلت ښکار شي نو حيوانيت غلبه حاصله کړی
خو که ـ انساني تربيت په کامل ډول نګيادی کيږی
اَو هغه مربي هم پوره اَو کامل تربيت موندلے
وی نو په آخر کښے انسانيت په حيوانيت باندے
کامله غلبه اُوموی. اَو بيا يو انساني آنا په کامل ډول
آزاده آؤ روښانه شي.

علامه اقبال هم په خپلو خطباتو تشکيل جديد

الٰهیاتِ اسلامیه کښې لیکلی دی چه په ابتداء کښې
کښې هم په نفسی باندې دَ مادی غلبه وِی خو بیا
ورو ورو څومره چه نفسی تر دَ خپل اهمیت اندازه
کیږی. په آخر کښې په مادی باندې غلبه حاصله کړی
نتیجه ئې دا وِی چه انسان دَ اِرتقا په صحیح لار روان
شی. حیوانیت ئې سپړلی (مرکب) شی. اَو هغه ئې
نو بیا دَ خپلې منشاء سره سم په لار روان کړی. دَ انسانی
خود دا کامیابی څه دا سې کښل پکار دِی لکه چه
هغه چه دَ ټول جهان حاکم اَو متصرّف شی. زمونږ
دَ ذهن لمن دَ دا سې دلائیلو نه تشه نَه دَه چه صفا
تِرې معلومه شی چه دَ انسانی آنا دَ غلبې په صورت کښې
انسانی ذهن څنګه رنا حاصله کړې وَه. اَو په نوعِ
بشر کښې څومره همدردی اَو ورو ورولی پیدا شوې
وَه. هغوئی به دَ حیوانیت په لمسه هیڅ کار نَه کولو بلکه
دَ هغوئی دَ ژوند محور به یوازې انسانیت وُو. دَ حضرت
علیؓ هغه واقعه په تاریخ کښې موجوده ده. چه یَو ځل
هغوئی یَو پهلوان مغلوب اَو سر دَ لاندې ئې

نا دِ پیښتې دُو۔ او هرکله چه حضرت علیؓ دَ هغهٔ دَ وژلو دَ پاره چاړه را دِ ویسته۔ نو دَ هغه مغلوب پهلوان نو څهٔ دَس خو چلید و نه۔ دَ حضرت علیؓ په مخ ئے اُو تکل۔ حضرت علیؓ چاړه بیرته په تیکی کښې داچوله۔ او دَ هغهٔ دَ سینې نه اُو چت شو۔ هغهٔ تِرِ په حیرا فنه پوښتنه اُوکړه۔ چه اُوس خو څما وژل دیر آسان دُو۔ تازه ژدنده څرنګه پریږدم؟ نو حضرت علیؓ ورته اُو فرمایل چه که ماته وژلے نو په دے کښې څما دَ ذاتی خواهش هیڅ دخل نهٔ وُو۔ بلکه دِ دے دَپاره چه فِتنه ختمه شی۔ او چه تا څما په مخ اُو تکل نو ماته غصه را غله۔ او زهٔ خپل نفس ستا قتل ته دیر زیات اُو لمسولم۔ دَ دے سره ماته دا خیال راغلو چه که اُوس دِ قتل کړم نو دا به دَ خدائی دَ پاره نه بلکه دَ خپل نفس دَ پاره دِ وی۔ هغهٔ ته چه دَ حضرت علیؓ دا عظیم انسانی اَو اسلامی خُلق معلوم شو۔ نو اسلام ئی خوښ شو۔ او مسلمان شو۔ اُوس که په عوذ سره اُوکتهٔ شی نو معلومه به شی چه دَ حضرت علیؓ "انا" آزاده اَو خپلواکے وَه۔ او هغے دَ جیوانیت په ځَتَ دَ ضبط

اَوْ تسلّط جوړا یېږيْ دَه۔ کنے دَ غُصّے اَو اشتعال په داسے موقع صبر کول اَوْ په سړه سِینه دَ معاملے اُ دَ بزده سارهٔ حُیر کول اَوْ بیا دَ عقل اَو انسانیت په مطابق فیصله کول دَ هرچا کار نهٔ دے۔ دَ حضرت علیؓ حیوانی عنصر نه بلکه مغلوب وُو۔ ځکه چه دَ اسلامی ضابطۀ حیات سره سم دَ حیوانیت بهیمیّت بیخی ختم کول منع دِی ځکه چه دَدے نه بغیر دَ مادی ترقۍ کولو هیڅ امکان نشته۔ دَ بیا هغه ټول قواعد اَو ضوابط ناقص اَو مضر دِی۔ چه په هغو باندے دَ عمل کولو نه پس حیوانیت فنا شی۔ لکه چه ویدک دهرم اَو عیسائیت کښے دَدے دول مُضر اَو ناقص ضوابط مشهور دِی۔ چه په هغو کښے لاس، پښے یا دَ جسم نور اندامونه بے کاره کیږی۔ یا په کښے رهبانیت اختیار دی۔ په ویدک دهرم اَو عیسائیت کښے دَ مادی ترقۍ هیڅ افادیت نه دے ښودلے شوے۔ په دواړو کښے دَ ژوندنه دَ تیښتے سبق دے۔ هغوئ دَ نجات یا مُکتی دَپاره دَ دنیا دَ پریښودو تاکید کوی۔ خو بیا دا اسلام دَ

ژوند هغه ضابطه او حق وین دے. چه د مادیت یا
حیوانیت د مغلوب کولو په حقله دا سے هدایتونه
ورکوی. چه په هغوکښے روحانیت او حیوانیت دواړه سره
یو ځائ کوی. او د حضرت عمرؓ هغه واقعه خو مشهوره
ده. چه کوم وخت هغوئ د عیسائی لښکر سره
د صلح د خبرو اترو د پاره بیت المقدس ته تشریف
وړے وو. او کوم وخت چه هلته رسیدے وو نو
هغه وخت دا وښ د سپرلۍ وارد هغوئ د غلام وو.
ځکه چه دواړه به پرے وار په وار سپریدل او پیدلے
وخت کښے حضرت عمرؓ د اوښ مهار نیولے وو. او د عیسائی
لښکر افسرانو ورته کتل. اے هغه وخت د حضرت عمرؓ
نفس (حیوانیت) د یو انفعالی جذبے سره مخامخ
نه وو! او هغوئ ته به ئ دا المسرته کوله. چه ته د
ټولے دنیا د اسلام خلیفه ئ. د اوښ مهار دِ نیولے دے
او خپل مرئ دِ په اوښ سپور دے. او د عیسائیانو
لښکر درته پیا دے حال کښے ګوری دی. ضرور
به ئ محسوس کول. ځکه چه د حیوانیت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خپلې غوښتنې په هیڅ حال کښې نه پرېږدي. خو د انسانیت د غلبې په وجه د حیوانیت هیڅ وس نهٔ چلیږي.

د دې دوؤل واقعات په تاریخ کښې ډېر موجود دي چې تهٔ معلومېږي. چې هر کله د انسانیت غلبه پیدا شي په انساني نظام کښې توازن او تعادل پیدا شي. د صحیح علومو اؤ فنونو د حاصلولو د پاره لارې واړه شي. امن اؤ خوشحالي غزونې اوکړي. د افرادو د ترقۍ د پاره خلاصه فضا پیدا شي. او د دنیا ټولو انسانانو ته د ترقۍ کولو برابرې موقعې په لاس ورشي. د حضرت علیؓ او عمرؓ بیان کړې شوې واقعې مونږ ته دا شعور راکوي. چې د هغوی مُربّیؐ او استاد یو ډېر عظیم کامل انسان ؤو. او د دې دواړو حضراتو د انسانیت د تکمیل په لار کښې ئې بې حده زیاره اؤ مرسته کړې وه. او څرنګه چې دوئیلې شوی دي. حیوانیت فنا نه تللوی. اؤ همیشه د خپلې آزادۍ د پاره لاس پښې وهي. نو لهٔ ده موده پس حیوانیت بیا غلبه حاصله کړه. اؤ څرنګه چې دوئیلې شوي دي په اسلامي اُصولو کښې د فکرونه کولو

په دجه اَوْ بیاچه بنی اُمیّو دَ شخصی حکومت کوم بنیاد کیښود
دَ هغوئ نه پس چې بنی عبّاس ته دَ اقتدار وا کے
په لاس ورغلے . نو دَ هغوئ په عهد کښې که څه هم علمی
ترقی ډیره اُوشوه . خو دَ روحانیت ډیوه سلګیو په
عنه واخستنه. دَ ریاضت اَوْ عبادت ځائے جګړو اَو عیش
عشرت واخستو . او په نتیجه کښې اسلامی حکومت سقوط
ته مایل شو.

اوس به لوستونکو ته معلومه شوې وِی. چه
دَ انسانی اجتماعیت درې مبنې اُصول کوم چه موږ ښودلے
وُو. اَوْ هغه داچه "دَ دے اکوبکر دَ طبیعی رنګ اُولری"
ترکومه حده چه دَ تحقیق اَو څېړنے دَ لاندے
راغلې. که دَ انسانانو تربیت هم په دے دول اُوکړی.
شی. چه دَ هغو انسانی عنصر (انسانیت) غالب اَوْ
کامل وِی. اَو ملکیّت اَوْ حیوانیت دَ بدرګے په دول
ودسره وِی نو په انسانی نظام کښې به طبیعی رنګ اُوځلیږی
هغه به دَ حیوانیت په ذریعه دَ مادی ترقی په لار دیُون
کوی. اَو دَ ملکیت په ذریعه به دَ لوئ څښتن سره هم تعلق

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ساتلے شي . ګويا کښے عشق اَوْ طبيعت يا حيوانيت د وارِه به دَ انسانيت دَ پالنے دَ لاندے وي . احکام به ټول دَ انسانيت دَ مرکز نه صادريږي . کوم چه دَ عقل سر چينه دَ ے . د غرشان به دَ عشق . عقل اَو طبيعت دَ اتحاد نه يو داسے امتزاج راښکاره شي . چه يو حقيقي انساني اجتماعيت به تر پيدا شي . اَو دَ دے سره به انساني اِرتقا هم په صحيح لاره روانه شي . اَوْ چه کوم وخت دَحيوانيت دَ مغلوب کيدو په وجه دَ انسانانو ترمينځه دَ جنګ اَو په خپلو کښے دَ يو بل دَ استحصال ګولو خاتمه اُوشي . نو انسان به په حيث دَ نوع دَ دے قابل شي . چه دَ کائيناتُ دَ مُسخر کولو دَ پاره په کښه ابتداء اُوکړي .

اُوس دَ دے اُصول دَ تشريح نه پس دَ ماديينو له خوا ډير سوالونه داوړاندے کيدَے شي . مثلاً دا چه انساني وجود صرف دَ مادے نه عبارت دَ ے . دَ ملکيت ، انسانيت اَو حيوانيت اصطلاحات بيخي فرضي اَوْ دَ مذهب منونکو په خوش فهمي اِرادت

اَؤ عقیدت ښالری. اَو یا دا چه انسان تراوسه دَ حیوانیت
دَ جنګ نه وَلے خلاص نشو؟ دَ دے نه صفا معلومیږی چه
انسان کښې منه مادی اَؤ دَ مادے پیدا وار دئ. اَو
دا سے نور. نو په دے حقله به مختصر دوره اُوابُوچه
دَ مغرب دَ فلاسفو تحقیق کوم چه دَ نن صبا دَ حالاتو
په ښادے. دا ظاهروی. چه انسان صرف دَ مادے
نه عبارت نه دے. بلکه هغه دَ مادے نه زیات نور
څۀ هم دے. چه په دے حقله په تیرو شوو صفحو
کښے دَ مادے اَؤ شعور په حقله ډیر څۀ لیکلی شوی
دی. خلیفه عبدالحکیم مرحوم صحیح لیکلی دُو. چه
"که چرے انسان یوازے مادی وجود دئ نو دَ هغه
به دَ ژوند مقصد صرف دَ قوت اَؤ صحت په ځائے
ساتل وُو. اَو کوم لارے چه هغۀ ته مقصد ته
رسولے هغه به دَ جسمانی قابلیت لاره وه. خو دے
څیز به هغه (انسان) دَ نورو حیوانا تو نه هیچرے
نه وُو ممتاز کړے. دَ انسان امتیازی وصف دا دے
چه هغه یو باشعور اَؤ دَ عقل خاوند نفس لری.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځکه نو د هغه د ژوند مقصد د عقلیت او شخصیت اصلاح او ترقي پکار ده."

ارسطو د فلاسفو د متفقدوا څه لذتیت او مسرت په حقله لیکی چه "بې شکه د ژوند مقصد د لذت او مسرّت حصول دے. خو پوهیدل پکار دی. چه انسان د نورو حیواناتو نه په کومه بنا د امتیاز خاوند ګڼلی شویدے؟ هغه صرف د عقلی جوهر په وجه د نورو حیواناتو نه ممتاز دے. د دے د پاره ضروری ده. چه د هغه په نظر کښے د د مسرّت او لذت حیثیت هم عقلی دی."

او دا خو ظاهره ده. چه کوم وخت موږ د خپلو جسمانی ضروریاتو په تسکین کښے بوخت یُو. نو موږ د حیواناتو په درجه کښے یُو. خو چه کوم وخت عقلی امورو ته مخ کړو او په فطرت کښے تصرّف اوکړو. نو معلومه شی چه که څرے موږ کټ مټ مادی دے. نو د مادی فطرت مخالفت به موږ نشو کولے. کوم چه زموږ اصل دے. بلکه د نورو حیواناتو په څیر به د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جبلّت په اِشارو چلیدو. خوشحال دا دے چه مونږ دَ فطری اَو جبلّی تقاضو دَسمبالولو قدرت لرو. هم دَ دے نه چه متأثر شو. نو سادتر اَوُ نورو فلاسفوُ اَوُ وَیل چه په انسانی وجود کښے بیشکه یَو اجنبی عنصر داسے شته چه دَ مادی فطرت جزو نه دے. سره دَ دے چه دا فلاسفه زیاتره ملحدان اَوُ مشککان دِی. خو په دے ئے دا اعتراف کړیدے اَو هم دغه عنصر یا جزو انسانی رُوح دے. کوم چه دَ انسانیت سرچینه دے.

انسان څو څو کرته حیوانیت مغلوب کړے هم دے. څو ځونکه چه وَئیلی شوی دِی. هغه دَ معمولی انسانی کمن ورتیا اَو غلطئ په وجه. خو بیا غالب شوے دے. اَوُ دَ دے نه علاوه نور دِجوهات هم کیدَے شی. چه په هغو کښے دَیو ذکر مناسب نهٔ. دا ضروری نه ده. چه تاسو دِ درسرهٔ متفق شئ. اَوُ هغه دا چه انسان په هره لحظه دَ آفاقی پرتَو نو نښکار هم پاتے شوے دے خو دَ هر انسان ذهن دَ دے نظر یئے تل ته نشی رسیدے.

اَو هغه داچه کله هم موږ انسان دَ ټول مخلوق نه ترقی یافته ګڼو. خو دومره فکر نه کوُو. چه په کائیناتو کښې داسې نور مخلوق هم موجود کید ے شي. چه سمدستی په امکانی توګه دَ انسان نه زیات ترقی یافته وی. ځکه چه انسان دَ ټولو نه وروستو پیدا شوید ے. بلکه زموږ خو په د ے پوره یقین د ے. چه داسې مخلوق موجود د ے چه دا وخت دَ انسان نه زیات ترقی یافته د ے. اَوُ دَ هغه ترقی یافته مخلوق سره دا ویره هم ملګر یده. چه چرته انسان دومره ترقی اُونه کړی. چه په هغو غالب اَوُ دَ هغو په دُنیا قبضه اُوکړی. داسې معلومیږی چه په د ے نظریه حکیم الامت علامه اقبال مرحوم هم عقیده ده. ځکه خو ئې فرمائیلی دوُ چه سه

عروج آدمِ خاکی سے انجم سہمے جاتے ہیں
کہ یہ ٹوٹا ہوا تارا مہِ کامل نہ بن جائے

دَ نو ے زمانے مادیت زپلی انسانان کید ے شي چه په د ے نظریئه پور ے ټوقے اَو خندا اُوکړی. خو موږ به عرض اُوکړو چه ترڅو دَ هغوئ حیوانیت مغلوب

شوی نه وی. دَ هغوئ په ذهن کښې هغه یَوه خبره هم
ځائے نشی موندے. کومه چه دَانسانیت دَ ډېرو نه
ناوتلے وی. اَوْ داځکه چه که حیوانیت دَ انسانیت خیالات
اَو تصوّرات قبول کړی. نو بیا خو هدو څه هم کړه نه پاتے
کیږی. حقیقت دادے چه دَانسانی ترقی اَوْ دَانسانیت
دَ غلبے نه مُراد دَانسانی اِرادے ټینګار اَو استحکام دے.
ځکه چه انسانی "اَنا" دَارادے دَ کمزور تیا په وجه
دَ حیوانیت په قبضه اَوْ په تسلّط کښې وی. هم دغه انسانی
"اَنا" چه مونږ ورته دَ لوئے څښتن دَ ذات یَوه پلوشه
دَ ئیلی وی. ضروری دَه. چه دَ هغے اِرادہ دا سے وی.
چه هغه دَ لوئ څښتن دَ اِرادے ترجمانه اُوبللے شی.
اَوْ داخو ښکاره دَه چه کائینات دَ لوئ ذات دَ اِرادے
مظهر دے. په کائینات کښې چه کوم تغیّر تبدّل اَوْ ترقی
اَو اغطاط لیدلے کیږی. دا قول دَ لوئ څښتن په اِرادہ
کیږی. دَ لوئ ذات اِرادہ په کائینات کښے منعکسه کیږی.
اَو دا مادی کائینات دَئ څه شیز؟ په دے ورو ستۍ مرتبه
کښې دَ طاقت اَوْ توانائۍ آخری جامد صورت. دَ دے

توانائۍ مرکز کوم دے؟ صرف مطلق ذات. هغه "شعورِ اکبر" چې مونږ ورته دَ مادے خالق یا څوکَند و نکیٔ وایو. ځکه مونږ ورو ستو وَیلی دی. چې توانائۍ یا طاقت یَو صفت دے. اَو صفت بغیر دَ موصوف نه هیڅ فعّالیت نهٔ لری. دَ هغه شتهٔ اَوْ نشت برابر دی. هغه هیڅ مستقل وجود نه لری.

اُوس غور پکار دے چې دَلوئ ښتن په اِرادہ طاقت په حرکت کښے راځی. اَو دَ لطاقت نه په کشافت کښے بدلیږی. دا صفت په خپل فعلیت کښے مختار نهٔ دَے. اَو دَ هغه نه چې څهٔ ظاهریږی. اَو صادریږی هغه دَ لوئے ښتن په اِرادہ بظاهریږی. اَو په آخر کښے چې د ارتقا دَ انسان وجود ته اُورسی نو په هغه کښے دَ لوئ ښتن اِرادہ په ښکاره ډول ظاهره شی. ځکه څرګنده چې په اُونه کښے دَ تکمیل نه پس تخم څرګندیږی. دَ مطلق ذات هغه پلوشه چې دَ هغهٔ صفتونه په مجمل ډول په انسانی وجود کښے ظاهر کړی. دَ انسان اِرادہ دَ نباتاتو اَوْ حیواناتو په شیرنه یوازے طبیعی اَو شعوری

بلکه علمي اَوْ عقلي هم دِي. نو که چرې انساني "اَنا" د حیوانیت د جغ نه آزاده شي. نو ښکاره خبره ده چې څرنګه د لوئ ښتن په اِرادې په ماده کښې تغیّر اَوْ تبدّل راځي. هم دغه شان به د انسان اِرادې هم په کائنات کښې د تصرّف کولو قابله وِي. زمونږ مادیت زپلي خلق که څه هم د انبیاءُ اَوْ صلحاءُ د تصرّفاتو او اِرادي قوت قایل نه دي. خو هغوئ د هپناټیزم د تاثیر خو پوره پوره قایل دي. ځکه چه د دې فن ماهر اَوْ عامل د خپلې اِرادې په قوت په یو انسان باندې خوب اَوْ بیخودي راوستلے شي. نو ایا دا نه د هغه عامل د "اَنا" تصرف ظاهرېږي که نه؟ یقیناً ظاهرېږي. او که د یو بل عامل دا ارادے قوت د هغه نه زیات وِي. نو هغه یقیناً زیات تصرّف کولے شي. موږ ویږو دا سې انسانان په خپلو سترګو لیدلي دي. چه په سوڼو میلو نو کښې د نورو انسانانو په وجود کښې تصرّف کولے شي. اَوْ زمونږ په دې خبره داسې یقین دے. لکه دوه اَوْ دوه څلور

اَوْ که چرې مونږ د داسې انسانانو حالات تیکل غوره

اوکړو. نو د دے د پاره به د پو بیل کتاب ضرورت وي.
خو دا مسئله چه زمونږ د موضوع سره تړلیا دی تعلق نه لري
ځکه نو دا بل وخت ته پریږدو.

د دنیا لویو لویو فلاسفو د ارادے د قوت ستائینه
کړیده. او د انساني شخصیت د تکمیل د پاره ئې لازمه
ګڼلے ده. او هرکله چه د انسان په اراده کښې ټینګکار او
استحکام پیدا شي. هغه د حیوانیت د جغ نه په آساني سره
خلاصیدے شي. ځکه نو مونږ په دے خبره نه لغزیدونکي
یقین لرو. چه په ځنې فلکي اجرامو کښې داسے مخلوق
هم موجود دے. چه د انسان نه زیات ترقي یافته
دي. او هغه دا نه خوښوي چه انسان دومره ترقي
اوکړي. چه د هغو د پاره د خطرے سبب شي. ځکه
هغوئې په مونږ انسانانو د ارادي قوت پرتو نه غورزوي
د دے د پاره چه مونږ همیشه په خپلو کښې مشت
او ګریوان یو. او د دے هدو قابل نه شو.
چه د کائناتو په تسخیر کښې د کامیابۍ سره تو غاړه شو.
دلته دا سوال پیدا کیږي. چه هغه ترقي یافته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مخلوق مونږ په کومه طریقه په خپلو کښې سره جنګوی.
نو عرض دا دے چه دَ غوړ وړه خبره دا ده. چه دَ
انسانانو دَ یَو بل سره دَ مشت اُوګریوان کولو دَ پاره
کومے ذریعے کیدے شی. اَو دَ هغوئ تو مینځه دَ نفاق
اَوُ اختلاف کروندؔ څرنګه اَوُ په کوم دول کیدے شی؟
که مونږ حیوانانو ته په غوړ اُوګورو چه سری هم پکښے
شامل دی. نو معلومه به شی چه دَ هغوئ په خپلو
کښے دَ دښمنۍ اَوُ جګړے بُنیاد صرف حیوانیت دَے
لکه څرنګه چه دَ یَو څو مسپو په مینځ کښے دَ خوراک
څیزونه اُوغورځولی شی نو به هغوئ کښے جنګ شروع
شی. ځکه چه په هغو کښے به هریَو دا غواړی چه دَ ټولو
نه اَکا هو هغه دَ خوراک څیزونه ځان ته اُوخوری.
د غه شان به انسانانو باندے هم چه دَ حیوانیت غلبه
وی. نو دَ هریَو دا کوشش وی چه په ټوله سرمایه
هم دَ هغهٔ قبضه وی. بیا که یَو سړے څه هم په معاشی
اَو اقتصادی لحاظ مطمئن اَوُ خوشحال وی. خو همیشه
ورسره دا فکر وی چه دا موجوده ذخیره.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

به يوه نه يوه ورځ ضرور ختمه شي. ځکه نو هغه دَ خپلو ضرورياتو
نه زياته ذخيره کول غوره کني. نو داس که څوک دَ انسانانو
ترمينځه دَ جنګ اَؤ جګړے تخم غورزوی. نو هم دغه دَ
حيواني ژوند ساتونکی څيزونه دِی. کوم چه دَ جنګ
جګړے سبب کيدے شي. هم دغه زر، زن اَؤ زمين اَؤ دَ
دغو سره متعلق څيزونه دِی. چه کَه د غو نه بغير
حيوانيت نه مطمئن کيږی. خو که انسان په صحيح معنو کښے
انسان وَئ. نو دَ دنيا په ټول پيداوار کښے به ئے
دَ هر انسان برابر حق منلۓ وُو. توازن اَؤ تعادل به
ئے پيدا کړے وُو. اَو کَه دے نه پس چه هغه په غور
کتلے وَئ. نو ورته معلومه شوے به وَه چه اُوس هم
دومره زيات پيداوارى جنسونه پاتے دِی. چه دَ بوے
بلے دُنيا دَ انسانانو دَ پاره هم کافي کيدَے شي. زمونږ
په مزکه کښے چه لوئ خدائ زمونږ دَ ژوند کوم ضروريات
پيدا کړی دی هغه زمونږ دَ ضروریاتو نه ډير
زيات دِی. اَؤ دا هم يقيني دَه. چه دا څيزونه
به تر قيامته نه ختم کيږی. زمونږ دَ مزکے په مخ دَ نوؤ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُدِبو یَو څاڅکے هم نه دیٔ پریوتے. هم دغه اُدبهٔ دِی. چه بخارات تِرِ جوړ شی. داوزی. اَوُ بیا دَ ورېځې په شکل کښې بېرته رااُووری. هم دغه لوګی دی چه سېزلی کیږی سکاره تِرِ جوړیږی. خو بیا پیدا کیږی. که دَ چا خیال دادِی چه دَ دے سکرو، تیلو، لرګو اَوُ دَ نورو څیزونو پیه سېزنو اَوُ استعمالولو به دا څیزونه ختم یا کم شی. نو هغه به غلطی دِی. په دنیا کښې چه کوم څیزونه دَ انسانانو ضروریاتو دَ پوره کولو دَ پاره پیدا شوی دِی. هغه به همیشه هم داسے موجود اَو حاصل دِی. اَوُ دَ مستقبل دَ ضروریاتو دَ پاره به هم چه اُوس ئے مونږ ته علم نشته دَ مزکے نه نوی نوی څیزونه راپیدا کیږی. هر کله چه مونږ ته ضرورت پېښیږی. انسانی ذهن به ئے درک معلوموی. اَو هم دَ دے مزکے نه به ئے حاصلوی. مونږ چه کوم څیزونه سېزو. اَوُ کوم چه به ظاهر کښې فنا شی دَ دے نه دا نهٔ دِی کښل پکار چه دَ هغوئ کمی به پوره نشی. په فضا کښې چه کومه لطیفه ماده موجوده ده - کومه چه ورووره دَ توانائی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ حالت نه دَ "انو" رَدَ ذرّے ذرّه) اَوُ بيا دَ پرمانو رايټم ذرّه) په صورت کښے بدليږی. اَوُ بند دېنج مزکے ته راځی. هم دَ دغو ذرّاتو دَ يَو بے خاصے اندازے دَ اتحاد اَوُ تناسب نه پس مختلف څيزونه ترکيب مومی. خو دَ انسان حيوانيت هم داکښې چه که دا څيزونه ضائع شول نو بيا به پيدا نشی. اَوُ هغه به محتاج اَوُ پريشان پاتے شی. خو انسانيت په دے راز پو هو دے. چه په دنيا کښے دَ هيڅ څيز کمی نشی راتلے. اَوُ که چرے انسانيت دَ حيوانيت دَ جغ نه خلاص شو. نو دنيا به په قول دَ يَو شو فلاسفرُ دَ جنت نمونه شی. دَ ژوندنه نول ضروريات به انسان خولا پريږده دَ حيوانانو دَ پاره هم ډير ډيری اَوُ هر انسان ته به دَ ارتقاء دَ پاره سازگار ماحول اَوُ دَ امن نه په ډکه فضا کښے دَ ساه اخستو موقع په لاس ورشی. اَوُ بيا به نو انسان دَ نوع په حيثيت دَ کائنات دَ مسخر کولو دَ پاره دَ يَو متحد انسانی مرکز نه قدم پورته کړی.

اُوس چه دا ظاهره شوه چه زمونږ دَ جګړو اَوُ اختلاف سبب هم دغه حيوانيت دے. نو معلومه شوه چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه د فلکی اجرامو هغه ترقی یافته مخلوق څه داسې پرتوونه غورځوی چه مونږ په خپلو کښې د یو بل سره جنګوی. دې ته به مجبو میانو او تردیتیا نو د ستوریو اثر ویل. او نن چه په نړۍ کښې د کائینات د تسخیر د پاره ډیر زیات اډکراډ کیږی. نو دا د حیوانیت یو ډیر لوئی تدبیر دے. هغه د دے علومو نه ناجائزه فائده اخلی. کوم چه د کائینات د تسخیر د پاره د انسان د وجود په آورو ډرو کښې موجود دی. او هم د هغې ذریعې د خپل عیش آرام او خوشحالی د پاره استعمالوی. او چه هر کله ئې اطمینان اوشی چه هغه خپل راکټ په کامیابۍ سره سپوږمۍ یا نورو سیارو ته رسولے شی. نو بیا هم هغه راکټ د خپلو هم جنسو د تباهۍ د پاره استعمالوی. او د کائینات د تسخیر د پاره منډے ترړے وهل به په ځائے پاتے شی. د هغې نه پس انسانی دنیا بیا د څه مودے د پاره په ځان ځانۍ او پریشانۍ کښې پرته وی د فلکی اجرامو ترقی یافته مخلوق زمونږ د حیوانی عنصر معاون او محافظ دی. کوم چه د انسانیت په مقابله کښې زمونږ

حیوانیت مرسته کوي. خو دَ دنیا په مخ داسې انسانان هم موجود دِي. چه دَ دې ترقي یافته ځلکي مخلوق تحریکات په ځان کښې جذب کوي. اَوُ کوشش کوي چه دَ هغو اثرات په نورو انسانانو پورې نه وزي. بلکه دَ هغو په خپل بوزخ کښې جذب اَو فنا شي. اَوُ هم دَ دې ایثار اَوُ قربانۍ نه دَ انسانیت دُنیا ته ډیره فائده رسي. خو سره دَ دې هم آفاقي پرتوونو پوره پوره ازاله نشي کولے.

نن صبا دَ دې پرتوونو یعني دَ اِرادي قوّت دَ کمزاروونو ډیر کثرت دے اَوُ په دنیا کښې یَو څو کامِل انسانان دَ دې په ازاله کولو بوخت دِي. دَ نن صبا دَ دې آفاقي پرتوونو په وجه انساني ذهن شدید فردیت اختیارولو په وجه په منفي ډول دَ دوکه کولو ښکار شوے دے. کوم چه دَ خالص الحاد دَ تقویت سبب شوے دے. الحاد اَوُ دَ خدائ دَ هستۍ تصوّر همیشه راسې څنګ په څنګ داخلي دِي. خو کله کله الحاد دومره قوي اَوُ مضبوط شي. چه

زیاتره لوئ لوئ د حداثے منونکی هم تر متأثره شی۔
کله چه هم د هغوئ زړونه د دے تأثرنه آزادی
خو په ذهنی طور د الحاد اثر ضرور کیږی۔ په خپله
دا تم الحروف هم چه ډیره موده کیږی د دے پوړ نونکی
چولی نه تیر شویدے۔ کله کله اوس د دے حلے نه محفوظ نه
دی۔ خو چه مثبت عنصر ئی غالب دئی۔ ځکه نو دا
اثرات هنګامی ثابت شی۔ او د دے نه زیاتره د یقین
د خاوندانو دماغونه متأثر کیږی۔ په زړونو ئے
هیڅ اثر نه پریوزی. ګویا کښے دا خلق هم د دے طوفانی
سیلاب ته هیڅ بند نشی جوړ ولے۔ خو سره د دے هم د
دے سیلاب مقابله په ډیره میړانه کوی۔ ځکه چه هغوئ
په شعوری او یقینی ډول دا علم لری چه د الحاد دا
اثرات د هغوئ د عملی او وجودی تأثراتو او جذباتو
سره هیڅ تعلق نه لری۔ ځکه چه د خارج نه په هغوئ
پیښیږی کوی۔ او دا هم د دغو پاکو خلقو د ځوان مردی
همت او د کلکے ارادے برکت دی۔ چه تر اوسه روس او
امریکے د اینتهی جنګ پیل اوس نه کړے شو۔ خو زمونږ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خیال دے چه کیدے شی. چه د آفاقی پرتو ونه په خپل مقصد کښے کامیاب شی. او عالمی جنګ اونښلی. خو دا جنګ به د انسانیت د حیوانیت په مغلوبولو او انسانی همدردی د شعور په زیاتولو کښے ډیر کار اوکړی. ځکه چه کله د دے جنګ د خاتمے نه پس به انسانیت لوئے خلا پیدا کړی. او د دے به انسانی علوم هم ترقی اوکړی. او انسان به د پخوا زمانے په نسبت انسانیت ته زیات نزدے شی. موجوده مادی ترقی به هم دلته اودریږی ځکه چه د انسان به ترے کوک پیدا شی. او دا یو حقیقت دے چه هر کله په دُنیا د انسانیت حکومت وی. نو بیا به د دغه مشینونو ته هډو ضرورت هم پاتے نشی. ځکه چه دا به ټول د حیوانیت پیدا وار وی. کوم به چه پوازے د انسانانو د هلاکت او تباهئ د پاره جوړ شوی وی.

د حیوانیت د غلبے بل سبب دا دے چه په دے دُنیا کښے انسانی "انا" نا بلده او د مسافر په حیثیت وی. او ځنګه چه دغه مسافر ژر ستړی شی هغه به ترڅو چه هغه یو میړنی او

د خپل وجود د اهميت احساس کوي. هغه د ماديت د
اثراتو نه مغلوب شوي دي. او هغه په حيث د نوع د
ماديت د اثر او نفوذ نه ځان نشي خلاصولې. که څه
هم يو څو انساني افراد د دې کلئي نه مستثنی هم دي.
ځکه د هغوي ماحول ټول ماديت زپلي دي او ماديت
نه تيزه اچول د هغوي د وس کار نه دی. دا به هله
ممکن وي چه د انساني تربيت د پاره يو مرکز پيدا شي.
چه په هغه کښې د انساني ملت يو لوي اکثريت په انساني
اوصافو خو متصف شي. او بيا د هغه مرکز نه د دنيا نورو
ملکونو ته د هغه ښاخونه او رسولي شي. چه د هغه د پاره
موږ پاکستان او بيا په تيره د پښتون اکثريت علاقه
خوښه کړيده. هم د داسې مرکز د قايمولو نه پس په يو
نظام کښې طبيعي رنگ پيدا کيدې شي. چه سقوط ته
به نه مائل کيږي.

دويم بنيادي اصول موږ دا ښودلې وو. چه هغه
د دنيا د هر انساني قام د فطري خوښتنو سره سم دي،
په دې حقله موږ څه د زياتو ليکلو ضرورت نه گڼو.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ظاهره ده چه ددوستو ذکر شوې انسانی اجتماعیت جوړشې نو په هغه کښې یقیناً د هر انسانی قام د غوښتنو لحاظ ساتلے کیږی. کیدے شی چه څوک اعتراض اُوکړی. چه د هغه نظام بُنیاد به په اسلامی اُصولو ایښې شوې وی او د دنیا ټول قامونه د اسلامی اُصولو سره متفق نه دی نو په داسے حالاتو کښے د یو انسانی اجتماعیت قیام څنګه ممکن کیدے شی.

عرض دادے چه دا صرف غلط فهمی ده. د اسلامی اُصولو نه مراد صرف د مسلمانانو اُصول نه دی. بلکه د دے نه د انسانی فطرت قدرونه او اُصول مراد کښل پکار دی. کوم چه یوازے د انسانیت ترجمان دی. اسلام د نورو دینو نو په خلاف څه د نوی اُصول سره نه دے راغلے. بلکه د زمانے په مختلفو دورونو کښے چه کوم وخت انسانانو د انسانی قدرونو بُنیادونه اړول نو لوئی خدائے د وحی په ذریعه انسانان بیا هغو قدرونو ته متوجه کړل. د اسلام معنی ده د خدائی حکمونو ته د تسلیم سر ښکته کول. سلامتی او امن پیدا کول. یا

دا چه د انسانیت د سلامتۍ اُصول بیا ژوندی کول
مونږ که د اسلامی نظام ملګرتیا کوو نو صرف د دې دپاره
چه انسانانو چه د حیوانیت په لمسه کوم حقیقت پرې
ایښې دے - اَوْ لوئ خدائ بیا د انسانانو توجه دے خوانه
راګرزولے ده نو هغه یوازې اسلام دے - چه هغه
انسانی قدرونه اَوْ اخلاق بیا قایمول غواړی - کوم
چه د دنیا د ابتداء نه هم د انسانانو د اجتماعی ښیګړے
اَوْ سعادت د پاره لازم دی - اَوْ ځکه هغه د دے قابل
دی - چه د دې طبیعی فطری انسانی نظام د قایمولو سبب
شی - د دے په مقابله کښے د دنیا په یو ګټ کښے هم
د ژوند یو داسے ضابطه موجوده نه ده - چه د
بین الانسانی اَوْ آفاقی اُصولو ترجمانه شی - د دُنیا نورو
قامونو څه که مذهبونه هم شته دے نو هغه د دین
فطرت مسخ اَوْ ګډ وډ شوی صورتونه دی - چه په
هغو کښے نه خو د لوئ ښتن د ذات پوره پوره تصور
موجود دے اَوْ نه د انسانی وحدت -
زمونږ په مطالعه کښے چه کوم مذهبونه راغلی دی

په هغوکښې یو هم د دې اهمې مسئلې حل نه وړاندې کوی. د دې په خلاف په اسلامی اجتماعیت کښې هغه هر څۀ موجود دی. چې په هغو سره د انسانی ارتقا خوبې رښتنې ثابتیدے شی. اسلامی اجتماعیت هیچرې څوک د مذهب په بدلولو نه مجبور کوی او نه د چا په ذاتی مذهبی عقائدو کښې څۀ دخل ورکول روا گنی. نن چې موږ تر سائنس دا اولیدلی چې د نمر د اثر په دائره کښې چې کوم ستوری دی. کوم چې د نمر نه چاپیره چورلی او د هغه متابعت کوی. نو هغه صرف په دې وجه چې هغه د نمر په متابعت کښې ژوند مومی. لیکن نمر هیچرې د هغوی انفرادیت بلوخته نه دی کړې. د هر ستوری خپل اثرات خپله فضا او مخصوص ماحول او خواص دی. د یو فضا د بل په څیرنه ده او نه هغه رسی اثرات او د پودلید و دائره لوړ و نه ورته ده. خو سره د دې هم هغوی د نمر متابعت کوی. او نمر هم د هغوی په خپل اجتماعی نظام کښې اتحاد غواړی. د هغو انفرادیت نه فنا کوی. بالکل هم دغه شان انسانی طبیعی اجتماعیت هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ګنهل پکار دي۔

افلاطون دې حقيقت ته اِشاره کړېده. خو دُنيا خَرَ غوږ پرې اُونه ګرزُولو. هغه ليکلي دو چې "که چرې انساني نظام دَ ذياضاق اُصولو په دنا کښې جوړ شي. نو هغه به دَ سقوط اَوُ زدال نه په اَمن وِي" اَو دا ځکه چه هغه به دَ انسانيت په ښينا دونو جوړ شوے وِي. اَوُ دَ انسانيت اُصول په ټولو انسانانو کښې منلي شوي اَوُ يو شان دِي ځکه نو هيڅ" وجه نشي کيدې. چه دَ دُنيا انسانان دَ مذهب اَوُ مِلت دَ جُدا والي سره هم په هغه نظام کښې څَهٔ غيريت يا پردي والي محسوس کړي. اَوُ بيا ورسره اتفاق اُونه کړي. اے چه په خواني اسلامي نظام کښې غير مسلمانان نه اُوسيدل؟ که دَ تاريخ مطالعه اُوکړے شي نو معلومه به شي چه په هغه کښې دا سے غير مسلمانان هم شامل وُو. چه کوم وخت مسلمانان تړِ تلل اَوُ هغوئ ئې دَ خپلو عزيزانو رحم ته پرېوازے پريښودل نو هغوئ په ژړا ژړا خواستونه کول چه هغوئ دَ دَ خپلو ظالمانو دردونو رحم ته پرېوازے نهٔ پرېږدِي.

کڅهٔ هم هغه غیرمسلمانان ذمیان د اسلامی اُصولو سره
متفق نه وُو. خو د هغه اجتماعیت سره متفق وه کوم
چه سراسر په انسانی بنیادونو جوړ شوے وُو. د هغه
نظام د سیاسی معاشی او ملکی نظام د اُصولو سره
هغه ټول ذمیان متفق وُو. هغوئ ته په هغه نظام
کښې د خپلې ترقۍ او تحفظ پوره پوره ضمانت حاصل
وُو. او هغوئ دا ښه محسوس کول. اسلام خو په جهر
وائی چه لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ. او لَا اِكْرَاهَ
فِي الدِّيْنِ. خپل اصول او عقاید چه د چا هر ډول
دِی. هغه ته د هغه ذاتی معامله وائی. خوښ دی ده چه
حکومت داسے دِی چه په هغه کښې د هرے انسانی
غوښتنې د پاره د اطمینان او تسلی ضمانت موجود وی
او زموږ دا یقین دے چه د دے ډول اجتماعی نظام
صرف د اسلامی اُصولو د لاندے قایمیدے شی.
او تر کومه حده چه د دنیا د مذهبونو د مطالعې تعلق
دے. موږ د تردید د ویرے نه بغیر وئیلے شو
چه د امن او سلامتۍ د دے پاکے ضابطے نه بغیر دنیم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صحيح مذهب د انساني سعادت او په قول د افلاطون
کمال او جلال ته رسونکې او لار ښوونکې موجود نه
دے. ځکه چه ځينې نور مذهبونه د روحاني ژوند د
تکميل د پاره ترڅهٔ حده مفيد ښادلے کيدے شي خو
هغه د مادي ژوند په توڅ کيښې ناکامه ښکاري.
عيسايانو د عيسائيت د پريښودلو نه پس مادي ترقي
کړيده. دغه شان په هندوانو کښې د آريا دهرم والو
م د حنبل خمرهٔ اُصول شاته غورزولي دي. او بيائې
د دے نه پس د مادي خوشحالي په لور قدم پورته
کړيدے. بلکه هغه او نور مذهبونه د اسلام د
اُصولو نه استفاده کوي. او ورو په ورو اسلام ته
را نژدے کيږي. برنارډ شاه چه وئيلي وُو. چه سل
کاله پس به نوع بشر مجبوراً د اسلام د ژوند ضابطے
ته مخ کوي. هغه ئې بالکل صحيح وئيلي وُو. اسلام چه دين
فطرت دے. او د هغه ټول اُصول د فطرت د قانون
ترجمان دي. ځکه نو انسان مجبور دے چه هغه د
فطرت قوانينو نه سرښکته کړي. ځکه چه د فطري قانون

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په خلاف ژوند کول په نتیجه کښے هلاکت اؤ تباهي پیدا کوی.

په دے زمانه کښے دَ یهودیت ترقی کول اؤ دَ انسانی قدرونو په ساتنه کښے کامیابیدل خوهلو دَ بحث نه خارج دی ځکه چه دَ یهودیت په سخته اَو غوټه زیزه مزکه کښے دَ رحم اَو شفقت پیدا کول دَ یاده خو حضرت عیسٰی میعوث شوی وُو. چه یهودیانو ددسره کوم عمل اُوکړو.

اَؤ چه دا یَو حقیقت دے چه دَ انسانیت کمال صرف دَ اسلامی اُصولو په پیروی کولو حاصلیږی نو هم دغه وجه ده. چه دَ لا مذهبه فرقو اَؤ دَ هغوی دَ منونکو له خوا سخت مخالفت هم دَ دے اسلام کولے شی. وجه دا ده چه دَ نورو مذهبونو اصلاح اسلام کړیده اَؤ اُوس یوازے هم دغه اسلام دے چه دَ آدمؑ نه تر دے دمه دَ انسانیت مذهب پاتے شویدے. دَ مخالفانو دَ غشو کل زبری پاتے شوے دی.

یَو عقلمند چه په دے هم غوړ اوکړی نو مقصد

ته رسيدے شي. چه په کوم نظام کښے چه دَ حيوانانو
او حشراتو دَپاره هم سنبکره اَوُ دَ رحم جذبه موجوده وِی
دَ انسانانو دَپاره به وَلے نه وِی! بيا اسلامی نظام
ځکه هم دَ هر قام اَو دَ هر خيال دَ انسانانو دَ غوښتنو
سره سم دے. چه دَ هغه بنيادونه په انسانيت ايښی
شوی دی. اَو هغه دا سے چه اسلام دَ انسانانو ترمينځه
دَ طبقاتی لوړتيا قايل نه دے. اسلام يوازے هغه قام
يا فرد ته اُوچت دا قدر اَو فضيلت ورکوی. چه کَد دے
فطری اجتماعيت سره متفق اَوُ دَ خدائی په فطری قانون
عمل کوی. کوم چه دَ نورو انسانانو سره په ښکره کښے
دَ نورو نه مخکښے وی. دَ علم عقل اَو تدبر په لحاظ
ښکلی وی. يوازے په دے نه چه هغه دَ يو خاص قام
قبيلے سره تعلق لری. انسانان تول دَ يو نسل سره
تعلق لری. نسلی برتری ښودل دَ حيوانيت يو چال دے
او په اسلامی اجتماعيت کښے دَ هغه دَپاره هيڅ ځائے
نشته. هر کله چه دَ حيوانيت نشه اُوتښتی. نو دَ هر
انسان دَ ضمير سترګے به اُوغړيږی. اَو هغه به

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

محسوس کړی. چه نور انسانان هم د هغهٔ نه په هیڅ
څیز کښې کم نهٔ دی. هغه به پوره شی چه د انسانیت
نیږ ید ونکی ټول اخلاق د هر انسان د فطرت سره
ګډ دی. هر انسان ترقی کول غواړی. اؤ څوک چه
د هغه په ترقه کښې آړ شی - په دے ډیر خفه کیږی. چه
انسان ترخهٔ حده د خپل ځان د پاره ذاتی پنګه اؤ ملکیت
حاصلول ضرور ګنی. خو چه هغه کوم وخت د حیوانیت
د جغ نه خلاص شی. نو هغه به صرف د ورځ حاصلول
ضروری ګنی. څومره چه د هغه د ضروریاتو د پاره دی
دی. اؤ چه د انسانی اجتماعیت اُصول داسے دی کوم چه
د انسانیت ترجمانی کوونکی دی نو په هغه نظام کښې به
د هر انسان د پاره یو شان د ترقی کولو موقع موجود ے
دی. د دین اؤ مذاهب اختلاف به په هغه کښې هیڅ دخل
نه ورکوی.

دریم سوال دا دے. چه" هغه انسانی اجتماعیت د فطری
جمهوری طرز اُولری؟" چه په دے حقله موږ په تیرو
صفحو کښې اشاره هم کړیده. اؤ هغه دا چه د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اقتدار حاصلولو جذبه د انسانی "انا" سره د ازل نه منکرے داخلے ده - او په بیده کوشش کولو هم نه کیږی نه. دغه داده چه لوئی خدائے انسان د سرته د نظم او ضبط دپاره پیدا کړے دے - هغه ئې په خپلو صفاتو نما خلق دے او د خپل لا محدود علم نه ئې ورته وافره برخه ورکړیده. د دے دپاره چه هغه د کائینات د څیزونو حفاظت اوکړے شی. او د هغو دپاره دا سے موقعے پیدا کړے شی چه د کائینات نور څیزونه د خپل خپل فطری استعداد او طبیعت سره سم ترقی اوکړے شی د دے دپاره د څیزونو پیدا کولو چه کوم غایت وو - هغه متصود پوره شی د دنیا یو څیز هم که هر څو په صفاتی ډول د بل څیز په شان نه وی. خو د هر څیز د نورو څیزونو سره یو نه یو کیدونکے ربط او تعلق دے. ځکه چه کائینات د یو وحدت نه عبارت دے چه د هغے یو جزو هم د بل نه بے تعلقه او جدا کیدے نشی. که موبز کائینات یو کارخانه یا مشین اوګڼو نو د هغه مختلف څیزونه به د پرزو په شان ګڼو. پرزے که څه هم د یو بلے په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مقابله کښې امتيازي وجود لري. چه په هغو کښې دَ هرے
پُرزے جدا جُدا کار وي. خو دَ هغو ټولو پُرزو په متحده
عمل دَ مشين د فعاليت مدار دې. دَ هغو ټولو پُرزو
مختلف جريانات دَ يَو اجتماعي کيفيت دَ پيدا کولو سبب
دِي. خو دا هم يَو حقيقت دے چه دَ مشين دَ پاره يَو
د دابُور يَو چلوونکے هم وِي او تر څو چه چلوونکے
موجود نهٔ وِي مشين يَو بے کاره څيز پاتے شي که چرے
په کائنات کښې يَو غايت اَو مقصديت پټ نه وے. اَو
دا په خپله پيدا شوے وے لکه چه ځنے ملحدان وائي
نو دا کارخانه يا دا مشين به هم دغسے چليدو اَو انساني
وجود به هډو پيدا کيدو نه. داځکه چه هډو دَ
انساني وجود پيدا ونبت دَ دے حقيقت نه پرده پورته
کوي. چه په کائنات کښې نظم اَو ضبط دا وستل دَ لوئ
خښتن منشاء ده اَو غايت ئې دَ افرادو ترقي کول دُو.
د دے دَ پاره چه دَ ټولو دَ ارتقاء يَو اتحاد اَو دَ دے
اتحاد نه هغه منشاء ظاهره شي. کوم چه مونږ دَ مشين
دَ مثال نه وا ضحه کړيده -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوس صفا صفا معلو مه شوه. چه که لوئے ښتن دَ دنیا دَ نظام اَو په هغې کښې دَ نظم اَو ضبط اَو توازن دَ راو ستولو د پاره یَو منتظم پیدا کوُل غوره کنلیُ- نو دَ هغه په فطرت کښې به په لازمی توګه دَ اقتدار دَ حاصلولو جذبه پیدا کوُله اَوُ که داسې نه وئ نو انسان به هډو دَ دے قائِل نه وُو چه دَ څیز ونو په غایت اَو مقصدیت دَ پو هیدو نه پس په هغو غالب شوے دے ځکه چه نظم اَو ضبط خو دَ تسلط کوُ بو نه پس پیدا کیدے شی. اَوُ دَ تسلط دَ حاصلولو دپاره دَ اقتدار دَ جذبے ضرورت دے. تر څو چه دا جذبه موجوده نه وی. دَ انسان اراده به حیوانی خو وی. نو انسانی هیچرے نشی کیدے. ځکه چه حیوانی اراده په طبیعی او شعوری توګه په حرکت کښې راځیُ لیکن انسانی اِراده دَ طبیعی اَو شعوری سره سره په علمی اَو عقلی توګه حرکت کوی. اَو چه دا ظاهره شوه. چه دَ اقتدار حاصلولو جذبه دَ انسان دَ فطرت یَو نه بیلیدونکیُ جزو دیُ- نو که اوُس موږ دغه جذبه په جبر او زور سره حصاره کړو. نو دَ دے مطلب به دا وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې مونږ یوې لوئې او ویرونکې تباهۍ ته په دنیا د نازلیدلو بلنه ورکوو. او که داجذبه په خپل حیواني فطرت آزاد ه پریږدو نو بیا هم مونږ د یو داسې ویرونکي بحران د لاندې راځو. چې د نوع انسان په تباهۍ ختم کیږي په دواړو حالتونو کښې مونږ د نظم او ضبط د قایمولو هیڅ تصور نشو کولې. ځکه نو د دې صحیح حل دا دې چې څرنګه چې دا لوئی کائنات په اعتدال قایم دې هم دغه شان د انسان د اقتدار د اجذبه هم اعتدال ته راوستې شي. ځکه چې انساني فطرت د کائناتي فطرت سره د متفق کیدو نه پس ایله د خپل ژوندن د وظیفې د پوره کولو قابل جوړیدې شي او هغه داسې چې مونږ د انسان په فطري غوښتنو کښې څه اړیکي پوره نه پریږدو بلکه هغه ته داسې تربیت ورکړو چې هغه فطري انساني غوښتنې د انسانیت د اعتدال مدعا پوره او د حیواني لیسې نه په امان پاتې شي دغه [illegible] انساني اجتماعیت د تاسیس په دوران کښې به د دې فطري جذبې لحاظ په بنیادي توګه ساتلی کیږي. کوم خلق چې په مساوات مساوات او جمهوریت جمهوریت نعرې وهي ستړي کیږي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا په حقيقت کښې دَ حيواني انفراديت هغه نښې دي. کومې چې صحيح انساني زيادت او اقتدار نشي زغملې. او په اصل کښې دَ خپل اقتدار خواهشمند دي. چرته چې لوئې حاکميت دَ انسانيت په لاس نو کښې وي هلته دَ دې دول دَ نعرو هلو ضرورت نه پيدا کيږي. ځکه چې دَ انسانانو حقيقي تربيه شوې ټولې دَ قابل او کامل انسان انتخاب کول غوره ګڼي. او بيا دَ هغه په دې اقتدار او زيادت خوشال هم دي. او دَ هغه سره دَ حکومت په نظام او دَ ژوند په هره کشاله کښې تعاون او مرسته کوي. دَ افرادو دَ تحفظ دا مطلب خو نه دې چې دَ دې دپاره يو داسې اصول وضع کړې شي. چې يو فرد دَ خاندان نه خاندان دَ کلي نه، کلې دَ ښهر نه، او ښهر دَ ملک نه آزاد او خپلواکه اوګڼلې شي. دا خو ښکاره حيواني انفراديت دې کوم چې دَ انسان دَ فطري متمدن ذهنيت نه بيخي مخالف دې. ځکه چې څوک چې په صحيح معنو کښې انسان شي هغه دَ اجتماعي ژوند په قدر او قيمت پوه شي. که دا حيوانيت نه وې نو انسان دَ يو فرد دَ اقتدار مخالفت په دې وجه کوي. چې هغه په ټول آفاديت او خوشال دَ خپل ځان دَ پاره

مخصوص کړي. نو مونږ به دَ هغهٔ دَ دے خیال سره اتفاق اُوکړو. اَو ځکه به نو ورته اُووایو چه دَ افرادو دَ تربیه کُولو هڅو مقصد هم دغه دے. چه هم داسے افراد دَ حکومت اَو اقتدار دَ پاره تیار کړے شی. کوم چه ملّت یا اجتماعیت ته په خپل ذات اَو اِنفرادیت ترجیح ورکوی. اَو که دَ اقتدار دَ جذبے لحاظ اُونه ساتلے شی نو دَ فطری جذبے بندیزه به تُولو انسانی جذباتو کښے یَو داسے طوفان راولی. چه توازن اَو تعادل به ئے په چپو کښے لاهو شی. دَ اقتدار والے به حیوانیت ته په لاس ورشی. اَو دَ دے نه پس به انسانی افراد په ناجائزه طریقو دَ اختیار اَو اقتدار واگے په لاس کښے اخلی. اَو هیڅ طاقت به ورته په مخه کښے نشی اُودریدے. په دنیا کښے چه دَ څومره مقتدره شخصیتونو وجود مونږ ته ښوئیدے په هغو کښے زیاتره شخصیتونو په خپل هُنر دولت یا جبر دَ اقتدار په کوسه قبضه کړیده. په دنیا کښے چه دَ دے نه په خوا دَ حکومت څومره نظامونه جوړ شوی دی په هغو کښے هم دَ اقتدار واگے هم دَ داسے شخصیتونو په لاس کښے ښکاری. اَو ننَ هم دغه حال دے اَو هم دغه وجه ده.

چه انساني تربيت ته چه څومره اهميت ورکړی شوی وي نو ترڼن ورځې پورې هم داسې جمهوريت نه دی جوړ شوی چه د خلفائے راشدينو د عهد په شان تر ډېره حده پورې د انسانيت سره مطابق وي. سره د دې چه د هغوی خلافت ته هم خلقو دا مهلت ورنه کړو چه د انساني طبيعي نظام ټولې مرحلې او ډولې شي. خو سره د دې هم هغوی دُنيا ته د کامياب انساني جمهوريت شعور ورکړو. د دې په حقله طٰهٰ حسين مصري ليکي چه "انسانيت د تجربې او آزمېښت ډېرې مرحلې او ډولې د حکومت د تشکيل په سلسله کښې هغوی د اوچت نه اوچت الوت کړې دې. خو د غو تجربو او ترقيو سره هم څوک ويلې شي. چه ترڅو سره د پوره داسې حکومت تشکيل عملي شوې دې. چه په هغه کښې سياسي مِلّي غوښتنې هم هغه شان پوره شوې وي کومې چه حضرت ابوبکرؓ او عمرؓ د خپل خلافت په زمانه کښې پوره کړې ولې د ډېر تجربو نه پس نن اِلهٰ جمهوريت راغلو او هغه عوامو ته د انصاف يو قسط ورکړو د عوامو د اختيار دائره په ظاهره د عوامو په لاس کښې دي. خو په حقيقت کښې هيڅ نشته. تپوس دا کيږي چه عوام څه غواړي؟ څوک چه په څواب کښې اختلاف

پیدا شی او اختلاف خو کیږی نو فیصله د اکثریت په حق کښے
کیږی. او د اقلیت هیڅ پروا نه کیږی. په دے د دل اکثریت
ته موقع ورکوی چه هغه اقلیت تجزیه کړی.؛

د دے نه پس نو ظفر حسین کویا کښے ذمونږ د نظریئے تائید
کوی. او لیکی چه "د یو صالح حکومت په لټون کښے انسانیت
دا ټولے لارے چاڼ کړے او د حکومت د نظامونو هر ډول ډول
تجربے اوکړے. خو تر اوسه هغه مطلب ته او نه رسیدے شو.
تر اوسه د ظلم او ستم نه لاسه نړیا دا دردیدے شی. او انسان د
غلامئ او ذلت نه لاسه تنګ شو بیدے. هغه د یو داسے مستقیم
نظام حکومت په لټون دے چه انسانانو ته د آزادئ او انصاف
نعمت ورکړی. دا صحیح او د حکومت مستقیم نظام هم هغه دے.
چه اسلامی خلافت د حضرت ابوبکرؓ او عمرؓ په وخت کښے د هغه
د قائمولو کوشش کړے وو.؛

نو اے دا یه نښه نه وی. چه عوام د خپل مملکت
یا د دنیا د نظام واګے داسے لاسو نو ته اوسپاری چه د
هغوئ تربیت د صحیح انسانی اُصولو د لاندے شوئ وی.
چه د هغوئ د اقتدار فطری جذبه هم مطمئنه شی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او د معاشرې پر مخ تګ هم په صحيح ډول جاري پاتې شي د دې
د پاره ضروري ده چه د امعاشره د اعتدال د اُصولو پيدا
کيږي جوړه شي چه د افراط او تفريط نه خالي وي.

دا دوه هغه درې اُصول چه د يو صحيح انساني اجتماعيت
د پاره ضروري دي. او موږ په ابتداء کښې دا عرض کړې
وو. چه د يو جامع د پاره د يو محل ضرورت دے
چه هلته دا انساني اجتماعيت عملي کړے شي. او د هغه
د پاره موږ پاکستان او بيا په تيره د پښتون اکثريت
علاقې غوره کړے ده. خو په دے شرط چه هلته د اسلامي
نظام د جوړولو کوشش اُوکړے شي.

هيڅ شک نشته چه په دنيا کښې نور هم ډير اسلامي
ملکونه موجود دي. او بيا حجاز خو هغه ملک دے چه د
اسلام اُو نه هم هلته را توکيږ لے او ده ټې کړيږي.
او عرب قام فطرتاً هم د اسلامي اُصولو سره متحد دے.
او هم د دے قام نه اسلام تولے دنيا ته رسولے شوے دے
خو افسوس دے چه هم هغه عرب قام د اسلام نه ختم دا سې
ګليا دے لرے اُوزي. او په لږه موده کښې د هغه د بهيميت نه

دے طوفاني چپے داپورته شوے چه اُوس تر بيخي د غير اسلامي حرکاتو مظاهره کيږي. او هم په دے وجه هغه د خپل هر ګيرا تمنا ورنه محروم شو. خو تاريخ ګواه دے چه کوم وخت د عربو د جهاد جذبه په سرپيدو شوه د دے سره په پښتون ملت کښے اسلامي ولوله او جوش ښکاره شو. او په دے سلسله کښے پښتون تمام ځلانده ښونه قايمه کړه. ځکه چه پښتانه هم فطرتاً د اسلامي اُصولو سره متحد دي. د پښتون تمام پښتو نولي او اسلامي اُصول بالکل د يو بل په شان دي..

مثلاً د آزادي جذبه، ميلمه دوستي، مظلومانو ته پناه ورکول سخاوت، ځوان مردي، ميرنتوب، رواداري، د همسايه حقوق ساتل، او د چا احسان نه هيرول وغيره وغيره نو هم د غه سبب نه وُو چه کوم وخت هغوئ ته اسلام وړاندے کړے شو. نو هغوئ بغير د څه حجت غوښتلو د تمام په حيثيت اسلام قبول کړو. ځکه چه هغوئ په اسلام او خپلو قامي روايا تو کښے هيڅ غيريت نه محسوس کړلو. او دے يو شان والي هغوئ يو دم د اسلام غيږے ته اُورسول. دا سے ښکاريدل لکه چه د چا يو خپل

درک شوے څیز ورته ناشاپه په لاس ورشی ۔ دَ اسلام نه اګاهو
چه دا قام دَ زړه تشت اُوکوتم بُد ھ دَ تعلیماتو نه متاثر وُو هغه
دَ نړۍ په قامونو کښے دَ څه خاصے کارنامے په وجه مشهور نه وُو۔
اَو دا یے ښکاریدل چه هغه صرف دَ هکومیت اَوُ دَ غلامۍ په
فطرت پیدا شوے دے خو چه کوم وخت ئې اسلام قبول کړو
نو دَ هغه په مِلّی پلو کښے دَ ژوندیُو ه نوے چپه راپیدا شوه۔
دَ هغه اجتماعی روح لکه چه دَ پر کالی نه را ویښ شوے وُو۔
هغه دَ اسلام دَ تبلیغ دَ پاره په مستعدۍ سره راپا سید و
اَو دَ دے قام بادشاهانو اَو مونیا نو دَ دنیا په هره کَوټه
کښے دَ اسلام نغاره اُوغږوله ۔ ځکه نو اُوس په دے قام
کښے اسلام اَو پښتو نولی یَو څیز ګڼلی کیږی ۔ پښتون وائی
چه هیڅ سوچه پښتون دَ مسلمان نه بغیر بل څه نه وی۔
دَ هغوی په تهذیب، تمدّن اَو ثقافت کښے "پښتو" یَوه نه
فنا کیدونکے اصطلاح جوړه شویده ۔ دا یَو داسے لفظ
دے چه دَ پښتون قام دَ ټولو ذهنی اَو مِلّی رجحاناتو ترجمان
دے ۔ چه په اردو ژبه کښے دَ دے دَ پاره داسے لفظ
نشته چه مفهوم ئې پوره پوره واضح کړے شی ۔ "پښتو"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ دے تمام ژبہ ھم دَ دہ اَوْ دَ غیرت جذبہ ھم۔ دا بیاکثرو موقعو کښے دَ اسلام پہ بدل ھم استعمالیږی۔ اَوْ دَ تمامی روایاتو دَپارہ ھم۔

پہ پاکستان کښے ھم نور دے نور دے یَو کہ ور پښتانہ آباد دِی۔ چہ نہ یوازے دا چہ دَ اسلام خُوان مرد عسکر دِی اَو پہ اسلام باندے دَ سر اَو مال نہ تیرږی بلکہ پہ ختہ کښے ئ یَو روښانہ ذھن اَو دَ ایثار اَو وفا جوھر ھم دَ ځان سرہ راوړی دے۔ ھم دغہ پښتانہ یا افغانان دِی چہ حکیم الامت علامہ اقبال دَ عربو نہ زیات دَ ھغوئ نہ دَ اسلام دَ ترقی اُمید ونہ لرل۔ اَو دا ځکہ چہ علامہ مرحوم تہ معلومہ وہ چہ دَ عربو اَو پښتنو پہ روایاتو اَو فطری اوصافو کښے څہ ډیر فرق نشتہ۔ اَو مرحوم تہ دا ھم معلومہ وَہ چہ پښتانہ دَ عمومی کردار پہ حقلہ چہ ھر څہ دِی دَ اسلام پہ لار کښے بہ دَ هیڅ قربانئ نہ غاړہ اُونہ غړوی۔ - پہ پاکستان کښے بنګالی مُسلمانان پہ علم، هُنر اَو ایجاد اَو اختراع کښے خپل مثال پہ خپلہ دی۔ اَو دَ ټولونہ لوبہ خبرہ دا دہ چہ پہ دے کامل ملحدانہ دَور کښے دَ ژوندون لوسانہ[1] ھم چہ پہ

[1] چہ اوس دے وروستو لہ نہ جدا شوی وی۔ حمزہ

سیلاب کښې ئې زیاتره عرب قاموند هم بهیدلی دی. دَ پاکستان خلق دَ دے ملحدانه اَو مغربي ذ هینت نه ډیر کم اثر اخستې دے بیا دَ دے لږ تاثر په خلاف هم په ډیر زور سره جهاد شروع دے.

هیڅ شک نشته چه ځنې هغه پاکستانیان چه دَ مغربي تعلیم اَو تربیت دَ حاصلولو نه پس دَ اسلامي قدرونو نه تر یَو حده په ځنګ شوی دی. دَ دے معاشرے دَ پاره دَ بخونه کم نه دی. اَو که په پاکستان کښې هم دغه خلق پوله پسے دَ اقتدار په کرسیو قابض پاتے شول تونه یوازے دا چه دَ اسلامي نظام دَ جاری کولو کار به په ځائے پاتے شي چه هم دَ دے دَ پاره پاکستان جوړ کړے شوے وُو بلکه پاکستان به همیشه دَ بحراني حالاتو سره مخامخ وی. ځکه چه پاکستاني عوام دَ اسلام په اُصولو کلک یقین لری. هغوی دَ اسلام سره بے انتها مینه لری اَو داسے هیڅ نظام قبلولو ته تیار نه دی. چه وی خو بیخي غیر اسلامي اَو ظاهروئ اسلامي شي. دَ دغو متقدرد خلقو دلیل دا دے چه مغربي طرز حکومت نه بغیر ترقي نشي کیدے. ګویا کښې دَ هغوی په خیال

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې دَ سړي او ښځې حیواني آزاد تعلق، سینه په سینه دَ یو بل سره رقص کول او په موسیقی کښې مهارت او کمال پیدا کول دَ اسلامی اُصولو نه هیڅ مخالف نه دی. خو سره دَ دے هم په دے ملک کښې اکثریت دَ هغو خلقو دے چه په اسلام مئین دی. او که چرته دَ اقتدار واګے دَ هغوئ لاس ته ورغلے نو کیدے شي چه دلته دَ یو صحیح اسلامی معاشرے بنیاد ونه کیښودے شي. بیا دا خو هم ښکاره خبره ده چه نورو اسلامی ملکونو ته هم دَ دوستئ او مرستے لاس وراُږد کړي. نو که دَ دے دول حکومت جوړ شي او په هغ کښے دَ انساني تربیت احساس اُوکړے شي او ورته مې توجه هم ورکړے شي نو زمونږ یقین دے چه په لږه موده کښې به یو داسے په ترقی مین او تربیه شوے نسل دَ ملک دَ اقتدار واګے په لاس واخلي. چه په ملک کښې به دَ هغه انساني اجتماعیت دَ بنیاد کیږدی. چه مونږ ئې ذکر کړیدے. دَ دے انساني اجتماعیت بنیاد ونه به په ښکاره دول په طبیعي انساني قدرونو ایښي شوي دي. چه په هغه کښې به دَ هر انسان دَ ژوند او ترقۍ کولو ضمانت موجود وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَو څرنګه چه موږ په تېرو صفحو کښې دې حقيقت ته اشاره کړېده په پاکستان اَو په تېره دَ پښتنې اکثريت په علاقو کښې طبعي انساني اجتماعيت هله کاميابېدې شي. چه مقتدره طبقه ئې اسلامي مزاج اُولري ځکه چه په دې ملک کښې هم داسې حاکمان دَ اقتدار ګوسې ته راغلي دي چه نعرې به ئې دَ اسلام وهلې خو په حقيقت کښې به لامذهبه اَو دَ هيڅ اُصول پابند نه وُو. اَن تر دې چه دَ هغوئ دَ اقتدار په زمانه کښې دَ ښځو دَ آزادئ اَو لا مذهبئ مرض دومره عام شو. چه دَ انګرېزانو دَ زمانې نه هم مخکښې تېر شو.

په خوائنه حکمرانې طبقې دَ خپل اقتدار دَ قائم ساتلو دپاره دَ هرې هغې وسيلې نه کار اخستل جائز ګنړل کومه به چه دَ هغوئ دَ پاره بهتره وَه. هغوئ دَ جائز اَو ناجائز هيڅ خيال نه ساتلو په هغوئ کښې ځنې حاکمان داسې هم وُو. چه هغوئ دَ اسلام په مقدس نوم دَ ځينې قامونو ترمينځه دَ نفاق کرونده اُوکړه. دا خبره دَ يو صحيح اسلامي اَو انساني اجتماعيت دَ اُصولو نه بيخي مخالفه دَه. چه دَ چا په انفراديت بلوخته اَو تېرې اُوکړې شي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که دا تیرئ د قامي حیثیت وي. او که د ژبې سره تعلق لري
تو څو چې یو قام د ملک د اجتماعیت او د هغه د آئین سره
متفق وي. د هغه په انفرادیت ګذاره کول د دې اجتماعیت
د پاره خطره په بېړه اختتال دي. بیا دا هم څه بهتره خبره ته
ده چې د پاکستان د قامونو په سلسله کښې پښتنو د بل پاکستاني
قام نه کمه قرباني نه ده کړې! او د کشمیر د غزا خو هلاو
ژوند د پښتنو په قربانۍ او میړانه قائم ؤو. کوم چې د
پاکستان د تحفظ یو لوئ کوشش ؤو. خو سره د دې هم
د ملک څینې مفسدو خلقو د خپلو ذاتي غرضونو د پاره دا
کوشش کړو چې پښتنو او نورو پاکستاني قامونو کښې د
ورورولۍ او پیرزوینې تړون کلک نه شي. په اصل کښې
دا هم هغه خلق ؤو چې د ملک سره ئې صرف رسمي مینه کوله
د هغوی هڅو کار هم دغه ؤو. چې د پاکستان د مختلفو
قامونو ترمینځه د دښمنۍ اورکې کوونده اوکړي. د دې
نه هم انکار نشي کیدې چې د منافرت اورکې په بیدا کولو کښې
د ټولو پاکستاني قامونو غیر صالح عنصر ترخپل حده شامل ؤو.
خو غضب خو دا وشو کله چې د پاکستان په خوانو حاکمانو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے قامی او نسلی منافرت ته پټ په پټه نیږ باد ورکړ لو.
ترقی یافته قامونو ی د دروستو پاتے شوو قامونو په
ختمه سپړ دل. او په هر شان چه کیدی شول د دے کار
نه ئې غاړه نه غړوله. پکار خو دا ده چه دا تحریک ئے
په ابتدا کښے پخړی کړے وے. خو لیده شا منه هغوئ د دے
د پاره د پخو بنیادونو انتظام هم اوکړو. د دے د پاره
چه دا قامی او نسلی کوکه د دے اسلامی ریاست نه همیشه
په ډونډ یې د کور مړے جوړ دی. هغوئ د انګریزانو د هغے
زړے پالیسی نه کار وا خستو چه "بے اتفاق پیدا کوئ او
حکومت پرے کوئ." خواوس چه هغه حاکمان پاتے نه دی.
زمونږ په عمکینے د کامیابۍ لویه لار د ده. او هغه یوازے دا
نه چه دا یو مثالی مملکت جوړ شی. بلکه د یو حقیقی اسلامی
معاشرے په حیث د دے معاشرے دا هم یو ه اهم فریضه
ده. چه هغه د اسلامی دنیا د پاره یو ه بنه نمونه ثابته شی.
او د هغے توانین هم په اصولی ډول د هغو د پاره د لارے
مشال ثابت شی. بلکه د ټولے دنیا د انسانانو د پاره د امن
خوشحالۍ او ترقۍ ضمانت اوړ لری.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ شک نشته چه دلته به یو پاکستانی ملت وی. خو هغه به یوازے پاکستانی قام نه بلکه یو آفاقی اسلامی ملت وی. که دلته دَ اسلامی دنیا اَو عامو انسانی قامونو دَ ترقیٔ دَ پاره دَ یو ے انسانی جامعے تاسیس ممکن نشی. نو بیا چه دَ کوم مقصد دَ پاره پاکستان جوړ شوئ دَه. هغه به ختم شی. اَو بیا چه څه دَ عوامو رضا وی. هم هغه به کیږی. خو مونږ به دعوٰی سره وَ وایو چه که دلته دَ یو ے صحیح اسلامی جامعے قیام ممکن نه شو. نو نتیجه به دا وی چه په ملک کښے به دَ جارحانه قومیت جراثیم پرورش اَموی. اَو دا موجوده علاقائی اَو نسلی منافرت به انتها ته اُورسی. ځکه چه دَ زمانے هره چپه دَ ځان سره مخصوص اثرات اَو عوننتیجے راوړی. اَو ظاهره دَه چه دا روانه زمانه دَ خالص قومیت سره راغلے دَه. اَو دا دَ قومیت رُجحان چه فطری ښیږدے نو ځکه هغه زور اَور اَو قوی هم دے اَو تر څو چه دا فطری جذبه دَ دین سره یو ځائے نه کړے شی اَو دُ وړو جارحیت اختیاروی ځکه چه دا خو یوازے دَ اسلام دَ ژوند نظریه دَه. چه دَ دنیا ټولو قامونو ته په اجتماعیت کښے

دَ ځائے ورکُولو قابلیت لری۔ اَو سره دَ دے هم دَ هغوئ
دَ قامی اَو انفرادی ژوند حفاظت کوُلو ضمانت هم ورکوی۔
اسلام مختلفو ژبو، نسلونو اَو رنګونو ته آیات الله وائی
هغوئ په خپل اجتماعی نظام کښے شاملوی۔ اَو تربیت
ئے کوی۔ اَو هغه غیر صالح اَو مفسد عنصر تړلوے کوی
کوم چه دَ دے اجتماعیت سره د ګوه دی۔ دَ مختلفو
قامونو دَ پیدا و ښتې غایت په "تعارفو" کښے تعبیرکوی
دا لفظ یوازے هم دَ دے مدعا ترجمان نه دے۔ چه دَ
مختلفو قامونو دَ پیدا کوُلو نه دَ لوئے حذائی منشا دا ده۔
چه هغوئ دَ قومیت دَ اختلاف په وجه یَو بل اُو پیژنی۔
ګکه دا ترک دا عرب دا پښتون اَو دا سے نور۔ بلکه په
دے لفظ کښے دَ معرفت اَو پیژندنے یَو آفاقی مفهوم
پټ دے۔ په دے کښے دَ نړئ دَ قامونو ټول علوم اَو فنون
ثقافت اَو تمدن ادب اَو ژبه هر څه شامل دی۔ که
چرے مختلف قامونه وے نو نن به دا ډول ډول ژبے
وے اَو نه دا رنګ په رنګ علوم اَو فنون ۔

دَ نن پرون قومیت یعنی دَ عربو دَ هغه وحشی قومیت

شکل اختیار کړیدے. او دَ اسلام دَ ژوند دَ ضابطہ نہ بغیر هیڅ داسے آئین نشتہ چہ پہ دے رُجحان کښے اعتدال پیدا کړے شی. دا هم ولہ چہ پہ یو مزی کښے اُوپیږی دَ علاقائی تعصب او نسلی منافرت دا مرض چہ پخوانو حاکمانو خور کړے وُو. ترا اُوسہ بوخت دے دَ مِلّت قالبوت شیبلوی. او اُوس چہ یو څو ښکیالو او شریفو عسکرو دَ پخوانو حاکمانو دَ حکومت تختہ پہ ملہ آړولے دَہ او دَ جمهوریت نَی بیا ژوندے کړیدے. باید چہ دَ هغو حاکمانو غوره کړے تهذیب او تمدن هم دَ ملک نہ اُوبیستی شی کوم چہ دَ اسلامی اجتماعیت پہ لار کښے دَ یو سخت اړیکی حیثیت لوی. ضروری دَہ چہ دَ پخوانو حاکمانو هغہ تیری او زیاتی او پہ غلطہ لاره حکومت چلول دَ هغوئی پہ تلہ کښے ډِی او هغوی تہ هر وخت دا ښکاره ډِی چہ هغو حاکمانو دَ ملک دولت څرنګہ تالا کړے وُو. دَ تیځو بے لارئہ او بے پردګی زور هم دَ هغوئی پہ زمانہ کښے پیدا شوے وُو. او اُوس خو انتهاتہ رسیدلے دے. کہ چرے پہ پاکستان کښے دا طبیعی انسانی جامعہ تابہ شوه نو مونږ اُمید کوُ چہ نور اسلامی ملکونہ بہ هم

دَ دے نه فائده واخلی ۔ اَو انسانی نوع ته به دا موقع په لاس ورشی چه په اَمن اَو امان کښے ژوند اُوکړی۔ اَؤ بیا تول په ګډه دَ کائنات دَ تسخیر دَ پاره قدم پورته کړی۔

ختم شو۔

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# اشتهار

دَ دے نه علاوه دَ حمزه شنواری نور کتابونه دا دی

۱) انسان او ژوندون
۲) تذکره ستاریه
۳) دَ حجاز په لور
۴) یو شعر

---

## دَ موندلو درک

## پښتو لټریچر سروس

۳- ارباب روډ پېښور صدر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)